دَ کلام رحمان
پټې خزانې پټ اړخونه



مؤلف

پروفیسر ډاکټر میر حاتم

دَ کلام رحمان

پټې خزانې پټ اړخونه

مؤلف

پروفیسر ډاکټر میر حاتم

بسم الله الرحمن الرحیم

ټول حقوق د لیکوال په حق کښې خوندي دي

کتاب پېژندنه:

دکتاب نوم: **دَ کلام رحمان پټې خزانې پټ اړخونه**

د لیکوال نوم: پروفیسر ډاکټر میر حاتم

کمپوزنګ: حبیب اماني

چاپ کال: **2023ء**

چاپ شمېر: **500 ټوکه**

اشاعت: اول

پرېس: الاحمد انټرپرائزز پېښور 0345-9292470

بیعه:

رابطه: **0313-9253606**

د موندلو درکونه:

- 34 پروفېسر کالوني نزد زرعي یونیورسټي پېښور

فهرست

شمیر	عنوان	نمبر
1	**تقاریظ**	
2	ډاکټر محمد سراج سواتي	9
3	ډاکټر محمد علي عاجز	11
4	ډاکټر شېرزمان سیماب	15
5	کرنل (ر) ډاکټر محمد صفدر	17
6	سید کاشف باچا	22
7	تعارف	30
8	مقدمه	32
	باب: ۱	
9	همیشه به له مقام بې مقام وي	45
10	المقامات مکاسب والاحوال مواهب	45
11	توکل مې لاس پښې سره کړه په نکریزو	47
12	علامات د استغنا به ئې څرګند وي	49
13	بې خیرې مې کل په خیر باندې شمیرلی	53
14	څو تر مینځ ورانه نه کړې د تن پوله	55
15	معرفت د خدائی څرګند دی په هرڅه کښې	56
16	هغه زړه چې خدائی روښان که جام د جم شي	58
17	په هر دم کښې نوې نوې تماشه کړم	61
18	عاشقي نه ده که ګورې حیراني ده	63

شمیر	عنوان	نمبر
19	زه دا هسې لیونی و مجنون چا کړم	64
20	لیوني لره کمال دی چې سنګار شي	65
21	ولایت دې خدای هغو لره ورکړی	66
22	بې له الفت هر څه سر اوخوړو	69
	باب: ۲	
23	که مې چرې سوال په در د خدائی قبلېږي	74
24	صبح شام مې لاس نیولی دی دعا کړم	74
25	زه خپل آه آتشین له خدائی غواړم	84
26	زما نصیب شه ګرمې اوښکې تویول د صبا	90
27	درته وایم له آه پرهیز کړه	98
28	په آزار د چا راضي مه شه رحمان	104
	باب: ۳	
29	لا پخوا تر خلقو خپل ځان ملامت کړه	111
30	خود پخپله تله واخله عدالت کړه	111
31	چې لائق د ملامت او د تهمت شي	113
32	نه پوهېږي په خپل سود په زیان ولې	117
33	د ناپاکو چارې کاندې خو به ګرم شي	121
34	هغه زړه چې آئینې غوندې روښان شي	124
35	یو ساعت کښې ګدا شاه که شاه ګدا که	129
36	نه جار وزي تیر ساعت په بیرته بیا	132
37	دنیا یو هنګامه ده	134
38	زه رحمان به څو ژوندی په دنیا پایم	138

39	هیڅ نیمګړی په چا نه شو دا جهان	139
40	په مړو پر یواته د خاورو انبارونه	142

باب: ۴

41	خدای په خپل قدرت څوک لوی و څوک هلک کړه	146
42	سړی بو یه چې درون بیرون یې یو وي	147
43	څه په دا به عراقی و ترکی نه شي	148
44	د عمل په ځای به دا پښتنه نه شي	149
45	مه کړه خدای چې کوه طور شي کوه قاف	149
46	چرته زلمي جونه چرته کنډې یتیمان	152
47	بې هنر وګاؤ خر درې واړه یو دي	152
48	شهد نه دي چا موندلي له زنبور	154
49	ورځ چې بده شي عاقل و دانا څه که	155
50	له هر چا سره چې کړې هغه به مومې	156

باب: ۵

51	صد رحمت شه په روزګار د درویشانو	158
52	چې څوک قطب که څوک غوث کا څوک اوتاد	159
53	خزان نه لري بهار د درویشانو	160
54	ستا د درګدایان واړه بادشاهان دي	162
55	فقیري دا هسې چرې ده فقیره	163
56	که مې څوک په فقیری شمیري فقیر یم	166
57	په ملنګ باندې قلنګ و تاوان نشته	168
58	خرقه پوشو په خرقه کښې دی موندلی	168

59	خرقه پوشان ټول مست ؤو	172
60	رحمان بابا درویش خدا مست	176
61	هسې بې شرابو مست یم ستا په مینه	183
62	لږ تفاوت نه دی د رندی د زاهدی	192
63	د دې نور جهان په سر لکه آسمان یم	197
64	بادشاهي دګدایانو په دعا شي	202
65	ترکنځلو به ئې ځارکړم دغه خپل دعا سلام	206
66	معشوقې دعاشقانو دین ایمان دی	211
67	دیوانه به ده خندد و ده په دیوانه	213
68	میان عاشق و معشوق رمز است	215

باب: ٦

69	آدم زاد و حیوانات	217
70	په آدم کښې د حیوان خویونه هم شته	218
71	زه هرګوره خپل صنم پورې شرمیږم	221
72	حیوانات هم په تسبیح د خدای مشغول دي	221
73	هر مارغه پخپله جاله کښې همائي دی	223
74	مار چې سوړې لره ورشي ګوره سم شي	225

باب: ۷

75	ما د عشق په درس کښې نور څه لوستي نه دي	227
76	چې د یار زلفې رخسار مې په زړه نقش شو	227
77	خښ مې ستا د بڼو غشي په سینه دي	227
78	په زړه خوله لګوي مار د تورو زلفو	228

79	د بهار دګلو عمر مدام نه وي	229
80	کر دګلوکړه چې سیمه دې ګلزار شي	230
81	ای رحمان د بلبلو ژبه زده کړه	232
82	لکه شمع مستقیم په خپل ایستاد یم	232
83	پتنګانو له خدای ورکړو په اورکښې	234
	باب: ۸	
84	زه رحمان په پښتو ژبه عالمګیر یم	235
85	بې له عشق چې دولت یې مستدام دی	239
86	پیدا کړې خدای د سر دپاسه سر دی	242
87	بې سفر مې غوځېږي لار د عمر	243
88	دنیا کښت د آخرت دی	245
89	بې له خدای چې څه دي واړه فاني دي	246
90	سیرابي په سرچشمه د دنیا نشته	247
91	اخلاق حمیده	249
92	اخلاق رذیله	252
93	آجر واړه د عمل په اندازه وي	254
94	هر سکوت د بې طاقتو آه فریاد دی	255
95	چې ښادي یې یو زمان وي غم تر تل	256
96	د یوې ونې له ښاخه پیدا کېږي	257
97	چار پایان که غوبړ و سترګې لري څه شو	258
	باب: ۹	
98	همدمي د دوه همدمو هسې بویه	260

99	حافظ شیرازي: رحمان بابا	260
100	پیدایش و خاندان	262
101	ګیر چاپیره ماحول	263
102	تحصیل علم	270
103	سلوک و تصوف	272
104	د سلوک لار او مسلک	276
105	د صوفیانو ډلې ډلې	278
106	حافظ او عشق	284
107	زه عاشق یم سروکار مې دی له عشق	286
108	د حافظ شاعري اوکلام	289
109	د حافظ د شاعري شهرت	290
110	حافظ او قصید ګوئي	291
111	مے مطرب و میخانه د حافظ د زړه مرهم	295
112	ما به څه لره کوله دا انشاء	297
113	د رحمان د شعرکوکې په عالم دي	301
114	خپل قسمت د هر سړي جدا جدا دی	303
115	له قسمت خلاصیده د هیچا نشته	307
116	خزان نه لري بهار د درویشانو	309
117	د درویشانو دعاګانې قبولې دي	313
118	زه او یارکه په تن دوه په معنی یو یو	315
119	لکه ګرم دی بازار د درویشانو	334
120	دعا د مسلمان وسله ده	336
121	رنګ په رنګ ګلونه	337
122	مأخذونه	342

د کلام رحمان پټې خزانې پټ اړخونه

د میر حاتم خان دوستانه — زما سره ده دیرینه
څهٔ کم شپېته کاله بهٔ کېږي — چې را چلېږي یارانه
مونږه دیره وو په کلونو — یوه کمره کښې هم خانه
بیا کورونه مو په یو ځائ شو — هم مو یوه ده پیرخانه
اوس کالونئ کښې په یو ځای یو — شي ملاقات مو روزانه
په دوی کښې ډېر دي صفتونه — تاته به ښکاري افسانه
دے خپل نظر لري عمیق — دغه دستور د ژوندانه
کوي اعمال خپل په ترتیب — لري د عقل پیمانه
خپل ئې ژوندون د صفائي دے — وفاداري یې نشانه
د خپل دوستانو په خدمت کښ — کوي به شپې په ویرانه
د تصوف په فن ماهر دے — ورته عطا ده پروانه
که یې دلیل زمانه غواړي — اوګوره پټه خزانه
ده د رحمان بابا کلام — د خپل تحقیق کړو نشانه
پرې کتابونه یې مرتب کړل — ترې نه جوړئ کتب خانه
دا یو کتاب ډېر عجیبه دے — دي ده ژبه صوفیانه
د تصوف د باریکاتو — ده ده پرانستې مېخانه
د یو عنوان لاندې یې ځائ کړو — که وو اشعار دانه وانه

ده پرې نوټونه کړل تحریر — چې دي شي ورکه بهانه
په زور زېر کړل بیان — دغه نکات شاعرانه
د فارسئ ژبې اثرات دي — ترې پښتو نه ده بېګانه
دا فارسي ژبه دفتري وه — وه د مغلو زمانه
دا مدرسو کښ به لوستے شوه — ورسره وه جماعت خانه
خط کتابت به وه په دې کښ — د اُردو نه وه نشانه
که د سعدي وو کتابونه — که مثنوي د مولانه
که د حافظ وې هم غزلې — په صد انداز رندانه
په بابا هم د دوئ اثر دے — څوك به یې څه کړي بهانه
کله حافظ شي د شیراز — وائي غزلې مستانه
کله سعدي شي ترېنه جوړ — دلته یې ساز حکیمانه
کله په لاره د رومي ځي — بیا یې کلام شي صوفیانه
ده ترې حافظ دے راتینګ کړے — کړه یې قیصه د پندانه

سراج حاتم بابا د پاره
ځان نه جوړ کړي پروانه

پروفېسر محمد سراج سواتي
پروفېسر کالوني نزد زرعي یونیوستي پشاور
مورخه: ۲۲، اګست ۲۰۲۳ء
مطابق ۹، صفر ۱۴۴۵ بروز منګل

دا زيار

د ښاغلي ډاکټر ميرحاتم صېب دا کتاب چې په درې سوه يؤکم څلوېښت صفو او په نهه بابونومشتمل دے چې د هر يؤ باب پېل يې د موضوع مطابق د پښتونو د مصرعو نه کړې دے . لکه څۀ رنګه چې دکتاب په فهرست کښې تاسو لوستلے شئ. ښاغلي د هر باب د موضوع د پاره ښۀ زړۀ چاودون کړے دے او په هره موضوع يې بلا شعرونه راغونډ کړي دي چې لوستونکو ته يې خبره نوره هم اسانه کړې ده او دغه رنګه يې دکتاب د هر باب حق هم پوره په پوره ادا کړے دے. دغه رنګه کۀ وکتے شي نو د رحمان بابا په شاعرۍ کښې ډېرګڼ موضوعات په نظر راځي لکه " انسان دوستي " مينه او عشق" د پير فقير ملنګ او درېشانو ذکر "او دغه رنګه تصوفي " اخلاقي " مذهبي " اصلاحي " او داسې نور ډېر. تر ننه پورې چې د رحمان بابا په شاعرۍ څومره هم ليکوالانو ليکل کړي دي نو يا خو صوفي ثابت کړے دے او يا يې د خپل طبيعت او جذبې مطابق کومه رائې پېش کړې ده خو ولې کۀ په غېر جانبدارۍ سره وکتے شي نو رحمان بابا يؤ خوږ ژبے شاعر دے چې په هره موضوع يې په اخلاص سره وېنا کړې ده او هم دا د بابا د شاعرۍ کمال دے چې عام او خاص په کښې د خپل ژوند تصوير ويني لکه بابا چې په خپله وائي"

و هر چا ته په خپل شکل څرګندېږم
ائينې غونډې بې رويه بې ريا يم

او دغه شان چې دا ټول موضوعات مخښې ته کېښودے شي او بيا وکتے شي نو د دې ټولو موضوعاتو نه علاوه رحمان بابا د خط و خال او د عشق د سوز اوګداز نغمې هم وئيلې او دغه رنګه رحمان بابا خپله ټوله شاعري هم د دغې درد او غم سبب ګرځئ لکه چې وائي -

دا دستور دے چې له درده زوېرګے خېژي
ګڼه څۀ وو د رحمان د شاعرۍ

او دغه شان يې بيا د مجاز د معشوقو هم ذکرکړے دے چې د عشق مجازي رنګ په کښې ليدے شي بهر حال دا يوه ځان ته او بيله موضوع ده خو په دې کتاب کښې چې پروفېسر مير حاتم صاحب کوم کار کړے دے واقعي چې هغه د داد او ستائنې وړ دے ولې تر دې دمه د رحمان بابا په افکارو بل کوم داسې جامعه کتاب زما دا نظره نه دے تېر شوے. او زما اميد دے چې د پښتو زده کونکو او په ادب مئينانو ته به دا تحقيق نورې او نوې لارې پرانيځي. بله د دې کتاب ځانګړتيا او خاصه دا ده چې کۀ يؤ خوا پروفېسر صېب د رحمان بابا په شاعرۍ يا شاعرانه افکارو کار کړے دے نو بل خوا يې د نورو ژبو د مشهورو لويو کلاسيکي شاعرانو سره د رحمان بابا په شاعرانه مماثلت علمي او په زړۀ پورې تبصره هم کړې ده.

هرکله چې مونږه اوګورو نوفارسي چونکې د برصغیر سرکاري او
دفتري ژبه پاتې شوي ده چې په څۀ نۀ څۀ شکل کښې دغه اثر
اوس هم مونږ ته په نظر راځي نو دغه رنګې د فارسۍ ژبې دا ځينو
مشهورو شاعرانو د شهرت او مقبوليت چرچې هم تر پښتنو
رارسېدلي وې او بيا وخت په وخت د فارسۍ او د پښتو دکلاسکي
شاعرانو په مماثلت هم سيمنارونه او پروګرامونه شوي دي چې دا
کتاب هم د دغې زنځير يوه مظبوطه کړۍ ده يؤ خوا کۀ دا کتاب د
پښتو ادب په لمن کښې اضافه ده نو بل خوا د فارسۍ ادب د
مئينانو دپاره هم دګټې سبب جوړېدے شي. ښاغلي مير حاتم
صيب کۀ يؤ خوا د رحمان بابا په شاعرۍ بحث کړے دے او د
رحمان بابا د ژوند خاکه ئې راښکلې ده نو بل خوا يې دا فارسۍ
ژبې دا لوے کلاسکي شاعر د حافظ شيرازي دا ژوند حالات هم په
اسانو ټکو کښې بيان کړي دي او بيا يې د دغې لوے شاعر او د
پښتو ژبې د سلطان الشعراء رحمان بابا په شاعرانه افکاروګټوره
او علمي موازنه هم کړي ده چې په پښتو ادب کښې يوه د قدر وړ
اضافه ده.

لکه څۀ رنګه چې ما مخکښې ذکر وکړو چې په رحمان بابا باندې
يؤ شمېر ليکوالانو کتابونه ليکلي دي خو ولې دغه کتابونه خو يا د
رحمان بابا په سبک او ځانګړي اسلوب ليکلے شوي دي او په دغه
ذکر شويو موضوعاتو خو ولې بيا هم نۀ دغو ليکوالانو دې طرف
ته پام کړے دے چې د پښتو ژبې د شاعرانو سره دا نورو ژبو د

شاعرانو موازنه وکړي او نۀ يې دومره په تفصيل سره د رحمان بابا
په افکاروکارکړے دے او هم دغه وجه ده چې په پښتو ادب کښې
د دې کار ډېرکمے محسوسېدوخو اوس زما پوره يقين دے چې د
مير حاتم صيب دا کتاب به تر ډېره حده دغه کمے پوره کړي او هغه
ځکه چې په دې کتاب کښې د موازنې سره سره د رحمان بابا په
شاعرۍ ښۀ پوره په تفصيل سره کړے بحث شوے دے . زۀ د
ښاغلي مير حاتم صيب دا کار او زيار د پښتو په ادب کښې يوه
لويه سودمنده او علمي اضافه ګڼم خدائے دې وکړي چې دا
پيرزونه د ټولو پښتنو په کار راشي پروفېسر صيب ته د لا بريا او د
کار په هيله د ډېر ژوند او روغ صحت دپاره د پاک خدائے تعالی نه
دعا ګويم .

پروفېسر ډاکټر احمد علي عاجز
پښتو څانګه پېښور پوهنتون
19 ستمبر 2023

کلام رحمان، پټه خزانه

دا څۀ شعر دے رحمانه
چې هم ګنج دے هم هنر

د رحمان بابا د شعر هنر خو خپله داسې څرګند دے چې د قبولیت درجې ته رسېدلے دے او په دې چې د رحمان بابا د شعر سادګي، رواني ، سلاست روزمره محاوره ، متل او سوچه ژبه هغه توکي دي چې په هنري توګه ئې د رحمان بابا پوره کلام د لوستو او نالوستو ټولو خلقو زړونو ته داسې رسولے دے چې د تقدس رنګ یې اخستے دے۔ ولې څنګ چې بابا په خپله هم خپل شعر ته ګنج وئیلے دے او په عام اولس کښې یې د قبول عام سند ترلاسه کړے دے نو هغه ددغه ذکر شوې تورو سره سره د بابا هغه فکري خزانه ده چې لکه د ملغلرو د بابا د کلام په دغه لړ کښې پیرلے شوې ده.

رحمان بابا بل ځائے وایي چې:

چې منکر پرې اعتراض کولے نۀ شي
دا دې شعر دے رحمانه کۀ اعجاز

په ذکر شوي شعر کښې منکر، اعتراض او اعجاز داسې درې توري راغلي دي چې ډېر غور طلب دي او بیا دغه طلب نور هم زیات شي چې دغه درې واړه لفظونه بابا د خپل شعر سره تړلي دي ولې دا طلب د طالبعلمانو کار نۀ دے دا استاذان

غواړي او زما خیال دادے او ما وړاندې هم د پروفیسر ډاکټر امیر حاتم صېب په وړاندې کتاب کښې وئیلي وو چې د رحمان بابا د شعر د پټو خزانو د را دوڅاره کولو دپاره صرف د شعر و ادب استاذان نۀ، بلکې د سائنس اسلام، تصوف، فقهې، شریعت او طریقت د پوهې او علم خاوند کار دے او هغه زمونږ ددې کتاب لیکوال ډاکټر موصوف په خپله دے.

دا وخت چې محترم ډاکټر صاحب د رحمان بابا د کلام په هر اړخ کارته چمتو دے ددغه شعر په رڼا کښې په ذکر شوي علمي بنیادونو هم پوره کار پکار دے چې د رحمان بابا دا لویه دعویٰ هم په علمي توګه وسنجولے شي- او دغه پټه خزانه هم راڅرګنده شي.

زېر نظر کتاب د محترم ډاکټر صېب هم ددغه کاوش یوه معتبره کړۍ ده چې په علمي او ادبي حواله د ستائیلو ده او د ادبیاتو د استاذانو او طالبعلمانو دپاره د رڼا د مناري کار کوي.

په درناوي
ډاکټر شېرزمان سیماب
پښتو اکېډیمي پېښور پوهنتون
۲۲، ستمبر ۲۰۲۳ء

د کلام رحمان پټې خزانې پټ اړخونه

زۀ او دَ کتاب مصنف پروفیسر ډاکټر میرحاتم د وړوکوالي نه یو ځای یو- او په اسلامیه کالج پېښور کښې په یوه کمره کښې اوسېدو- ډاکټر صیب په ماشوموالي د نورو ماشومانو نه مختلف وو او تقریباً په هلکوانه کښې بالغ وو او د نورو هلکانو په مقابله کښې زیات سنجیده او دکار غرضي وو او په پټه خوله به ئې کار کولو.

دا پېره ډاکټر صیب دوه دروېشان اوگدایان را گېرکړي دي. زما خیال دی چې د ډاکټر صیب ذهن کښې د رحمان بابا دا شعر دی:

بادشـاهي دگـدایانو پـه دُعـا شـي
زۀ رحمـان ځکـه بادشـاه شـوم چې گـدا شـم

بادشـاهي واقعـي د فقیرانـو پـه دُعـا ملاوېـږي. وایـي چې د هندوستان د بادشاه علاوالدین خلجي یوکوتوال د شېخ شرف الدین بوعلي قلندر خادم سره گستاخي کړې وه. بوعلي قلندرؒ بادشاه ته خط ولیکه، چې اې د ډهلي څوکیداره! خپل کوتوال دِ په ادب کړه گني ستا دا ملك به بل چاته وسپارم، نو بادشاه دومره ویرېدو چې د حضرت نظام الدین اولیاءؒ نه یې امداد وغوښتو. نظام الدین اولیاء خپل مرید خاص حضرت امیر خسروؒ سره دَ تحائفو بوعلي قلندرؒ له جرگه ولېږلو نو بادشاه هله معاف شو.

دکابل سابقه والي امیر یعقوب خان حضرت پیر مهرعلي شاهؒ ته راغـے او د تخت کابل د واپسی سوال یې تر اوکړو. هغوی

ورته اوفرمائیل: چې دکابل د تخت وعده ما د امیر حبیب الله خان سره کړې ده. تاته به ستا د حسن عاقبت دعا اوکړم.

وایي چې رحمان بابا د رسول علیه السلام په حضور یانو کښې شامل وو مشهوره ده چې بهادر کلي کښې یو سړي خوب ولید چې رسول الله ﷺ په اَس سورېږي چې کله قدم په رکاب کښې ږدي نو رحمان بابا رامخکښې شو او خپل سر یې د قدم لاندې کېښود. سحر صبا هغه سړي په ډېر شوق راغـے چې رحمان بابا ته خپل خوب بیان کړي. رحمان بابا لره چې هغه سړی راغـے نو رحمان بابا دا شعر وایه.

همېشـه دِ زمـا سـر او سـتا قـدم وي
تر هغې ساعت پورې څو مې دَم وي

رحمان بابا د تصوف په قادریه سلسله کښې بیعت وو چې د حضرت شېخ عبدالقادر جیلانیؒ سره تړلی ده، لکه چې پخپله وایي:

زۀ رحمـان چې غشـی پرېـږدم خطا نـۀ ځي
پـه بغداد کښې مې کامِل کامِل پیران شته

صرف د رحمـان بابـا کـلام ژونـدی او تـازه نـه دی، بلکې هغـه پخپله هم په قبر کښې تروتازه پروت دی. دا د حضرت مولانا محمد امیر بجلیگر او د نورو ډېرو چشم دیدوگواهانو بیان دی چې د شوئے کړی شوی خامتا کفن یې داسې ښکاري لکه چې اوس سپارلے شوے دے او په مخ مبارك یې اطمینان او مُسکا ده.

حافظ شمس الدین شېرازي یو بل صوفي او دروېش دی. امیرتیمور خپل سوانح "زه تیمور یم" کښې وایي چې د شېراز د

فتح کولونه پس ما حکم وکړو چې د شیراز علماء او حافظ شمس الدین ماته پېش کړئ. لږ ساعت پس یې یو بوډا پېش کړو ملا یې ټیټه وه او د یوې سترګې نه یې او به روانې وې چې دا حافظ شمس الدین دی. تیمور وائي چې ما ترینه تپوس وکړو چې دا شعرونه ستا دي.

خدایا محتسب مارا بآواز دف ونے بخش
که ساز شرع زیں افسانه بې قانون نه می باشد

(خدایه! زما محتسب ته هم د ساز و آواز سلیقه ورکړې- که داسې اوشي نو ستا په دین کښې به هېڅ کمی رانه شي).

ساکنان حرم و ستر و عفاف و ملکوت
بامن راه نشین بادۂ مستانه زدند

(دَ پاګیزګۍ او عفت په حرم کښې اوسیدونکو ما په لارکښې ناست سره شراب اوڅښل).

حافظ شېرازي اووې او زما شعرونه دي. ما ورته په غصه کښې وې چې دا دواړه شعرونه دکفر مترادف دي. هغه انکار وکړو او د شعرونو مطلب یې په خپلو الفاظ کښې بیان کړو.

تیمور وایې: چې ما ترې دَ بل شعر تپوس وکړو چې دا هم ستا دی.

اګر آں ترك شیرازي بدست آرد دِل مارا
به خال هندوش بخشم سمرقند و بخارا را

(که هغه شېرازي یار مې په لاس راشي- نو په یو خال به یې

سمرقند او بخارا او بخښم).

حافظ ووې: یا امیر او دا شعر هم زما دی. ما ورته وې چې دا دواړه ښارونه ما د څومره محنت او قتل و غارت نه پس فتح کړي دي او تا دلته په ناسته ناسته د یو خال په بدله کښې ورکړل.

حافظ شېرازي په جواب کښې د خپل شیرواني تنړۍ پرانستې او خپل قمیص ته یې اشاره وکړه چې زوړ شلیدلی او ریخانګه وو او وې وئیل: "چې داسې بخششونو خو دی حال ته رااورسولم".

زما په علم کښې د پروفېسر میرحاتم نه مخکښې چا د حافظ شېرازي او د رحمان بابا دکلام موازنه نه ده کړې دا دواړه شاعران فقیران او دروېشان وو. چونکه د فقیرانو او دروېشانو روحاني او باطني حالت تقریباً یو شان وي په دې وجه د دوئ بعضې شعرونه د یو بل ترجمه ښکاري. او دغه تقابل پروفېسر صېب په ډېر ښکلي انداز کښې ښکاره او واضح کړي دي.

زما په خیال پروفېسر صېب پخپله هم یو فقیر او دروېش دی ځکه یې د فقیرانو سره مینه ده. داسې ښکاري لکه چې پروفېسر صېب ددې شاعرانو په شان ګوشه نشین شوی دی، لاس پښې یې د قناعت په نکریزو سره کړې کورکښې قلار ناست دی.

د دواړو شاعرانو شاعري د "آورد" شاعري نه بلکې د "آمد" شاعري ده چې شعرونه پې پخپله په یو خاص کېفیت کښې نازل شوي دي. دا آفاقي شاعران دي سره د علامه اقبال- او په خپل عمر کښې یې په فرمائش شعرونه نهٔ دي جوړکړي د دواړو دروېشانو

کلام الهامي دی ځکه پر خلق فالونه ګوري.

بېشکه چې د دواړو شاعرانو شاعري آمد او کلام یې الهامي دی خو د حافظ شېرازي کلام د خواصو دپاره دی. خواص پرې پوهېږي او د رحمان بابا کلام د عوامو او خواصو دواړو دپاره دی. یو عام وګړی او شپونکی یې په کلام پوهېږي او خواص ترې ملغلرې را اوباسي هر پښتون ته د رحمان بابا څه نه څه اشعار یاد دي دا ځکه چې ټول کلام یې "سهل ممتنع" دی او داسې کلام بې د کرامت ممکن نه دی.

حافظ شېرازي که د ایرانیانو او فارسي ژبې شېرازي دی نو رحمان بابا د پښتنو او پښتو ژبې شېرازي دی. پروفېسر ډاکټر میرحاتم صېب ته دِ الله پاك ډېرې ډېرې خوشحالۍ ورکړي چې وقتاً فوقتاً د رحمان بابا ذکر ژوندی ساتي. په آخرکښې به هم د رحمان بابا په یو شعر دا بیان سرته ورسوم.

دا بیـــــــــان دورو دراز وه
رحمـــان خـــلاص کـــړو مختصـــر

والسلام

خاورې صفدر

کرنل (ر) ډاکټر محمد صفدر خان پتهالوجیسټ

هرټس انټرنیشنل هسپتال

A- 92 دی مال راولپنډۍ

25، ستمبر 2023 بمطابق 8، ربیع الاول 1445 م

هیومنسټ humanist رحمانؒ

هغـه خټـک وایـي چې تـه ډؤل اؤ وهـو نـو زهٔ بـه اتـڼ کـهٔ وم. چې پروفېسر صېب په بابا کتاب ولیکو نو زهٔ به پرې خامخا لیکل کهٔ وم ولې چې د دغې در سره زما د وړوکوالي تعلق اؤ عقیدت دے، چې کله به هم د بابا مزار له لاړمه نو په هغې شپه کښې به خامخا په خوب کښې د بابا په دیدار مشرف کیدم اوس چی هم دا لیکل کومه نو په ما هغه کېفیت وارد شو ما به عموماً بابا د عشق په اور سوے فقیر او درویش لیدلو اوس مې هم کله کله سترګې نم شي چې دغـه د بهـار وختونـه بـه واپـس رجعـت اؤ نـه کـړي ولې چې تصوف ډېره د معصومیت لاره ده او هغه وختونو زما د معصومیت وو. لیکن زما د نن وخت سیاه کارۍ او ګناه ګارۍ د دغې وصال ترمینځه رقیبانی جوړی شوی دی.

لکه چې غني وایي:

هلــه یــار ورتــه نــژدې شــوم
چــې د یـــاره شـــومه لـــرې
هلــه یــې پــوئې شــوم پــه خبــرو
چــې ئــې نــه اورمــه خبــرې

په یو لحاظ د پروفېسر صېب کتاب زما او د بابا ترمینځه د برزخ رول ادا کوي او ما د ایمان ساه ګانو ته رسوي ځکه چې ماته خدائے او رسول ﷺ د دې مرد قلندر د درنه میلاو شوی دی.

مرتبه که ستا د عشق شي ورځګنده
ملائک به واړه وایي چې بشر وے

محترم پروفېسر صيب د بابا د فکرياتو په حقله د تصوفي فکر يو وسيع او دقيق نه صرف دستاويزي بلکې قلبي او روحاني جائزه اخستې ده او د بابا په افکارو او اشعارو کښې د مشکل اصطلاحاتو آسان تفهيم پېش کړے.

که چرې تاسو د عارفانه شاعري مطالعه وکړئ نو دا خبره به بيخي د دليل محتاجه پاتې نه شي چې دغې ټولو عرفاء او شعراء د خپل خيالاتو نظرياتو او تجرباتو د اظهار د پاره استعارې اشارې او کنايې استعمال کړي. بل خصوص د صوفي مکتب فکر ابلاغ ټول په اصطلاحاتو کښې شوے دے.

هغه که په عالمي تصوفي ادب کښې رومي ،سعدي، بلهے شاه،کبير داس، ابنِ عربي او خپل روښانيان او حمزه دي او که رحمان بابا دے، ځکه چې د صوفي شعراء شاعري د مادي دنيا او خارجي مشاهداتو او تجرباتو په ځای د باطني داخلي او په روحاني تجرباتو مبني وي.

هو! کله کله د بارګاه الٰهی سفيران هغه لطيف احساسات د مادي الفاظو په قالب کښې بند کړي چې د هغې سره ډېرې ستونزې هم پيدا شي لکه لامحدود محدود کړي. ذات باري تعالیٰ له د سمندر سره تشبيه ورکړي، نور له د لمر سره تشبيه ورکړي وغېره.

هو! چونکه دے مخاطب د دې خاکي جهان انسانانو ته وي په دې وجه د دا اسلوب خپل کړے وي که دا نه کوی نو څه به کوی؟

بقول غالب:

ہر چند ہو مشاہدہ حق میں گفتگو
بنتی نہیں ہے بادہ و ساغر کہے بغیر

ځکه چې د صوفياوں د خدائے پاک يوه روحاني او عرفاني تجربه ده. که مونږ اوګورو په نن وخت کښې د زياتره اهل مذهب خلکو توجه عقل طرف ته ده چې په هر لحاظ خپل مذهب عقلي او سائنسي ثابتوي چې په هغې کښې زياتره نقصان د مذهب کيږي، ځکه چې مذهب سائنسي شے نه دے، بلکې دا د داخلي او نفسياتي دنيا ارتړ دے لکه د يو نظم، پينټنګ او موسيقۍ په شان محسوسيږي.

هو بل ته په عقلي دلائلو سره ښودلے کيږی نه هم دا عقلي سائنسي او داخلي روحاني فرق مونږ ته مجتهد عبد الرحمان بابا داسی ښائي:

ته يې پېژنې چې څه دے يا څه نه دے
نور چا نه دے پېژندلے زما روح
چې يې وليده د ستا د جمال عکس په خپل ځان کښې
هم په دا د آئينې په څېر حيران دے زما روح

سګمنډ فرائډ **Sigmund Freud** وايي چې زۀ فکري طور چرته هم مزل او کم نو ماته پته اولګې چې زما نه مخکې يو شاعر د مزل طے کړے دے.

رحمان بابا د خپل سريع الفهمي او اجتهادي بصيرت سره هغه ګوهر افشاني کړې کومه چې جديد نفسيات په نن وخت کښې په خپله زمره کښې ګڼي. دا عقلي او نفسياتي تفاوت بابا د مخکی نه نمايان کړے دے. د دې **approach** په ذريعه مونږ نن ډېر ديني

علمي او مذهبي مسائل **tackle** کولے شو. هو! د دی د پاره بابا بار بار د تنقیدی آؤ اجتهادی فکر غوښتنه کوي

ځکه هو مجتهد رحمان بابا بل ځای وايي:

چې د نور شاعران کاندی هغه نۀ کا
رحمان کړے نوے نوے اجتهاد

دا خود اعتمادي د هغې د عمومي فکر آئینه داره ده چې هغه د تقلید مخالفت او د جدت حمایت کړے هغه د ژوند او حرارت قائل دے سکون او جمود مرګ ګڼي

لکه بیدل هم وايي:

تبعیت خلق از حقیقت غافل کرد
ترک تقلید گیر تحقیق اینست

(د خلقو پیروي ته د حق نه غافله کړے يې تحقیق دا دے چې ته تقلید ترک کړه)

مجتهد رحمان بابا صرف د فکري اجتهادسازي نه بلکې د خپل لوک وزډم **folk wisdom** او روحاني دانايي په سبب د انسان سازۍ هم يو علم حکمت او هنر لري. هغه د عام انسانانو د خاص انسانانو جوړولو يو فن لري.

تاسو اوګورئ زمونږ سره د ژوند کولو د پاره يوۀ سیاره (ځمکه) ده د دې نه علاوه د ژوند کولو هس سه اثار په بله يوه سیاره کښې په نظر نه راځي او انسان د په خپل حیواني ګرفت کښې اخستې ده چې نن په کائنات کښې يو مخلوق دومره مخلوقات نه دي وژلي

لکه څومره چې انسان انسانان وژلي دي. د دې دپاره مختلف تنظمونه په وجود کښې راغلي دي

هو! بلخصوص د جنګ عظیم دوم نه بعد حقوق انساني زور واخستو چې **1948** کښې اقوامې متحده د حقوقِ انساني منشور تیار کړو. په **1976** کښې د سیاسي او معاشي حقوقو عهد نامې په وجود کښې راغلي، په **1981** کښې د ښځو خلاف د امتیازاتو د خاتمې دستور نافذ العمل شو، په **1990** کښې د ماشومانو د حقوقو دستور په عمل کښې راغلو.

د دې نه علاوه په سونو قوانینو او مختلف موضوعاتو باندې نسل انساني اتفاق اوکړو در اصل د دې نه مخکې د فرانس صد ساله جنګ د هغې وخت په ادب ډېر لوی اثرات پرېښودې وه په دې وجه په برطانیه کښې د سپونزا **Spinoza** نه تر جان لاک **John Locke** پورې ټولو انسان دوستو او بشر دوستو د مذهبي آزادۍ د فکری ازادۍ او د اظهار خیال د آزادۍ دفاع کړې. په اټلي کښې پیټرک د نسلي امتیازاتو خلاف جهاد اوکړو. په یورپ کښې د نشاۃ ثانیه **Renaissance** په دور کښې انسانیت نواز فلسفیانو د قوانین فطرت او سوشل قوانین دریافت کولو باندې زور ورکړو.

هو! چونکه هلته یوناني اساطیر په اذهانو نقوش وه په دې وجه د مغربي هیومن ازم بنیاد د یوناني اساطیري نظام فکر او احساس باندې مبنی دے چې په هغې کښې د دیوتاو او انسانو د تعلقاتو بنیاد په دشمنۍ دے ځکه چې انسان په فطرت د قدرت حاصلولو په

باب له د دیوتاو دشمن ګڼلے کیږي. دا یوناني مائتهالوجې مطابق دیوتا د انسان د دې تسخیر په حقله حریف ګڼلے کیږي مخالف ګڼلے کیږي ځکه چې د حق د دیوتا دے. هو! انسان په کښې مداخلت کوي په دې وجه دا دواړه د یو بل ضد ګڼلے کیږي هم دا وجه ده چې په سماجي طرز زندګي کښې د انسان د آزادي او مساواتو دې خواهش د مغرب د هیومن ازم رخ د مذهب مخالف کړو.

د انسان غلامی محتاجی تزلیل ذمه وار یې فطري قوتونه وګرځول چې د هغې خیال و چې د بالا دست طبقاتو بالادستي د دیوتاو په مرضي باندی ده. په دې وجه د مغرب هیومن ازم او د هغې فلسفی منونکو د بالادست طبقاتو سره سره د دیوتاو کوم چې په دې هر څه حاکمان وه او مروجه مذاهبو هم خلاف شول لکه والټیر، فیور باخ او مارکس د هیومن ازم د دې طرزِ فکر تسلسل دے.

په دی حقله ډاکټر علی شریعتي وایي:

چې په مشرقي مذاهبو کښې د مغربي مائتهالوجي برعکس انسان، هورمذدا، کرایسټ او خدائے تعالیٰ په مېنځ کښې د تعلقاتو بنیاد انساني فلاح ، مساوات، اخوت اؤ خریت دے. په مشرقي مذاهبو کښې د تیارې نه رڼا طرف ته د راوستلو دپاره انسانیت ته یو آسماني رهنمایي میلاویږی او دغه رهنمایي انسان شرف انسانیت ته رسوی بلکې دے د یو بالادست حیوان نه بطور نائب الهٰی او د اصل انسان په حثیت دا تسخیر د انسانیت د

مفاداتو او خیر خواهي د پاره کوي.

لکه رحمان بابا وایي:

په آدم کښې د حیوان خو یونه هم شته
بیا هلته یې ادم بوله چې آدم شي

دې د آدم مقام ته دی د انسانیت مقام ته د رسیدلو لپاره حمزه بابا درې عناصر په ګوته کړي دي: حیوانیت، ملکیت، او انسانیت. حمزه بابا وایي چې انسان په دې دریو عناصرو باندی مشتمل دے.

د حیوانیت تعلق د دې **physical world** سره دے چې انسان پرې مادي ترقي کولے شي او د ملکیت تعلق د روحاني عالم سره دے چې انسان پرې روحاني ترقي کولے شی. هو! چې کله د دې دواړو امتزاج راشي نو د دې نه د یو داسې خلقي انسان ظهور اوشی چې هغه په دواړو خوالو یعنې په مادي او روحاني باندې یو کامل اکمل انسان وي او د ټولو انسانانو دپاره یو مذهبي هیومنسټ هادي او مرشد او ګرځولے شي. ځنګه چې پښتون قوم رحمان بابا خپل هادي او مرشد ګرځولے.

لکه بابا وایي:

زهٔ د ځنو یم مرید
د ځنو پیر یم

او داسې قبولیت او مقبولیت په خپله خاوره حافظ شیرازي ته حاصل دے.

د کتاب په اخري باب کښې د رحمان او حافظ شیرازي د افکارو د مماثلت او مطابقت یو تقابلي جائزه د عوامو د فیضیاب کیدلو د

پاره پیش شوې ده. دغه تطبیق تاسو په کتاب کښې ښه لوستلے شی. هسې د دې دواړو بزرګانو په کلام کښې جبریت ډېر نمایا دے. د دی اصلي وجه دا ده چې څومره classic literature دے دا د جبري رویه زیر اثر ځکه دے چې په هغې عصر کښی سائنس دومره تسخیر نه وه حاصل کړے او س رو رو د سائنس د تسخیر نه بعد په literature قدری رویه اثر انداز کیږي.

هو! په هرحال رحمان بابا د خپل کلام په آینه کښې د انسان سازی اؤ کردارسازی په حواله سل په سله قدری ښکاره دے.

په اخر کښې پروفېسر صېب ته مبارک باد پېش کوم چې مونږ ته یې د بابا داسې پټ جهتونو اړخونو ښکاره کړل. زۀ غواړم چی د بابا په تصور انسانیت تصور علم او تصور تعلیم دې کار اوکړے شي. په دې نوي تناظراتو کښې دې د بابا په تجدیدي نقطه نظر کار اوکړے شي داسې دې د بابا په لوک وزډم folk wisdom او په حکمت او دانایي دې د بدها په شان وسیع کار اوکړے شي.

دا د محترم پروفېسر صېب د رحمان بابا په حلقه دریم څلورم کتاب دے او زه پر امید یم چې مزید به هم مونږ د بابا د فیض نه مستفید کوي او ډاکټر صېب به د خپل علمي فکری او تحریري مجاهده زمونږ دپاره جاري او ساري ساتي.

سید کاشف باچا

بونیر پیر بابا

تعارف

پروفېسر ډاکټر میرحاتم په 10 مې 1942ء کښې په پلوسه (موجوده باچاخان یونیورسټي) کښې د سیدجمال ابن معزالله خان په کورکښې پیدا شو. په قام شاهي کور اتمرخېل بایزی مهمند دی. ابتدایي تعلیم یې په پرائمري سکول ابراهیم زي مډل سکول شکر ډنډ او هائی سکول چارسده کښې حاصل کړه.

په اسلامیه کالج پېښورکښې په کال 1958ء کښې په ایګریکلچر کښې داخل شو. د زرعي کالج پېښور یونیورسټي نه 1965 کښې ایم ایس سي انرز ډګري واخسته. د یونیورسټي آف ګلف کنیډا نه یې په 1972ء کښې د زرعي سائنس ډګري راوړه او په 1988ء کښې یې د سندهـ ایګریکلچر یونیورسټي ټنډو جام نه د پي ایچ ډي ډګري تر لاسه کړه. ددې نه علاوه یې په پرائیویټ توګه د پېښور یونیورسټی نه په 1967ء کښې د ایم اے پښتو ډګري او په 1981ء کښې د عربي ډپلومه حاصله کړه. په ایم ایس سي انرزکښې ګولډ مډل ایم اے پښتوکښې صدارتي ایوارډ او عربي ډپلومه کښې فسټ کلاس فسټ ایوارډ ورته ملاؤ شو او په ۲۰۰۲ء کښې په زرعي سائنس کښې د تمغه امتیاز خاوند شو.

د زرعي کالج پېښور په اګرانومي ډیپارټمنټ کښې یې په 1965ء کښې بطور ډیمانسټریټر نوکري شروع کړه او په کال 2002ء کښې بطور میري ټورلیس پروفېسر په ګریډ 21 کښې ریټائر شو. نهه کاله د ډیپارټمنټ چیرمېن او درې کاله د فیکلټي آف کراپ پراډکشن ډین پاتې شو.

ددین ابتدایي زده کړه او علم تر خلاصه او مُنیه پورې یې د خپل کلي د پیش امام نه وکړو. په 61-1960ء کښې د حضرت مولانا محمد اشرف سلېماني نه بیعت شو. د دېرشو کالونه سېوا دخپل شېخ سره په حضر او سفر دواړو کښې په صحبت کښې پاتې شو. د حجونو عمرو او دیوبند، ندوي او تهانه بهون د سفرونو سعادت ورته د شېخ په صحبت کښې حاصل شو. د شېخ نه ورته خلافت ملاؤ شو او د سلسلې خلیفه مجاز بیعت شو. د خپل انګریزي- سائنس د تصنیفاتو او مقالاتو نه علاوه د اردو او پښتو د لسو کتابونو مصنف دی.34- پروفېسر کالوني نزد زرعي یونیورسټي پېښور یې د سر سورې دی.

مقدمه

رحمان بابا د پښتو ژبې عظیم عالمګیر قادر الکلام شاعر و مفکر دی د هغه پر مغز نصیحت آموز ساده آسان او خواږه اشعار تازه په تازه د هر پښتون غوږ ته رسیدلی او په ژبه ئې جاري دی د هغه په شاعري او کلام بې شمیره مخلوق لیکل کړي او کوي اکثرو لیکوالو دهغه شاعري د شاعرۍ باریکات عشق، اخلاقیات، دنیا و آخرت، علم او ادب نصیحتونه وغیره د بحث لاندې راوستي دي.

د بابا کلام یو سمندر دی چې د لعل وجواهر نه ډک دي دا په غوطه زن ده چې څومره څه را اوخکی شي نو ډیر د لعلونو خزانې داسې دي چې چا ورته پوره توجه نه ده ورکړې او لکه د سر بمهر خزانې پټې پرتې دي ځمونږ خواهش دی چې د دغه پټو خزانو سر بیرته کړو شاید چې مونږ د هغې تل ته او نه رسو خوکم ازکم د نورو محققینو دپاره به لارکهلاؤ شي.

ډیرو لیکوالانو د رحمان بابا د صوفیت ذکرکړی دی او په دې خبره یې بحث کړی چې رحمان بابا صوفي وؤ اوکه صوفي نه وؤ او د هغه د صوفیت ثبوت ئې د تاریخ ته د تلاش کولو کوشش کړی دی لکه چې آیا تاریخ کښې چا چرته لیکلي چې هغه صوفي وؤ د شیخ نوم ئې څه وؤ اوکوم سلسله کښې بیعت وؤ خوکمو کسانو دا کوشش کړی چې د هغه د خپل کلام نه د هغه د صوفیت ثبوت تلاش کړي مونږ دا کوشش کړی چې د رحمان بابا صوفیت د هغه د

کلام نه ثابت کړو په دې لړکښې دکتاب اول باب دَ تصوف په باره کښې دی صوفي او عارف هغه دی چې د خدائی معرفت ورته حاصل وي او رحمان خپله وائي:

چې دا هسې معرفت يې پرې پيرزوکړو
په رحمن باندې منت د پاک مولا دی

او بيا د مزيد تاکيد دپاره وائي:

چې د خدائی له معرفت خبر نه شوم
معلوميږي چې يا ديو يم يا دواب يم

يا لکه: دا وينا دغير صوفي نه بل څوک کولی نشي

بې خودئ يې له دنيا د غم خلاص کړم
لار مې بيا مونده بيرون له شش جهت

په تصوف کښې احوال خو ځي راځي ولې مقامات مستقل وي چې کله يو صوفي ته په يو خصلت حميده باندې رسوخ حاصل شي او هغه خصلت ئې لکه طبيعت ثانيه جوړ شي دې ته مقام وائي او دا ډيره موده پس د ډيرو خوارو نه پس راځي نو د رحمان بابا د صوفيت دپاره دا کافي دی هغه د صوفيت د مقاماتو خاوند وو او په هغه مقام باندې فائز وؤګوره هغه د يو يو مقام ذکر څنګه کوي.

د اخلاص د مقام ذکر داسې کوي:

که له زمکې و آسمان ته خاته ګران دي
دا سفر په يوه ګام دی د اخلاص

د فنا في الله مقام باره کښې وائي:

څو تر مينځ ورانه نه کړې د تن پوله
او به نه رسي تر خدائی تر رسول

د تسليم و رضا د مقام بيان کوي:

بې خيري مې کل په خير باندې شميرلې
د زمري په خوله کښې ناست يم فراغته

د توکل مقام ته څنګه هر کلی وائي:

توکل مې لاس پښې سره کړه په نکريزو
چې په ځای ئې کينولی يم قرار

او د استغنا خو په هغه مقام دی چې د چا وهم ګمان کښې هم نه راځي:

شين لوګی مې په سر چتر دونهه تخت دی
د دونهي په غاړه ناست شاه جهان يم

او د قناعت مقام خو تر په رښتيا بادشاه جوړ کړي:

قناعت مې د خرقې لاندې اطلس دی
پټ د درست جهان بادشاه ظاهر ګدا يم

دا مثالونه صرف مشت نومونه خروار دی ورنه دا تفصيل ډير اوږد دی آيا يو غير صوفي چې کمال ته رسيدلی نه وي هغه داسې خبرې او داسې دعوی کولی شي؟

بعضې موضوعات خو داسې دي چې چا هډو توجه نه ده ورکړې مثال په طور رحمان بابا درویش خدا مست ؤو دا مستي څنګه کوم حد پورې وه او هغه پخپله دې مستۍ باره کښې څه وائي:

شین لوګی مې په سر چتر دونهه تخت دی
د دونهی په غاړه ناست شاه جهان یم

بیا چې کله د شاه جهان زوې اورنګزیب بادشاه شو او ځان ته ئې عالمګیر هم وی نو رحمان بابا هغه خپل غلام حسابوي:

چې تر سنګ مې دلبر په لاس کښې جام دی
نن اورنګ د زمانې زما غلام دی

لکه هندوستان خو ئې زیر او قبضه که نو بیا د دنیا د بادشاهي خبره کوي او وائي:

قناعت مې د خرقې لاندې اطلس دی
پټ د درست جهان بادشاه ظاهر ګدا یم

او د درست جهان د بادشاهۍ نه پس بیا د آسمان د بادشاهۍ په تخت کیني او وائي:

و دلبرو ته خاک تر تلې لاندې
د دې نور عالم په سر لکه آسمان یم

عالم کښې خو بیا صرف انسان نه دی بلکه تمام مخلوقات پکښې راغلل چې حیوانات و نباتات و جمادات په کښې ټول راځي او ته به وائې چې جوړې د مستۍ نه چوې لکه چې وائي:

مے خواران که ئې خبر شي له مستۍ نه
د رحمان د میخانې شراب د څښو دي

چې سامع ئې په نغمه په ترانه شم
دیوانه شم ګریوان څیرې مست خراب

د رحمان بابا په کلام کې د خرقې او خرقه پوشو ذکر د اکثرو لیکوالو د توجه مرکز نه دی ګرزیدلی حالانکه رحمان بابا د خرقې د اهمیت او تقدس سخت قائل دی او د خرقه پوشو قدردان دی درویش دی که ګدا دی، رند دی که قلندر، ملنګ دی که فقیر دا ټول خرقه پوشان دي او خرقه پوش مستان دي ګوره بابا د دوې باره کښې څه وائي:

خرقه پوشو په خرقه کښې دی موندلی
هغه حظ چې دنیا دار ئې په دنیا کړي

د شړې په خرقه کښې پادشاهان دي
بل پوشاک ئې پکار نه دی بې نمد

درته وایم له آه ئې پرهیز کړه
د هغو چې پوشاکونه پشمینه دي

دغسې دشنام محبت یو بل موضوع ده چې لیکوالو توجه نه ده ورکړې دشنام محبت یعنې د یار د خولې کنځلې یا زورنه دا دومره مزیدار او ترسکون موضوع ده چې د حضور پاک علیه السلام او صحابه کرام نه واخله تر لویو لویو بزرګانو ترې خوند آغستی دی

او رحمان بابا ئې هم په ډېر شوق سره ذکر کوي.

د دعا په عوض غواړم
د خپل يار د خولې دشنام

ترکنځلو به ئې ځارکړم
دغه خپل دعا سلام

د يو شاعر د عظمت عالمګيريت او وسعت فکر و نظر اندازه هله لګي چې د دنيا د نورو نامورو عالمګير و عظيم شاعرانو سره د هغه دکلام موازنه اوکړی شي په دې کتاب کښې مونږ کوشش کړی چې د رحمان بابا دکلام د عظيم شاعر او صوفي حافظ شيرازي سره موازنه صرف دکلام د مماثلت تر حد پورې اوکړو مطلب مو دا دی چې د دنيا د نورو عظيمو شاعرانو دکلام سره د رحمان بابا د کلام موازنې کهلاؤ شي فائده به ئې دا وي چې يو خو به د رحمان بابا د عظمت او عالمګيريت اندازه اولګي او بل دا چې پښتانه به د نورو ژبو او قومونو د عظيم شاعرانو دکلام او افکارو نه مستفيد شي مونږ ته پته اولګيده چې د رحمان بابا او حافظ شيرازي په ژوند شاعری، کلام، افکارو او احساساتو کښې بې انتها مماثلت دی د ثبوت دپاره صرف دا يو يو شعر کافي دی.

هم نغمې کاندي هم رقص که هم خاندي
د رحمان په شعر ترکِ د باګرام

ز شعر حافظ شيراز می گويند و می رقصند
سيه چشمان کشميری و ترکان سمرقندی

انسان د دنيا د ټولو نه قيمتي متاع ده دی د دنيا ډرائيور دی او د دنيا صحيح يا غلط چلن د ده په لاس دی څنګه چې د قرآن حکيم د احکاماتو او تعليماتو مخاطب او مرکز انسان دی د هغسې د هغې تعليماتو مطابق د بابا دکلام مقصد د انسان اصلاح ده رحمان بابا ورته سړی او سړيتوب وائي او په څومره دلسوزی او کوشش څمونږ د پوهه کولو تک ودَوکوي وائي چې اول سړی او پيژنه ټول يو شان او يو برابر نه دي.

هسې نه چې سړي واړه سره سم دي
څوک اعلی دی څوک اوسط دی څوک ادنی

څنی څنی يې وليان پغمبران کړل
نه چې هر سړی ولي او پيغمبر دی

دغه واړه کرامات د عاشقی دي
چې څوک قطب کا څوک غوث کا څوک اوتاد

سړی په شکل وصورت او په زور هم يو برابر نه دی خپل ځان ته غره مه شه.

هسې مه وايه چې زه يم په جهان کښې
پيدا کړی خدائی د سر دپاسه سر دی

د سړي نه غرض سړيتوب دی چې حيواني خويونه ترې اووزي او

انساني خويونه يعنې اخلاق حميده پکښې قرار اونيسي.

چــې خويونــه د چار پــائې پکښــې نــه وي
ســړی هــوښ پــه ســړي هلــه مســلم شــي

ســړی هــوښ چــې د ســړي لــه تــن پــاخي
د ســړيو پــه جامــه کښــې خربشــوی شــي

مردم شناس جوړ شه صرف ظاهري شکل و صورت مه ګوره د باطن پته ئې اولګوه ځان له که په ظاهر اعتبار اوکړې خطا به شي.

آدميــت څــه پــه دولــت نــه دی رحمانــه
بت که جوړ شي د سرو زرو نه انسان شه

ســړی بويــه چــې درون بيــرون يــې يــو دی
نــه هغــه چــې بيــرون زر وي درون لاک

د بد خويه بدکردار سړي د صحبت او ملګرتيا ځان اوساته ملګرتيا ئې د خنزير او ښامار نه بد تره ده ښا مار به دې ځان برباد کړي او بد خويه سړی به دې ځان او ايمان دواړه برباد کړي.

هومره زيــان لــه خوګ و خــرس نــه رســېږي
لکه څوک چې په آدميانو کښې بدخوي شي

ديــو و ددکــه پــه خوا درشــي خــو بهتــر دی
خــدای دې بــد ســړی در نــه ولــي پــه خــوا

د جاهــل تــر همــدمئ بــه بهتــر وي
کــه لــه چــا ســره همــدم وي اژدهــا

په آخر کښې رحمان بابا نصيحت کوي او هغه نقطې مونږ ته ښائي چې د کامياب ژوند تيرولو دپاره ضروري وي:

لکــه تــه يــې هســې بــل وتــه نظــر کــړه
لکــه تــه يــې هســې ځــان دې د هــر چــا

ميړنـــی وئيلـــی بويـــه و هغـــه تـــه
چې بــې وجهــې آزار نــه کــا هــيڅ ســړی

دکعبــې ســفر آســان دی مــرد هغــه دی
چــې لــه ځــان ســفرکانــدي ســفر دا دی

رحمان بابا په خپل کلام کښې بې انتها مثالونه ورکړي د حيواناتو ذکر يې کړی دی خو کمال ئې دا دی چې په هر مثال کښې ئې د بنده او د الله تعالی پــه مينــځ کښــې د جــوړ راوســتلو کوشش کــړی دی يعنې مدعائي دا وه:

تو برائے وصل کردن آمدی
نہ برائے فصل کردن آمدی

او د هر مثال نه ئې يو د ژوند حقيقت راويستلی دی او د بنيادمو دپاره ئې د نصيحت آموز سبق بندوبست کړی دی ته ګوره چې ذکر د بت او د بت پرستۍ کوي خو ماله تر څومره ښائسته نصيحت را وباسي.

زه هــرګــوره خپــل صنــم پــوري شــرمېږم
برهمن چې سر پــه پښــو د خپــل صنم ږدي

ما له شرم راځي چې برهمن د بت په پښو سر ږدي يعنې هغه ته سجده کوي او زه خپل خداى چې برحق حىّ و قيوم دى هغه ته سجده نه کوم افسوس زما په حال او بيا د بت او د بامبڼ مثال زما دپاره د عبرت او نصيحت ذريعه جوړوي او راته وائي:

سنډا سى شته په دربار ئې ورته کينه
تار په تار د سر ويښته ايرې مښلې

څنګه چې سنډاسى د يو بت په دروازه کښې ببر سر لنګوټ تړلى او ايرې مښلې د اميد په طمع ناست دى که ته د خداى ذوالجلال په دروازه کينې نو محروم به پاتې نه شې.

او بيا راته د حيواناتو مثال راکوي چې ته خو انسان يې ويښ شه.

حيوانات هم په تسبيح د خداى مشغول دي
ته انسان ئې له حيوان بد تر مه شه

او په آخر کښې داسې جامع نصيحت راته کوي چې د بنيادم او حيواناتو مينځ کښې د قول فيصل درجه لري او تا حيات کارګر او کار آمد دى.

نتيجه يې ريش ګنده جامه پاره وي
آدم زاد چې له چار پايه محبت کا

د مارغانو د مثال نه راته څه عجيبه نکته ښائي چې د بل غوښې مه خوره.

هر مارغه چې د بل غوښې خوري حرام دى
ځان حلال کړه لکه زانړه شاهين مه شه

هغه زهرېله مار چې دنيا ترې ويرېږي ما دپاره څومره د عبرت مثال جوړ دى د رحمن نه بغير دا بل څوک کولى شي.

مار چې سوړي له ورشي ګوره سم شي
ته دګور په غاړه راغلې نه شوې سم

نور څه کړې چې مچ او ميږې ئې هم ما دپاره د عبرت ذريعه ګرځولې او راته وائي چې اې انسانه ستا مرتبه د همائي دى وچ هډوکى خپل خوراک کا.

مرتبه به دې د مچ او د ميږي شي
زړه په غوړو غوښو مه تړه همائى

مجاز د شاعري يو لازمي جز دى او تقريباً هر شاعر د ښائسته رخسار تورو زلفو تورو سترګو او اوږدو مژګانو په ذکر سره خپله شاعري ښائسته کړې ده د دې نه علاوه ګل او بلبل، شمع او پتنګ د مجازي شاعرۍ د لوازماتو نه دي رحمان بابا هم شاعر دى د مجاز ذکر او استعمال ئې په خپل کلام کښې کړى دى خو صرف د شاعرۍ د ښائست دپاره نه او نه ده شاعري د توک بندۍ دپاره بلکه د مجاز د مثالونو نه ئې زمونږ دپاره د حقيقتونو رس را جمع کړى دى په دې وجه دغه شعر يو پر مغز نصيحت آموز حقيقت جوړ شوى راځئ چې وې ګورو د يار د ښائست او خط و خال خبره کوي نو څومره په ښائسته طريقه.

چې د يار د خط و خال ننښې پکښې وي
زوړند سر په مطالعه دکتاب خوښ يم

چې د یار د زلفو د مار سره تشبیه ورکوي نو څنګه پکښې د حقیقت ښودنه کوي.

که بل مار چیچل په لاسو یا په پښو که
په زړه خوله لګوي مار د تورو زلفو

چې سړی د سپین رخسار او تورو زلفو عاشق شي نو عشق خو رسا په زړه ګزارکوي ځکه خو یو بل شاعر وئیلي.

دل کا نہیں قصور آنکھیں ہیں یہ ظالم
یہ جاکے نہ لڑتی وہ گرفتار نہ ہوتا

د هغسې دګل په مجازي شاعرۍ کښې ډومره د مطلب خبره کوي.

هر بلبل به دې ثنا که که ته ګل شې
په خپل ځان خپله ثنا څه پکار نه ده

یا لکه دې مثال ته اوګوره ډومره ژور او اعلی مطلب لري.

د غنچې په څیر په سل ژبو خاموش یم
لکه بوی هسې په پټه خوله ګویا یم

د غنچې په شان مې سل ژبې دي خو خاموش دی غږ ترې نه خیژي خو په پټه او بند خوله زما پیغام او فائده هر چاته رسي چې هغه زما خوشبوئي ده اې زړګیه ته هم داسې شه.

بلبل دګل اوګلزار عاشق دی ژاړي فریادکوي اوګل ته رسیدل غواړي خو رحمان بابا وائي.

څو سل خار یې خښ نه شي په ټټرکښې
کله دی چې د بلبل وګل ته لار وي

که ته عاشق یې نو اول سل حوادثو ته ځان تیارکه بیا دوصال طمع کوه.

شمع ځان سیزي خو هر چاته رانړا ورکوي او ځکه پرې پتنګ عاشق دی د شمع په سر اور بلېږي خو تر هغې نیغه ولاړه وي ترڅو چې ئې وجود فنا شوی نه وي بابا وائي چې ځان شمع کړه ځان له ژاړه خو نور خوشحاله وه هغوی ته فائده ورکوه.

په خندا کښې مې ژړا ده لکه شمع
له عالم پټ پنهم د ځان په ویر یم

بابا وائي د غمونو آفتونو او مصیبتونو سره ځان اموخته کړه د الله تعالی په کړه باندې خوشحاله اوسه او خوند ترې آخله د پتنګ په شان.

پتنګانو لره خدای ورکړو په اورکښې
هغه عیش چې بلبلان ئې په ګلزارکه

د رحمان بابا کلام یو ژور بې پایان سمندر دی چې د لعل وجواهرو نه ډک دی د لامبوزنو او غوطه زنو په همت باندې ده چې ډومره څه ترې راویستلی شې د رحمان بابا کلام نه زړیږي نه کمېږي او نه ختمېږي انشاء الله چې دکلام فیوضات و برکات به ئې تر قیامت جاري او ساري وي او مخلوق به ترې فیضاب او سیراب کېږي.

زمانې تیرې شوې د ده شعرونه نه زړیږي
دا ئې اعجاز دی په لوستو ئې سړی نه مړیږي

زه د هغه ټولو دانشورانو ماهرانو او سکالرانو شکریه ادا کوم چا چې زما په درخواست باندې د دې کتاب مسوده اوکته د هغوی قیمتي مشورې او فائده مندې تبصرې دکتاب د ښکلا او معیار سبب جوړ شو د هغوی تقریظات او هر حرف زما دپاره د سعادت

او فخر باعث دی زه د پروفیسر ډاکټر غلام ناصر مروت صاحب سابق چیرمین شعبه فارسي او سابق ډین فیکلټي آف سوشل سائنس پشاور یونیورسټي خصوصي شکرګزار یم چې د فارسي شعرونو په تصحیح او املا کښې ئې زما مدد وکړو د هغه عاریتاً راکړی شوې د مرکز تحقیقات فارسي د ایران و پاکستان لاهور چهاپ شده با ترجمه دیوان حافظ زما ټول مشکل آسان کړل دغسې ډاکټر عالم خان سابق چیرمین فوډ سائنس زرعي یونیورسټي پېښور د جلال الدین رومي مثنوي مولوی معنوي خپل پوره سیټ زما حواله کړو چې ما تر بهر پور فائده واغسته الله تعالی دې ورته د دې آجر په کروړونو ورکړي.

زه د هغه ټولو ملګرو او دوستانو شکرګزار یم چا چې د دې کتاب په لیکلو، کمپوزکولو چهاپ کولو او خورولو کښې مرسته اوکړه د برخوردار عبد المجید د منډو تړرو او سعې ستائنه کوم الله دې جزائے خیر ورکړي په آخرکښې د مسز ډاکټر عاصم او د خپلو نوسیو مننه کوم چا چې زما د آرام و راحت، صحت، خوراک و پوشاک پوره پوره خیال اوساته او زه ئې د خپل لیکلو کار ته فارغ کړم الله پاک دې ورته جزائے خیر ورکړي.

پروفیسر ډاکټر میر حاتم

۱۷- جولائي ۲۰۲۳ ء

۲۸- ذی الحج ۱۲۲۲ هجري

باب : ۱

همیشه به له مقام بې مقام وي

المقامات مکاسب والاحوالُ مواهب :

مقام دې ته وايي چې په اخلاق باطنه حمیده کښې رسوخ او پختګي پیدا شي مطلب دا چې خُلق حمیده دومره پوخ شي چې طبیعت ثانیه جوړ شي. نو وئیلی شي د مثال په طور چې د توکل، تفویض یا رضا بالقضا مقام ورته حاصل دی ورنه نه- احوال او کېفیات د اعمالونه پیدا کېږي. دې ته انفعالات او ثمرات وایي. احوال وکېفیاتو کښې دوام نه وي ځي راځي. مقامات مطلوب دي. احوال اوکېفیات مقصود نه دي. اصل اعمال دي او مقصود رضایې حق دی. دَ بعضې سالکانو دپاره احوال اوکېفیات د لارې کانړي جوړ شي، د احوال وکېفیاتو مثال د مېلمه دی، چې راشي قدر یې وکړه که نه وي پرواه مه کوه. د لذت طالب د حق طالب نه دی. اصل کښې اعمال اختیاریه د سلوك قدمونه دي. په هغې تګ پکار وي اصلاً خو مقامات هم د الله تعالیٰ عطا ده خو عادتاً په مجاهده حاصلېږي، لکه دوام ذکر، دګناه نه پرهیز، د رزائلونه پاکي باندې کاربند اوسه. مجاهده په حقیقت کښې د نفس مخالفت دی لیکن په عمل باندې استقامت سره بتدریج سهولت حاصل شي او د مقاماتو خاوند شي.

رحمان بابا پخپله د مقاماتو ذکر کوي. رسوخ یافته پختګان د ناپخته

کارو خام کارانونه ښېلوي. مطلب دا چې د تصوف د فن ماهر کهلاړی دی او په اخلاق حمیدهٔ کښې د خپل رسوخ دعوې هم کوي.

چـــې قـــایم شـــوم پـــه مقـــام د عاشـــقي
هېـــر شـــه دلتـــه واړه بـــل مقـــام زمـــا

همېشـــه بـــه لـــه مقامـــه بـــې مقـــام وي
هغـــه ځـــوك چـــې لټـــوي مقـــام د ســـتا

عشق پـه هسـې رنګ مقام باندې قـايم کـړم
چـې وصـال دی کـه بېلتـون دی نـه پـوهېږم

عاشـــقي ده تـــر هغـــه مقـــام پـــه هورتـــه
چـــې د چـــا مقـــام پـــه رنـــځ و پـــه راحـــت وي

زه رحمـــان لـــه هســـې اهلـــه پنـــاه غـــواړم
هـــر چـــې لاف کـــا پـــه خـــلاف د مقامـــات

پختـــه کلـــه دي چـــې لاف د پختګـــی کـــا
پختګـــان دي پـــه دې خُـــم کښـــې خـــام د ســـتا

توکل مې لاس پښې سره کړه په نکریزو:

توکل په اخلاق حمیدؤکښې یو اوچت خُلق دی. په قرٰان کریم کښې ځای په ځای د توکل او متوکلینو ذکر راغلی دی. د حضور کریم ﷺ تمام ژوند د توکل نمونه ده. د صحابه کرامو نه واخلئ د نن ورځ د بزرګانو پورې د هریو ژوند په توکل باندې متصوف دی. حضرت اشرف علي تهانوي رحمه الله خو د توکل هغه تشریح او

توضیح کړې چې هرڅه یې لکه د نمر ښکاره کړي دي. وایي چې دنیا دار الاسباب دی هرکار دپاره ظاهري سبب ضروري وي، چې واده نکاح یې نه وي کړي نو ځوی یې نه شي پیدا کېدی، خوکوونکی مسبب دی یعني سید سلیمان ندويؒ ځکه وایي چې «اسباب بیکار نہیں مگر اسباب پر مدار نہیں» د اسبابو حقیقت ددې شعرنه سېوا بل څه زیات نه شی واضحه کولی.

یہ اسباب ہیں دست قدرت میں یوں
قلم دست کاتب میں جیسے رہے

لیکـل لیکـونکی کـوي قلـم صـرف چلېـږي. دغـه حـال د بـاقي کارونو دی.

په بنده باندې د اسبابو استعمال لازم دی خو یقین به په مسبب ساتي په اسبابونه، د اسبابو ترك هغه کوی شي چې یقین او توکل یې پوخ وي. ما او تا دپاره د رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث موجود دی. صحابي تپوس وکړو چې د اوښ پښه وتړم او بیا یې صحرا کښې پرېږدم اوکه دهغسې کهلاؤ یې پرېږدم او توکل وکړم. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل پښه یې وتړه او بیا توکل وکړه یعنې سبب اختیار کړه او بیا توکل وکړه او حضرت تهانوي رحمه الله وایي: چې نن سبا اهل توکل نشته ټول اهل تاکل دي یعني خوراك والا دي.

د رحمان بابا دکلام نه معلومېږي چې په اصلي معنو کښې اهل توکل وو دکلام یې د توکل د مضبوطیا پته لګي. توکل یې صرف

زباني نه وو بلکې دا يې حال او مقام وو. پخپله وايي: «نه دينار لرم نه درهم، نه مې د چا سره روزګار شته بيا هم-آب و خور لکه ګياه په ځای را رسي»

توکل مې لاس پښې سرۀ کړه په نکريزو
چې په ځای يې کښېنولی يم قرار
که څوك خپل دست و پائی و باسي له ميانه
خدائ په خپله د بې دستو دست و پائی دی
چې هژده هزار قومونه يې پيدا کړه
مربي مې دی هغه پروردګار
لکه ونه مستقيم په خپل مقام يم
که خزان را باندې راشي که بهار
آب و خور لکه ګياه په ځای را رسي
په خپل کورکښې مې سکون دی هم رفتار
بې له خدايه نور د هېچا منت مه کړه
په وچ کانې باندې ونه دکهسار شه
د عشق لار د توکل په پښو غوځېږي
نه په پښو د رياضت و ديانت

علامت د استغنا به يې څرګند وي:

غني صرف د الله تعالیٰ ذات دی چې هېچا ته يې هېڅ حاجت کله نشته، پخپله پوره، نور باقي ټول مخلوق يې محتاج دی. د

بني آدم استغنا داده چې د الله تعالیٰ نه علاوه د نور هرچانه بې نياز وي، د استغنا دوه بنيادي اصول دي. يو دا چې د هرڅيز ورکوونکی الله تعالیٰ دی د بل هېچانه سوال پکار نه دی، بل دا چې دکم نه کم څه ملاؤ دي په هغې قانع او خوشحاله يې- د زياتي حرص او لالچ نه لرې. د الله تعالیٰ په وليانوکې دا صفت موجود وي او وخت په وخت ترې اظهارکېږي.

حضرت پيران پير شېخ عبدالقادر جيلاني ته شاه سنجر وليکل چې د نيمروز صوبې آمدن به ستا د لنګر دپاره تاته وقف کړم، نو هغه ورته دوه شعرونه وليکل چې:

چون چترِ سنجری رخ بختم سياه باد
در دل اګر بود هوس ملك سنجرم
آنکه خبر يافتم از ملك نيم شب
من ملك نيمروز به يك جو نمی خرم

زما بخت د داسې تور شي لکه د سنجر بادشاه چتر، که زما په زړه کښې به چرته د بادشاه د ملك هوس راغلی- دکوم وخت نه چې راته د نيمې شپې ولايت ملاؤ دی، نيمروز صوبه په يوه وربشه هم نه اخلم.[1]

دهغسې حضرت شاه غلام علي مجددي دهلوي خپل بادشاه ته د هغه د خط د پاسه وليکل:

ما ابرويې فقر قناعت نمی بريم

1- نيمروز د افغانستان يوه صوبه ده، د بلوچستان (پاکستان) او تفتان (ايران) سره سرحد (باډر) لري.

با بادشاه بگوکه روزی مقرر است

چې د فقر او قناعت په شان باندې داغ نښم لګولی، بادشاه ته ووایه چې د هر سړي روزي مقرره ده.

زه دا نه وایم چې رحمان بابا شیخ عبدالقادر جیلاني وو یا شاه غلام علي مجددي وو، خو دا ضرور وایم چې د رحمان بابا وینا د هغوی نه کمه نه ده او کلام د زړه د حال ترجماني وي. د رحمان بابا د کلام نه معلومېږي چې د حب الٰهي او حب رسولؐ نه پس د رحمان بابا اوچت مقام د استغنٰی او توکل وو او د هغې اظهار یې د تکبر او غرور په وجه نه، بلکې د شکر، احسان او منت په توګه ښه په اٰزاد مټ کړی دی، چې ددې شعر مصداق ښکاري:

بیٹھا ہوں غنی ہوکے ہر ایک شاہ و گدا سے
سو بار غرض جس کو پڑے وہ ادہر آئے

اولیاء او بزرګان اکثر د استغنا په وجه په پادشاه او پاچا باندې یادېږي، لکه شاه غلام علي مجددي، شاه عبدالطیف بھټایي. رحمان بابا خپله هم ځان ته شاه جهان وایي: "د دونهي په غاړه ناست شاه جهان یم" او د کلام نه یې هم دا ښکاره ده چې رحمان بابا "شاه او پاچا" دی خو افسوس دادی چې د شاعر نه بغیر رحمان بابا په بل نوم نه دی یاد شوی، حالانکه فارغ التحصیل عالم دی، موحد دی، فنا فی الله دی او د تصوف په اعلیٰ مقام باندې فائز دی خو د رحمان بابا ملنګي، درویشي، قلندري او فقیري د هغه نور ټول مقامات پټ کړي دي، خو څوک نشته چې هغه راښکاره کړي.

علامت د استغنا به یې څرګند وي
هغه څوک چې تېر تر ځان و تر جهان شه

که څوک مرد دی خو هغه دی په دنیا کښې
هر چې نه لري حاجت په دا دنیا

په نظر د هغو خاؤرې سرۀ زر کېږي
هر چې نه لري نظر و سیم و زر ته

دا هنر نه دی چې خاؤرې څوک سرۀ زر کا
چې زر خاؤرې کا رحمانه هنر دا دی

د کاملې عقیدې له برکته
د دونهي په غاړه ناست شاه جهان یم

بادشاهي د ګدایانو په دعا شي
زه رحمان ځکه بادشاه شوم چې ګدا شوم

په هجران کښې که ګدا وم کند په غاړه
په وصال کښې یې بادشاه دَ امرا شوم

د دنیا له دولتونو بې پروا یم
زه رحمان د عاشقي په دا دولت کښې

ته زما و بې کسی ته نظر مه کړه
خدائ ساتلی لکه ګنج په بیابان یم

لکه ونه د ځنګل په مېوه پوره
په ویرانه ویرانې کښې آبادان یم

بې خیري مې ګُل په خیر باندې شمېرلې:

د الله تعالیٰ هره تشریعي او تکویني فیصله قبلول او په هغې راضي وسېدل رضا و تسلیم دی. اګرچې طبعي خفګان خو به وي خو عقلي خوشحالي مطلوب ده. لکه مریض ته انجکشن لګول او دا ګنرل چې په دې کښې ما دپاره سراسر خیر دی. د الله تعالیٰ هرکار عین حکمت دی. الله تعالیٰ فرمايي: ما انسانان دې دپاره نه دي پیدا کړي چې زۀ ترې څه غواړم، بلکې دوی له ورکول غواړم. لکه د سرجن اپرېشن چې په ظاهره ناګوار لګي خو هغې سره صحت راځي او بزرګان خو په داسې اپرېشن خوشحالي کوي او مزې ترې اخلي، لکه د حضرت معین الدین چشتي اجمیر، شېخ حضرت عثمان هاروني وايي:

بهر قتلم چون کشد تیغ نهم سر به سجود
او به ناز عجبی من به نیاز عجبی

چې زما د قتل دپاره هغه تېغ را وښکلو نو ما سر په سجده کېښود، چې وهه هغه په خپل ناز کښې عجیبه ښکارېدو او زۀ په خپل نیاز کښې.

بزرګان وايي چې دَ الله د ولیانو درې نښې دي. څه نه څه بیماري به ورته وي. دښمنان او حاسدین به یې هم وي او مشکلات او مصائب به پرې راځي. خو دوی په هر حالت راضي وي او په هغې

کښې سراسر خیرګڼي. حضرت شېخ جیلیؒ خپل مرید ته وې چې داسې نسخه درته وښايم چې په دنیا کې د جنت مزې اخلې. وې رضا بالقضا خپل خصلت جوړکړ. د بهلول دانانه هارون الرشید بادشاه تپوس وکړو چې څه حال دی؟ وې د هغه سړي د حال څه تپوس کوې چې دنیا یې په اشارو چلېږي. هارون الرشید وې څه مطلب؟ بهلول وې چې دنیا کښې هرڅه د الله تعالیٰ په مرضي کېږي او چې څه خدائ پاك غواړي هم هغه زۀ غواړم، نو زما په مرضي شو.

چې مې مینه خدائی په تا باندې پېدا کړه
ترکه ما په هغه ورځ خپله رضا کړه

اوس د ستا رضا، جفا کړې که وفا کړې
ما د ستا جفا قبوله په وفا کړه

که ته سل ځله له ما سره جفا کړې
ستا جفا واړه وفا ده جفا نه ده

که د اور جامه را واغوندې دلبره!
په نظر زما جلوه لکه دېبا کا

ما دې ستا د اندېښنو په اورکښې سوځ
د دنیا اندېښنې واړه لکه سپاندې

ستا له لاسه واړه ما لره نافع دي
که مې زهر وي په زخم که مرهم وي

بې خیرې مې کل په خیر باندې شمېرلې
د زمرې په خوله کښې ناست یم فراغته

هر چې درشي ستا په مخ کښې
واړه وګڼه بهبود

رضا پاسله و قضا ته
مدام خوښ اوسه خوشنود

څو تر مېنځه ورانه نه کړې د تن پوله:

فنا یې تام او عبدیت کامله د تصوف اوچت مقام دی او د توحید کامله ثمره ده. فنا داده چې هېڅ کمال خپل ذاتي نه ګڼړي بلکې استحقاق یې د الله تعالیٰ عطا ګڼړي. خپل یو عمل مستقل مؤثر نه شماري او په زړه کښې دې دَ کبر و غرور او عجب شائبه هم نه وي او دا هله حاصلېږي چې د خپل ضعف بې چارګي بې بسي او بې وسي تصور او د الله تعالیٰ د عظمت او جلالت خیال دې هر وخت په زړۀ کښې وي چې کله د خپل ضعف او د الله تعالیٰ د عظمت او فاعل حقیقي یقین مضبوط شي نو مخلوقات ترې پناه شي او د الله تعالیٰ په قوت سره ګوري، ګرځي او اوري لویه خبره دا ده چې خپل ځان درته لوی ښکاره نه شي دا د مردود کېدو لاره ده احساس نقص د نقصان خبره نه ده، بلکې احساس کمال د نقصان خبره ده، احساس نقص خو د ترقي ذریعه ده زمونږ بزرګانو لوئ جوړېدل ازمائش او ابتلا ګنړله.

د رحمان بابا دکلام نه دا واضحه ده چې د فنا في الله په مقام باندې فائز وو. همېشه د تواضع، عاجزي، بې بسي او د الله تعالیٰ د عظمت او جلالت خبره کوي ځان ته خپله ملنګ وايي، نه یې چُغه شته نه خرقه نه عمامه، ځان د معاشرې یو کمزوری وګړی ګڼړي.

څو ترمېنځ ورانه نه کړې د تن پوله
و به نه رسې تر خدائ تر رسوله

هر چې لاندې خپل وجود تر خپل قدم که
عرش یې لاندې تر قدم شي آسمان څه دی
په دوی کښې به ورنه شې تر توحیده
څو ضمیر د خالي نه شي له اشراکه
چې دوئ له میانه لرې شي رحمانه!
معشوقه عاشق په خپله ناز پروردکا

معرفت د خدائ څرګند دی په هرڅه کښې:

الله تعالیٰ مخلوقات د خپل معرفت دپاره پیدا کړي. معرفت د الله تعالیٰ په عبادت او احکامو عمل کولو سره راځي ځکه الله تعالیٰ فرمايي: «ما بنیادمان او پېریان د خپل عبادت دپاره پیدا کړي دي» نو انسان د عبادت په ذریعه خدائ ته رسېږي. دې ته سیر الیٰ الله وایي چې محدود وي. ددې نه پس بیا سیر فی الله دی. یعنې د الله تعالیٰ په صفاتو کښې مزید پرمخ تګ نو دا لامتناهي

دی. انسان هېڅ کله ددې پوره ادراك ته نشي رسېدی ځکه چې د الله تعالیٰ صفات بې شماره لامتناهي او هر صفت د قوت او طاقت داسې خزانه ده چې حد و پایان یې نشته. د الله تعالیٰ صفات چې څومره په بنده باندې کهلاو پېږي نو ورسره په بنده باندې خپل احتیاج عاجزي او ضعیفي څرګندېږي، ځکه بزرګانو ویلي: «مَنْ عَرَفَ نفسه عرف رَبَه»

د رحمٰن بابا اشعار دا ښکاره په ګوته کوي چې هغه ته د الله تعالیٰ معرفت حاصل وو. او وايي چې دا را باندې دَ پاك مولا منت دی چې معرفت یې را باندې پېرزو کړې او بیا چې څوك د خداۍ معرفت نه لري هغوی ته بد وايي، چې سترګې یې نشته چې د خداۍ معرفت نهویني دا اوده دی، دیوان دي بنیادم نه دی.

چې دا هسې معرفت یې پرې پېرزو کړو
پـه رحمـان بانـدې منـت د پـاك مـولا دی

معرفت د خداۍ څرګنـد دی پـه هرڅـه کښـې
سـترګې وخوره چې څوك همره نظیـر نـه کـا

چـې د خـداۍ لـه معرفتـه خبـر نـه وي
هغــه وارۀ کــه بېــدار دي هــم اوده دي

چـې د خـداۍ لـه معرفتـه خبـر نـه شـوم
معلـومېږي چــې یـا دېـو یم یـا دواب یم

هغه زړه چې خداۍ روښان کا جام د جم شي:

د اعمال صالحه سره ایمان قوي کېږي لکه څنګه چې د وینې سره بدن قوي کېږي او د ګناهونو سره ایمان کمزوری کېږي. د الله تعالیٰ په ذات باندې یقین او د هغه په صفاتو کښې غور و فکر ایمان زیاتوي. د الله تعالیٰ د صفاتو نه لاپرواهي، غفلت او خلاف څیزونه ایمان کمزوری کوي چې کله ژبه د غېر حق د وینا نه، سترګې د غېر حق د کتونه او غوږونه د غېرحق د اورېدونه بند کړي نو د الله تعالیٰ د معرفت دروازه کهلاو شي.

لب به بند چشم بند و گوش بند
گر نه بیني روئ حق بر من بخند

د ګناهونو او ظاهر کهړکۍ چې بندې کړي نو د الله تعالیٰ د معرفت کهړکۍ پخپله کهلاؤ شي او بنده ته د غېب نه یو حس ملاؤ شي، چې بنده کښې د الله تعالیٰ د معرفت او پېژند ګلو ادراك پیدا شي، لکه څنګه چې حضرت سید سلېمان ندويؒ په یو شعر کښې وايي:

کھول دے میرے لئے علم حقیقت کے در
دلِ دانا، دلِ بینا، دل شنوا دیدے

چې د زړه خواهش د الله تعالیٰ ذات او د هغه رضا وګرځي نو بیا به عمل هم هغه کوي چې خداۍ غواړي او د نفساني نه به رباني جوړ شي، ترڅو چې د الله تعالیٰ ذات ستا محبوب جوړ نه شي او د نورو څیزونو په محبت کښې آخته یې نو ټکرې به وهې. د انسان

زړه د محبت مقناطيس دی او د دنيا په خيزونوکښې د مقناطيس د راښکلو خاصيت دی ځکه خو بزرګان دا دعا کوي:

«اللهم نور قلبی بنور معرفتك و فرغ قلبی عن غيرك»

اې الله! د خپل معرفت په رڼا زما زړه منور کړې او د هر غيرنه يې پاك کړې. حقيقت کښې د غير نه فراغت د زړه شفاء ده او په زړه کښې د الله تعالیٰ وسېدل د زړه جوړښت دی، چې دا اوشي بيا کار اسان دی.

د الله لفظ د الله په ذات باندې دليل دی د هر لفظ شاته حقيقت وي او مسمٰی وي، لکه ګلاب خو يو لفظ دی چې د ګلاب په ګل باندې دلالت کوي عارف هغه ته وايي چې د الله تعالیٰ صفات د هغه معاملات، د هغه فاعليت او قدرت پېژني، او محسوس کوي يې او خدائ تعالیٰ سره يې يو خاص تعلق وي. د معرفت د لارې د کهلاوېدو دپاره ايمان تقویٰ، خشيت او محبت الٰهي پکار دی. د محبوب د وصول کوشش او د ګناهونو نه پرهيز سره ايمان زياتېږي غلفت کمېږي او حجابات لرې کېږي او د الله تعالیٰ صفات مني هم يې پېژني او هم يې محسوس کوي. د الله تعالیٰ د معرفت سره چې څنګه د الله عظمت ښکاره کېږي ورسره د انسان خپله عاجزي، کمزوري، محتاجي او کوتاهي هم څرګندېږي، د الله تعالیٰ هر صفت چې څومره کهلاوېږي د هغې اثرات د عارف په زړه باندې مرتب کېږي ګويا د عارف سينه د صفات الٰهي د انعکاس آئينه جوړه شي او عارف ته هر آن په خپل زړه کښې د الله تعالیٰ د تجلياتو يوه دنيا ښکارېږي ځکه دا قول مشهور دی چې د خدائی معرفت نه زمکې

ځای کړی شو نه آسمان، بلکې د مسلمان زړه ځای کړو.

رحمان بابا په دې حقيقت باندې ښه پوه دی چې د انسان اصل زړه دا د غوښې ټکړه نه ده کومه چې په سينه کښې دهك دهك کوي، بلکې اصل زړه خو هغه لطيفه ده کومه چې د روح سره او د الله تعالیٰ سره لکه د ريډيو د والونو په شان کنکټ ده. دی د زړه د اهميت حقيقت او عظمت نه خبر دی او ورته پته ده چې الله تعالیٰ دلته وسېږي، ځکه يې د خاشاك پاکول غواړي، دوی لرې کول غواړي او ويران حرم يې آبادول غواړي نو بيا دا زړه د عرش دپاسه دی، جام جم هم دی او عرش الله دی. دې فارسي شاعر هم د زړه حقيقي مقام په څومره ښائسته شعر کښې بيان کړی دی.

«دل فراش عرش باشد نه زپست»

چې د چا زړه ژوندی شي هغه په مرګ هم نه مري او يو پنجابي شاعر خو کمال کړی دی وايي:

ڈھا دے مندر ڈھا دے مسجد ڈھا دے جو کچھ ڈھینده
اك بندے دَ ادل نه ڈھاویں رب دلاں وچ رهنده

چې دا دومره لوئ مېلمه ته کور ته بيا يې
اول غولې پاکيزه کړه له خاشاکه

په دوئ کښې به ور نه شي تر توحيده
څو ضمير دې خالي نه شي له اشراکه

هغه زړه چې خدائی روښان کا جام د جم شي
په دا جام کښې ورښکاره تمام عالم شي

د خليل تر كعبې دا كعبه ده لويه
كه آبادكا څوك ويران حرم د زړه

چې يې عرش و كرسي لاندې تر قدم دي
بالاتر دی هسې شان قدم د زړه

كه نور خلق قدمونه ږدي په زمكه
ما دی ايښی په اسمان قدم د زړه

هغه زړه چې عرش الله دی گوره كوم دی
څو دې توان شي د جمله زړونو خدمت كړه

تن و ځای و جامه هله پاك په كار دي
چې ورومبی شي د چا زړه له غبره پاك

غيرې مينې دې په زړه باندې انباركړې
په كعبه كښې ننه باسې بتان ولې

چې له غرونو پرېوتلی وي بيا پاڅي
پاڅېدی نه شي له زړونو پرېوتلی

ما وې زړه د مؤمن عرش دی خبر نه وم
چې به عشق زما دا عرش كاندې ويران

هغه زړه به له طوفانه په امان وي
چې كشتۍ غوندې د خلقو بار بردار شي

په هر دم كښې نوې نوې تماشا كړم:

د الله تعالیٰ ذات او شان د بنيادمانو د سوچ او عقل نه ورا الورا دی.

اے برتر از خیال و قیاس و گمان و وہم
ہر چند کہ گفتہ ایم و شنیدیم و خواندہ ایم

الله تعالیٰ د خيال، قياس، گمان او وهم نه وړاندې دی او څه چې دې وئيلي، اوريدلي او لوستلي دي د هغې نه ډېر لرې دی. د الله تعالیٰ صفات بې شماره دي، دائمي دي او د ازل نه تر ابد په يو رنګ دي. د انسانانو سره د خدای تعالیٰ معامله د هغوی د اعمالو په لحاظ سره وي. كله د عطا باران وي كله بند شي، كله د قبض حالت طاري شي كله د بسط، كله د رحيمي ظهور وي كله د كريمي اوكله بل شان وي. لكه چې وايي:

ہر لحظہ شان حسن بدلتی رہی جگر
ہر آن ایک جہان دیگر دیکھتے رہے

رحمان بابا په خپلو اشعاروكښې ددې حالت بھرپور اظهاركړی دی. كله د الله تعالیٰ سره خپل تعلق د ششدرنه بغير ښايي لكه چې د زمان او مكان پابند نه وي، كله د خپل كاروان څوكيدار دی يعنې پاس انفاس چې يوه ساه يې د خدای د ذكر نه بغېر نه ده او لكه د نمر په شان شپه او ورځ د خپل عمر او سلوك په لار روان دی.

په هردم كښې نوې نوې تماشا كړم
زه رحمان د خدائی و كړو وته حېران يم

بې خودئ يې د دنيا له غمه خلاص كړم
لار مې بيا مونده بېرون له شش جهته

ارمانونه به کوي زار زار به ژاړي
چې حاصله کونتېه نه کا په ششدر څوك

يو وېښته مې د صورت بې عشقه نه دی
څوکيدار په هر نفس د خپل کاروان يم

روښنايي مې په طلب کښې شوه حاصله
شپه او ورځ لکه آفتاب په لار روان يم

دا حجاب چې نور عالم يې حجاب بولي
دا زما د يار تر ميانه حجاب نه دی

که ليدلی زليخا يوسف په خوب وو
ما په ويښه دی ليدلی په خواب نه دی

عاشقي نه ده که ګورې حيراني ده:

چې د ستا په تماشا يم خبر شوی
نور خبر په تماشا د عالم نه يم

ځان جهان مې هسې ستا په مينه هېر دی
نه پوهېږم چې ځان څه دی جهان څه دی

چې خبر يې په وصال او په هجران شم
خبر نه يم له فردوسه له سقره

د خپل زړه و علامت و ته حيران يم
چې موسئ دی که قارون دی نه پوهېږم

چې زما په باب کښې کښلي دي را رسي
که رحمت دی که زحمت دی وار په وار

عاشقي نه ده که ګورې حيراني ده
کوم سړی په دغه کار کښې حېران نه دی

چې يې نوره نتيجه نشته بې غمه
حق حېران د عاشقۍ په دغه داد يم

زۀ دا هسې لېونی او مجنون چا کړم:

خو رحمان بابا خپله اعتراف کوي چې د حېرانتيا د درجې نه وړاندې د مجذوب او د هغې نه وړاندې د مجنون درجې ته رسېدلی يم، او د هغې نه پس بيا د جنون دکمال خبرې کوي، لکه چې وايي:

زۀ دا هسې لېونی او مجنون چا کړم
له رواجه له رسومه بېرون چا کړم

که ته نه يې بارې وايه راته څوك دي
زه دا هسې رنګ سر تور پښې يبل چا کړم

هر چې عاشقي کا که په قطع افلاطون وي
زه خو يې مجنون ګڼم که نن وي که سبا

عاشقي بې جذبې چرې ده رحمانه!
ته مجذوب د يار په مهر کښې مروړئ يې

د مجنون صورت په زړه کړه رحمان گوره
ستا په عشق کښې هسې خوارو زار دی دا

چې مجنون غوندې یو موټی استخوان شي
په قوت د عاشقی به پهلوان شي

چې مجنون په ځکندن شه
زه یې پرېښودم نائب

وصیت یې راته وکړ
په څو رنگه عجائب

چې روزي دې شه رحمانه
زما واړه مراتب

لیوني لره کمال دی چې سنگسار شي:

د مجنون نائب جوړېدو باندې هم صبر نه دی او د هغې نه وړاندې درجې ته د رسېدو کوشش کوئ او وایي:

لېونتوب له لېونیونه تلوني نه دي
که یې راج په خونه ورشي که تاراج

زه هغه تحصیل تمام گنم په عشق کښې
چې یې روغ وگړی بولي لېونی

رحمان بابا د عشق په هغه انتهایي درجه باندې دی چې په سنگسارکېدو یې هم زړۀ نه ښه کېږي، بلکې د منصور معراج ته د

رسېدو ارماني دی.

که یې سر لکه منصور غوندې په دار شي
دغه دار دی و رحمان وته معراج

ولایت دی خدائ هغو لره ورکړی:

الله تعالیٰ دا دنیا عالم اسباب گرځولې، هم ظاهري هم باطني. د هدایت دپاره انبیاء علیهم السلام او د هغوی متبعین دي او د گمراهۍ دپاره شیطان او د هغه اولاد دی. د وحې د تعلیماتو په ذریعه انبیاء علیهم السلام د پوره عالم د هدایت سبب عادي وگرځېدو، د انبیاء علیهم السلام دا سلسله د خاتم المرسلین، افضل الانبیاء حضرت محمد مصطفٰی صلی الله علیه وسلم پورې را ورسېده او په آخرکښې د حضور علیه السلام ذات مبارك د هدایت دپاره آله خداوندي وگرځېدو. د حضورکریم صلی الله علیه وسلم د سینې د خزانې د فیوض و برکات او هدایت اخستو دپاره الله تعالیٰ څه اعمال وگرځول چې په هغې کښې د ټولو نه اهم ایمان او ضروري عقائد دي، د ایمان نه بغېر د نبي د سینې نه د هدایت او فیض اخیستو سوال نه پیدا کېږي. اوس چې په چا کښې ظاهري او باطني اعمال محمدي څومره زیات وي هغه هومره به سینه نبوت د آله هدایت انوار و فیوض و برکات کارکوي نمر د رڼا آله ده او محمد صلی الله علیه وسلم د هدایت آله ده. څنگه چې سپوږمۍ د نمر نه فیض اخلي او روښانه وي دهغسې خاصان امت د حضورکریم صلی الله علیه وسلم د وفات نه پس د

هغـه دَ سینه مبارك نـه د هدایت او انواراتـو فـیض اخلي. انوارات رباني د حضور علیه السلام په سینه مبارك پرېوځوي او د هغې نه د خواص امت په سینو منعکس کېږي. الله تعالیٰ په امت کښې د اهل الله سلاسل خواره کړي چې د پوره امت دپاره د باطني تربیت آلـه او عملـه ده. ددې اولیاء الله مشرته قطب الارشاد وایي، چې د هغه دعاګانې، توجهات، محنت او مشقت الله تعالیٰ د انسانانو د هـدایت دپاره ذاتـي سبب جـوړوي او درجـه پـه درجـه د اهـل الله د مختلفو درجو او مرتبو خاوندان د هدایت موندو او هدایت رسولو سبب جوړېږي، د دوی نـه د فـیض اخـستو دپاره الله تعـالیٰ د دوی عظمت، محبت، اتباع، طلب عدم اعتراض او عدم اعراض سبب ګرځولي. د قیود و ادابو پابندي د فـیض اخـستو لارې کهلاؤ وي د دوی عداوت، مخالفت او اعتراض د بربادۍ سبب دی، ځکه خو د یو حدیث شریف مفهوم دی: «مَنْ عَادَلِی وَلِیًا فقد اذنتهُ بالحَرب» چا چې زما د ولي سره دښمني وکړه هغه سره زما اعلان جنګ دی. او د یو قول مطابق مولانا روم وایي:

هیچ قومی را خدا رسوا نه کرد
تا دل صاحب دلے نه آرد به درد

الله تعـالیٰ فرمـایي: زمـا اولیـاء زمـا د څـادر لانـدې پـټ دي او بعضې خو داسې دي چې ابدالوته هم د هغوی پته نه وي. داسې اولیاء ته مستور الحال وئیلی شي. د حضور کریم صلی الله علیه وسلم فرمان دی چې د الله تعالیٰ څه پټ اولیاء دي چې د سر وېښته

یې ببر وي، مخونه یې په خاورو خړ وي که په څه معامله اجازت وغواړي نو څوك اجازت نه ورکوي او که چرته موجود نه وي نو څوك یې تپوس نه کوي او که چرته موجود وي نو څوك یې په څه کښې نه حسابوي، که ناجوړه شي څوك یې تپوس لـه نه ورځي، که مړه شي څوك یې جنازه کښې نه شاملېږي. هغه په زمکه کښې ګمنام دي خو په آسمان کښې مشهور دي. یو بل حدیث مبارك کښې راځي چې الله تعالیٰ فرمایي: زما داسې بندیان دي چې پرېشان حال پرېشان بال که د چا کور ته لاړ شي نو څوك به ورته دوازه کهلاؤ نه کړي خو که هغوی په الله تعالیٰ قسم وخوري نو الله تعالیٰ وایي نو زه بـه د هغوی قسم پوره کړم.

رحمان بابا قایل دی چې ولایت هر چاته نه ملاوېږي، ولیان هغه کېـدی شـي چـې دنیـا یـې ترکـه کـړې وي او د علـم خاونـدان وي دعاګانې یې قبولې وي دا دولت د اهل الله د صحبت نه ملاوېږي اولیاء اکثر پټ وي ځان نه ښکاره کوي.

هغه څوك چې پیروي د اولیاء کا
دا یې واړه په معنٰی کښې ولایت دی

ولایت دې خدائ هغو لره ورکړي
چې یې ورك کړ سکونت په دا دنیا

چې مرده یې له نفسه ژوندی کېږي
عالمان دي واړه هسې اولیاء

اولیاء په جهان ځکه څرګند نه دي
چې پاك زوی خپسر نغاړي له ناپاکه

چې په خواست د حاجت پورته که لاسونه
د اٰسمان د ملائکو پرې اٰمین دی

ستا په داغ به هر یو زړه مشرف نه شي
دغه تاج د بزرګانو په سر بویه

بې هنره چا دولت موندلی نه دی
په خدمت د صاحبانو هنر بویه

بې له الفت هرڅه سر وخوړو:

دا کائنات یعنې دنیا د عشق او محبت د وجې نه پیدا ده او قائمه ده. یو بزرګ وائي الله جل جلاله فرمايي: زۀ پټه خزانه ووم پس زما خوښه شوه مینه مې راغله چې زه و پیژندی شم نو ما مخلوق پیدا کړو. یعنې د مخلوق د پیدا کېدو ابتداء د محبت او مینې نه وشوه بیا چې کله الله تعالیٰ د اولینو او اٰخرینو ټول روحونه پیدا کړل نو هغوی ته مخاطب شو: «اَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ» زه ستاسو رب یعنې پروش کوونکی نه یم نو هغوی وې: «قَالُوْا بَلٰی» او ته زمونږ رب یې. دا د عشق او محبت بله ابتداء وه چې یوم الست ورته هم وایي او ازل ورته هم وایي. بیا الله تعالیٰ تمامي مخلوق زمکو اٰسمانونو او غرونو ته ووې چې زۀ تاسو ته ذمه واري حواله کوم خوك دې ذمه واري ته تیار دي، نو هغوی وېرېدل او د ذمه واري قبلولو نه یې انکار وکړو خو انسان د الله تعالیٰ د عشق په وجه دغه ذمه واري

قبوله کړه، لکه څنګه چې دا شاعر وایي:

اٰسمان بار امانت نتوانست کشید
قرعه فال بنام من دیوانه زدند

دا د عشق او محبت بله ابتداء او مظهر دی او دا قصه لا روانه ده په دنیا کښې چې کله د ابراهیمؑ او نمرود په شکل کښې او کله د امام حسینؓ او یزید په شکل کښې څرګندېږي.

بے خطر کود پڑا آتش نمرود میں عشق
عقل ہے محو تماشائے لب بام ابھی

رحمان بابا په ډېر عالمانه او صوفیانه شان سره په یوم الست د انسان په روح کښې د عشق د تخم دکېښودو ذکر کړی، چې د مناسب پرورش سره بیا تنوره ونه جوړه شي پرورش یې څنګه کېږي دوام یې څه دی، چرته چې دنیا پرې اٰباده ده او ملائك ترې نه مخکښې خبر وو او نه اوس خبر دي. د انسان فضیلت په ملائکو باندې هم په دې نکته دی.

عشق یو داسې ونه ده چې همېشه مېوه دار ده نه زړېږي، نه ختمېږي ځکه خو ورته رحمان بابا د مخلوقاتو پلار وئیلی دی.

دا جهان دی خدائی له عشقه پیدا کړی
د جمله ؤ مخلوقاتو پلار دی دا

زه په تا باندې مئین یم له ازله
نه چې کړی مې نن ورځ ده ابتدا

زه په خپله په تا نه یم مئین شوی
ستا له لورې په ما شوې ده ندا

خدائی زما په بخره عاشقي کړه له ازله
خوښ یم په دا بخره که ترخه ده که شېرینه

در د بېرته جاروتو شو راته پورې
په نصیب مې بله نه وه دا وه دا شوه

کښېوتم د عشق په آدم خورو گردابونو
نه په وړاندې تلی شم نه په بېرته گرېزان

عاشقي ده خدائی له اوره پیدا کړې
چې په اورکښې یې وطن وي څه به خوب کا

ملائك د عشق له غمه څه خبر دي
خو هم ماله دا سخت سفر پېدا شه

تش به نه شي هغه خُم د عشق له مئیو
چې یې خاؤرې د فرهاد او د مجنون دي

عشق څه هسې علم نه دی
چې حاصل شي له مکتبه

مکتب حال د مذهب وایي
عشق سېوا دی له مذهبه

عشق یو داد دی په عاشق باندې له خدایه
هسې نه چې و هر چاوته عیان شه

هر چې حُب د عاشقی لري په زړه کښې
که په قطع صد ساله دی هم زلمی دی

مدام کله وي دنیا د دنیا دارو
بې له عشقه چې دولت یې مستدام دی

چې د عشق له بحره روغ سلامت اوځي
زه یې نن گڼم له موره زېږېدلی

د خواجه عزیزالحسن مجذوب د یوم الست د مستي حال دکتو دی گوره په کوم حال او مستي کښې لگیا دی.

روز ازل کا مست ہوں مست مے الست ہوں
نیست ہوں نہ ہست ہوں سر بر سر اک راز ہوں

د ازل د ورځې مست یم د مے الست(الست بربکم) مست یم نور څه نه یم بس یو پټ راز یم

دل ازل سے ہے کوئی آج کا سودائی ہے
تھی جو اک چوٹ پرانی وہ ابھر آئی ہے

نن نه بلکه د ازل نه مست یم، د الست بربکم گذار مې بیا تازه شوی.

نہیں مجنون دیوانہ میں ہوں مجذوب مستانہ
ازل سے میں یہ مستانہ طبیعت لے کے آیا ہوں

زهٔ مجذوب مستانه یم، مجنون دیوانه نه یم، دا مستانه طبیعت مې د ازل نه دی.

مطرب درد آشنا تیرا بھلا کرے خدا
روزِ الست جو سنا نغمہ وہی سنائے جا

د دردنه خبر مطرب خدائ دی تاسره ښه وکي د الست په ورځ چې د کوم نغمه اورېدلې، بس هغه وايه.

حافظ شيرازي هم وايي:

مطلب طاعت و پیمان درست از من مست
که به پیمانه کش شهره شدم روز الست

ما غونډې مست نه د اطاعت صحيح پابندي مه غواړه، زه د ازل د ورځې نه په شراب نوشی مشهور يم.

ہر گز نہ میرد آن کہ دلش زندہ شُد بہ عشق
ثبت است بر جریدۂ عالم دوام ما

د چا زړه چې په عشق ژوندی شو هغه نه مري، په عالم به عشق همېشه وي.

د يوم الست د عشق د ټولونه ښه تشريح او وضاحت محترم حمزه شنواري بابا په ښائسته ورو مختصرو او جامع الفاظوکښې کړی دی.

خبـرې سـل او سـر يـې يـو واعظـه
بـې لـه الفـتَ هرڅـه سـر اوخـوړو

که رحمان بابا وايي: چې عشق د مخلوقاتو پلار دی، نو حمزه بابا وايي چې بې د عشق او محبت نه نور هډو څه شته نه.

❖❖❖

باب: ۲

که مې چرې سوال په در دَ رب قبلېږي

صبح شام مې لاس نيولی دی دعا کړم:

الله تعالیٰ چې انسان ته کوم خپل خاص انعامات ورکړي په هغې کښې يو دعا هم ده. په قرآن کريم او احاديث مباركه کښې د دُعا ډېر فضيلت او اهميت راغلی دی. الله تعالیٰ په قرآن مجيد کښې فرمايي: «وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُوْنِيٓ اَسْتَجِبْ لَكُمْ »[1] "الله پاك ووې زما نه دعا غواړئ زۀ يې قبلوم". داسې بل ځای فرمايي: «وَاِذَا سَاَلَكَ عِبَادِيْ عَنِّيْ فَاِنِّيْ قَرِيْبٌ ط اُجِيْبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ اِذَا دَعَانِ لا فَلْيَسْتَجِيْبُوْا لِيْ وَ لْيُؤْمِنُوْا بِيْ لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُوْنَ ﴿۱۸۶﴾»[2] "او چې کله زما بنديان زما باره کښې تا نه تپوس کوي نو ته ورته (زما د طرف نه وايه) چې زۀ نزدې يم او د غوښتونکي دعا قبلوم کله چې هغه دعا غواړي، پس دوی له پکار دي چې زما احکام قبول کړي او په ما يقين وساتي اميد دی چې دغه خلق به فلاح بيا مومي"

حديث مبارك کښې فرمايي: «الدعاء هو العبادة» دعا بس عبادت دی او بل حديث کښې وايي: «الدعاء مخ العبادة» دعا د عبادت مغز دی.

1- د مؤمن سورة، آيت: ۶۰.
2- د بقرې سورة، آيت: ۱۸۶

دعا د مؤمن وسله د فقیر خزانه، د درویش رونق، د مسکین توشه، د ضعیفانو قوت او د لاچارو تسکین دی. دعا جامع الاسباب، ام الزرائع، کلید خیر او د مطلب براری احسن او اکمل تدبیر دی. د یو فقیر بېنوا ټوله سرمایه بس دعا او قوت دعا ده. دعا د ټمام تدبیرونو نه غټ تدبیر دی. د الله تعالیٰ په نزد دعانه بل غټ معزز شئ نشته قضا صرف دعا ایسارولی شي بل شئ نه شي. په چا چې د دعا دروازه کهلاؤ شوه وایه چې د الله تعالیٰ د عطا او غنٰی دروازې پرې کهلاؤ شوې. دعا ضائع کېږي نه، د اضطرار د وخت دعا او د بل مسلمان دپاره غائبانه دعا مقبول او مستجابه ده. ددعا د اجابت دپاره د قبولیت یقین، د حضوري سماعت او اجابت حق استحضار لحاجت او الحاح پکار دی.

دا څومره لوی انعام دی چې بغېر د څه رکاوټ، انتظار یا واسطې د هغه الله سره مخاطب کېدی شي چې هغه هرڅه کولی شي. خدائ تعالیٰ سره مخاطب کېدو او دعا غوښتو کښې هېڅ رکاوټ نشته. خواه که د جهان ګناهګار او توبه شکن وي.

باز آ باز آ ن چه هستی باز آ
این درگه ما درگه ناامیدی نیست
گر کافر و گر بت پرستی باز آ

د دعا موضوع مونږ په څلورو حصو کښې تقسیم کړې ده. یو هغه دعاګانې دي چې مونږ یې د خپل خپل وخت او کار نه پس وایو. لکه د سحر ماښام، اوده کېدو او د روټۍ خوراك او په عام حالت کښې

ویلي شي. دوېم هغه دعاګانې دي چې د اضطراب او بېقرارۍ په حالت کښې مونږ غواړو. د زړه نه موګرم آهونه وځي او د سترګو نه مو اوښکې روانې وي، کله سر په دواړو لاسونو کښې نیسو، کله سینه ډبوو او کله ګرېوان شوکوو او وایو چې خدایه! داسې ولې اوشو؟ او یا داسې ولې نه کېږي؟ او سخته بېقراري وي. درېم هغه دعاګانې دي چې مونږ یې د نیمې شپې د تهجد په وخت کښې غواړو چې دعایې نیم شبې، دعا یې سحري او دعایې صبحګایي ورته هم ویلی شي. په قرآن کریم او احادیثو کښې ددې خاص فضیلت او اهمیت ذکر شوی دی. د سخت وخت په وجه او د مکمل یکسوی په وجه ددې دعاګانو د قبولیت احتمالات ډېر زیات وي. څلورم هغه قسم دی کوم ته چې بد دعا او ښېرې ویلی شي، چونکې دا د مظلوم د خُولې پُکار وي نو ددې عرش ته رسېدو کښې او قبلېدو کښې هېڅ رکاوټ نه وي.

بترس از آه مظلومان که هنګامې دعا کردن
اجابت از در حق بهر استقبال مې آید

د مظلومانو د آه نه وېرېږه چې ښېرې وکړي نو د خدای له طرف اجابت یې استقبال له راځي.

یا لکه خواجه عزیز الحسن مجذوب چې وایي:

دم بخود هے ضبط کا ما راهوا مجبور هے
آه کے نزدیك ورنه آسمان کیا دور هے

او رحمان بابا خو وایي:

د اٰه غشی یې په زمکه کله لګي
هر قامت چې کمان طور خمیده شي

په دې دعاګانو کښې د رحمان بابا نه علاوه ددې بزرګانو منتخب اشعار هم شامل دي. حضرت علامه سید سلېمان ندویؒ، خلیفه اجل حضرت اشرف علي تهانویؒ، حضرت خواجه عزیزالحسن مجذوبؒ د دوی اشعار په اردو کښې دي، چې د ترجمې ضرورت یې ماته نه ښکاري او اٰخري حضرت خواجه حافظ شېرازي چې اشعار یې په فارسي کښې دي او ترجمه یې شوې ده.

د عبدالرحمٰن بابا دعاګانې:

صبح و شام مې لاس نیولي دی دعا کړم
خواست له خدایه ستا د مهرو د وفا کړم

لاس و پښې د خلقو نیسي دعا غواړي
مینې هسې منت بارکړ زما دل

ګوندې ستاسو په مخ زه پسندیده شم
لاس د خدائی و درته ونیسي پسندلیو

ګوندې چرې څوك د خدائی په در قبول وي
ستا له لاسه مې فریاد په هر دیار دی

خدائی رضا لره چا هسې تعویذ وکړی
چې لږ زه د هغه یار تر فهمه ښه شوې

د رحمان غلطي و بخښه ای خدایه!
د اوترو چارې نه وي په حساب کښې

❖❖❖

که له سلو به یو خواست دچا قبلېږي
خدائی دې هېڅوك رنځور نه کا بې علاجه

زۀ همه عمر د خدایه دغه سوال کړم
چې یو یار له خپل یار ویزار نه شي

که مې چرې سوال د خدائی په در قبلېږي
سوال به زه د عمر کړم د مهوشانو

خدائی دې بد له لاسه مه کړه اوکه وي هم
د رحمان دې په کل بدو استغفار شي

خدائی له هسې زاوزاده امان راکړې
چې بې دین، بې دیانت شي، بې نماز

خدایه ګنج د قناعت و رحمان ورکړې
چې بې ملکه بې حشمة دولت مند شي

خدائی مه کړې نا امید هغه وګړي
چې امید یې وي د ستا په کرم کړی

خدائی امان راکړه له هسې زندګیه
چې تۀ بد وایې له بل بل له تا

تاریکي د معصیت راځخه واخلې!
د طاعت په روښنایۍ مې زړه روښان کړې

هرڅوك چې د عشق په آتش ځان سیزي رحمانه!
خدائی دی ابراهیمؑ غوندې څوک نه کا په لمبوکښې

پس له مرګه به یې بیا له تا قربان کړم
که صورت مې خدائی پیدا کړۀ په محشر بیا

که مطلب دنور چا نورې مرتبې وي
ما ګدائی په استانه د خپل جانان کړې

زه د عشق په کارکښې تېر تر سرومال یم
دریغه که په سر مې دا مشکل کا خدائی اسان

له لویۍ له سرکشۍ زما توبه ده
خدائی څوك مه کړه د اسمان په څېر نسکور

نفس بې شماره عالم پرېوېست وکوهي ته
خدائی دې نه کا نابینا د چا پېشوا

د ریا خرقه یې خدائی مه کړه په غاړه
رحمان کوږ دستار تړلی قلندر دی

زه رحمان بې خپله یاره هیڅ نه غواړم
که قبوله خدائی ته وي دعا زما

❖❖❖

سر د رحمان درومي د هجران په تېره توره
ته یې نګهبان شې یاالـه العالمینه

خدائی د یار له هجره هېڅوك خبر مه کړه
تاخت او قتل دا خبر درې واړه یو دي

❖❖❖

هیڅ پوره به دې نېمګړی نه شوې خدایه
که بېلتون د دوه یارانو وبله نه شوې

زه رحمان د بېلتانه سېلاب یم وړی
که لاس را کاندي د خدائی په محبت څوك

زه رحمان له هغه علمه پناه غواړم
چې له دینه له مذهبه وي سېوا

خدائی دې نه کاندې خطا د چا له لاسه
څه نسبت دی د خطا او د عطا

نېك عمل د عالمانو نېك فرزند دی
خدائی څوك مه کړه شراب خور او قمار باز

❖❖❖

که خدائی غم د جدایۍ ورته اسان کړ
و رحمان وته اسان دي نور غمونه

غم د هجر چې بتر تر همه درد دی
له دې غمه مې په امن په امان کړې

خدائی دې هسې تنها نه کا څوك په غم کښې
لکه زه د یار په غم کښې یم تنها

ما دې خدائی د یار له غمه بې غم نه کا
دا په ملك د عاشقی کښې لوئی ورانی دی

لکه زه چې یې له غمه په عذاب یم
خدائی دې نه ږدي په چا هسې عذابونه

په خاطر مې غلبه شو ستا غمونه
لږ د خدائی دپاره کېږده قدمونه

د یار غم لکه زمری را باندې راشي
خدائی دې پېښ په هېچا نه کاندې زمري

❖❖❖

الهٰی د خپل حبیب له برکته!
دا ساده انشا رنګینه د رحمان کړې

چې هر حرف یې د نافې په څېر خوشبوئ شي
برکت مې په جزدان په قلمدان کړې

چې کشور د افغانانو معطر کا
د هر بیت مصرع مې زلفې د خوبان کړې

دعا د علامه سید سلیمان ندویؒ

وہ اپنے کان سے سنتے ہیں میرے نالوں کو
وہ طرز نالہ ہو جو آن کو بے قرار کرے

دُھن کچھ ایسی ہو فراموش ہو اپنی ہستی
دلِ دیوانہ و سودائی و شیدا دیدے

کوئی چوٹ ایسی لگ جائے الٰہی میرے سینے میں
کہ فوارہ سا بن جائے یہ زخم خون چکانِ دل

چاہا خدا نے تو تری محفل کا ہر چراغ
یو نہی جلا کرے گا بجھایا نہ جائے گا

محبت تو اے دل بڑی بات ہے
یہ کیا کم ہے آسکی جو حسرت ملے

یہ کس میکدہ سے اُٹھی موج مے ہے
چلی آرہی ہے جو فیضان ہوکر

بجھ جائے ترے چھینٹوں سے اے ابر کرم آج
جو آگ مرے سینہ میں مدت سے دبی ہے

دعا خواجه عزیزالحسن مجذوب:

دونوں جہان کا دکھڑا مجذوب رو چکا ہے
اب آگے فضل کرنا یا رب ہے کام تیرا

مدینہ درود پاک پر ہو خاتمہ میرا
مکمل ہو الٰہی حب ختم المرسلین میری

پھروں بحر در بحر کب تک الٰہی
لگا دے بس اب پار میرا سفینہ

گھٹا ہے کہ امڈی چلی آرہی ہے
دعا کس نے کی نشہ میں چور ہوکر

دے مجمھـــــــے اب اے خـــــــدائے دردِ دل
وہ جـــو مرکـــــر بھـــی نـــہ جـائے درد دل

وہ مزا ھے مرے نالوں میں جو نغموں میں نھیں
کیـف صد ساز مری خاطر ناساز میں ھے

ھیچکیاں بھی مری سن لو مرے نالے تو سنے
ٹھرو ایک نغمہ ابھی اور میرے ساز میں ھے

ھو خدا یی نا خدا میرا تو بیڑا پار ھو
اب مری کشتی دل اك بحر بے ساحل میں ھے

مرے نام کی لاج رکھنا الھٰی
کہ مجذوب میرا لقب ہو رہا ہے

میں مجذوب کب تك رهوں یا الھٰی
پس اب ھوش اپنے بجا چاهتا هوں

د حافظ شیرازي دعاګانې:

حافظ وظیفهٔ تو دعا گفتن ست و بس
در بند آن مباش که شنید یا نه شنید

حافظ ستا کار دعا کول دي، دا غم مه کوه چې واوريدی شوه يا نه.

خنده و گریه عشاق زجائے دگر است
می سرایم بشب و وقت سحر می مویم

د عاشقانو خندا او ژړا د بل وجې وي، زهٔ د شپې سندرې وایم سحر ژاړم.

سزائے قدر تو شاها بدست حافظ چیست
بجز نیاز شبے یا دعائے صبحدمے

شاها ستا د شان لائق د حافظ پر لاس کښې څه دي، سبوا د شپې دعا او د سحر دعانه

مکن حافظ از جور گردون شکایت
چه دانی تو اے بنده کار خدائی

حافظ د زمانې د ظلم شکایت مه کوه۔ اے بنده ته د خدائی په کار څه پوهېږې.

از دعا نبود مراد عاشقان
جز سخن گفتن به آن شیرین دهان

د عاشقانود دعا عرض د خدای سره د خبروکولو نه بغېر بل څه نه وي.

زه خپل آه آتشین له خدایه غوارم:

آه د رحمان بابا

نن دی وخت دی که می اه و فریاد اوری
څو چې خاورې نه دی هر اندام زما

درد و آه وکاږم بهانه د تما کوکړم
سوی لوغړن مدام په ناریم ستا د مخ

څه شوکه خاموش یم ستا د عشق له آه سرد
ستا زما له مینې خلقه واړه خبر ده

زه چې ستا له غم ژاړم آه فریاد کړم
د رقیب کره هم ډول وی هم سندرې

زه چې ستا له غم ژاړم آه فریاد کړم
برق و رعد چکاره دی باران څه دی

مدام سوی لوغړن وی
د خپل آه په ګرمائی

که څوک آه و فریاد ښه ګڼري په عشق کې
زه په عشق کې دغه کارګڼړم غماز

چې نصیب یې سینه چاک زړه افګارش
جرس ځکه په فریاد و په چغارش

په مجلس د ویر ژړلیو څوک ورمه شه
که صحیح که سلامت دی آه سرد کا

د علامه سید سلیمان ندوی آهونه:

دم سرد ہے آہ پر آہ ہے
تسلسل حوادث کا جانکاہ ہے

ہو جسن طلب لاکھ مگر کچھ نہیں ملتا
ہو صدق طلب پھر اثر آہ رسا دیکھ

نگاہ یاس و دم سرد و آہ بے تاثیر
نشان درد و محبت طبیب کیا سمجھے

قطرہ اشک میں ہوں دل کے بھی ٹکڑے شامل
فطرت دیدۂ خونبار کہاں سے لاؤں

نالے او آهونه د مجزوب:

پھونک دی اک روح نو مجھ میں مری آہ نے
درد دل نے میری رگ رگ کو رگ جاں کردیا

اگر سینے سے نکلے ساتھ لیکر دل کی اہوں کو
مری آواز پھر تو صور کی آواز بن جائے

صورت انجم نہیں میری آہ کی چنگاریاں
اور مرا دود فغاں آسمان درد دل

رخصت کا میری ہائے وہ حسرت بھری سماں
روئے لپٹ لپٹ کے ترئے آستاں سے ہم

کب تک یہ ھائے ھائے جگر ھائے ھائے دِل
کر رحم اے خدائے جگر اے خدائے دل

کروں میں ہائے کب تک ضبط اے ظالم ترے ڈر سے
نکلنے ہی کو ہے اب آہ میرے قلب مضطر سے

جو نکلیں آئیں تو حور رہو کر جو نکلے آنسو تو بن کے گوہر
یہ کون بیٹھا ہے دل کے اندر یہ کون چشم پر آب میں ہے

اہ بھی کی جب دل بیگانہ تدبیر نے
آکے جب سو بار رگڑی ناک خود تاثیر نے

کس مصیبت سے تو پکڑا تھا کنارا اے خدا
آکے موجیں لے چلیں پھر ہائے ساحل سے مجھے

عاشق خام تھا میں جب جوش و خروش تھا عجب
لب پہ ہے آہ سرد اب نالہ آتشین نہیں

دل سے اب اڑنے لگیں ھر آہ پر چنگاریاں
لو میرے ظلمت کدہ میں بھی چراغان ہو گیا

میں اے ضبط آہ رسا چاہتا ھوں
بہت ناتواں ہوں عصا چاہتا ہوں

میں غم دوست ہوں مجھ کو مطرب نہ چھیڑے
میں ہر وقت آہ و بکا چاہتا ہوں

مری محفل میں جو بیھٹا اٹھا اتش بجان ہو کر
دلوں میں آگ بھر دیتی ہے اہ آتشین میری

یہ نالہ کناں کون بہ آواز حزیں ہے
دیکھو کہیں مجذوب غزل خواں تو نہیں ہے

حسن کی بارگاہ ہے سہل کوئی نباہ نہیں
آہ بھی آب گناہ ہے عشق ہے دل لگی نہیں

اے مرے باغ آرزو کیسا ہے باغ ہائے تو
کلیاں تو گو ہیں چار سو کوئی کلی کھلی نہیں

ہر طرف سے آرہے ہیں طالبان درد دل
یہ میری آہ و فغاں ہے یا اذان درد دل

جان سے بھی عزیز کیوں مجھ کو نہ ہوں یہ داغ دل
ہائے کس کو کیا خبر کس کے ئیں یہ دیئے ہوئے

اف اف رے ستم ہائے نیم نگاہی
نکلا بھی نہیں تیر کہ بیھٹا مرے دل میں

مجذوب ہائے ہجر کی بے کیفیاں نہ پوچھ
مستی بھی بارسر ہے تمنا بھی بار دل

مارا جو ایک ہاتھ گریبان نہیں رہا
کھینچی جو ایک آہ تو زندان نہیں رہا

کروں ضبط فغاں کی ہائے کیا تدبیر اے ہمدم
دبانے سے طبیعت اور بھی دونی ابھرتی ہے

دم میں لے گزری ہے اے دل تیری آہ جانستان
عشق کے سارے مقامات و منازل سے مجھے

بے حس نہ ہائے سمجھو اے اہل وجد ہم کو
کیوں کر دکھائیں دل پر خنجر جو چل رہے ئیں

کرتی ہے آہ میری طوفان نوح برپا
ہر چشم خشک سے بھی دریا ابل رہے ہیں

جگر سوز جان سوز دل سوز اف اف
بھری مجھ میں کیسی یہ چنگاریاں ہیں

شب غم فلک پر جو چھٹکے نہیں تارے
مری آہ سوزاں کی چنگاریاں ہیں

نہیں یہ نالہ نے جو سنو مزے لے کر
کلیجہ تھام کے بیٹھو مری فغاں کے لئے

اف بھی کر سکتے نہیں نالوں کا کیا مذکور ہے
جتنے ہم مجبور ہیں بلبل کہاں مجبور ہے

پہنچا ہوں جہاں میں نے بدل دی ہیں فضائیں
آتے ہی مبدل ہوئیں آہوں سے ہوائیں

اف کسی بلا کی آہ تھی یہ اے دل حزیں
سارے چراغ ہائے تمنا بجھا دیئے

دَ حافظ شیرازی آه و فغان:

افتادہ ام بہ کنج غم وجز فغان و آہ
نے یار غم گسارے ونے ہمزبان مرا

د غم په کنج کې پروت یم د آه و فغان نه
غیر مې نه یار شته نه همزبان

تیر آہ ما ز گردوں بگزرد جان عزیز
رحم کن بر جان خود پرہیز کن از تیر ما

زما د آه تیر د اسمان نه تیریږی
په ځان رحم وکه زما د غشي نه پرهیز وکه

درد آہ سینہ سوزان من
سوخت ایں افسردگان خام را

زما د سوي سینې د آه لوګی
دا ناپخته ناقصان او سیزل

زما نصیب شه ګرمې اوښکې تویول د سبا:

د تهجد لمونځ او دعا په ډیرو نومونو یادیږی مثلاً دعا سحری او دعائے صبحگاهی دعائے نیم شبی، ناله نیم شبی، شب ګیری و سحر خیزی ورته هم وائي عام کتابونو کښې د تهجد مونځ او د صلوة الیل په نوم یادیږي مطلب ترې مونځ او دعا دواړه دي.

ځکه چې مونځ هم دُعا ده او دعا عبادت دی چونکه د دې وخت د د عا د قبولیت سره خصوصی نسبت دی ځکه په دعا یادیږي الله تبارک وتعالیٰ په قران کریم کښې د تهجد د عبادت ذکرکړی دی یو ایت کښې وائی:

اِنَّ نَاشِئَةَ الَّيْلِ هِيَ اَشَدُّ وَطْاً وَّ اَقْوَمُ قِيْلًا ۝٦ اِنَّ لَكَ فِي النَّهَارِ سَبْحًا طَوِيْلًا ۝٧

بېشکه د شپې پاڅیدل د نفس د مړلو دپاره ښه سخت دی او خبره ښه نیغه کولو والا ده.

او بل آیت مبارک کښې فرمائي:

تَتَجَافٰى جُنُوْبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَّ طَمَعًا ۫ وَّ مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ﴿۱۶﴾ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّآ اُخْفِيَ لَهُمْ مِّنْ قُرَّةِ اَعْيُنٍ ۚ جَزَآءً ۢ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۷﴾ (سجده ۲)

”د دوې اړخونه د بسترو نه جدا وي په داسې طرز چې د امید او یرې په حالت کښې د خپل رب نه دعا غواړي او چې مونږ څه ورکړي د هغې نه خرچ کوي هیڅا ته پته نشته چې د داسې خلقو د سترګو د یخ والي دپاره کوم سامانونه د غیب په خزانو کښې موجود دي دا دوې ته د دوې د عملونو بدله ملاؤ ده.

د حضورﷺ ارشاد مبارک دی علیکم بقیام اللیل فإنه دأب الصالحین قبلکم وإن قیام اللیل قربة إلی الله و مفکرته السیآت ومنهاة عن الإثم. د شپې د قیام پابندي کوی چې دا ستاسو نه وړاندې د صالحینو عادت او طریقه ده او ستاسو دپروردګار طرف ته د قربت ذریعه د خطاګانو د ختم وولو او د ګناه نه د منع کولو لاره ده حضرت ابو هریرة د حضور ﷺ نه روایت کوي عن أبي هریرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ((أفضل الصلاة بعد الفریضة صلاة اللیل))؛ د فرضو نه پس د ټولو نه افضل مونځ د شپې مونځ (تهجد) دي.

حضرت ابو موسی اشعری رضي الله عنه د حضورﷺ نه روایت کوي چې کوم سړی د شپې پاڅیدو خپله بي بي یې هم پاڅوله اوکه په هغې د خوب غلبه وي نو اوبه ورته په مخ واچوی او بیا دواړو په کور کښې مونځ وکړو او خدائی یې یاد کړو، نو الله تعالیٰ به دواړه اوبښي په تهجد کښې د الله تعالیٰ سره د زړونو د جوړ او د نفس پامالي د شپې د پاڅیدو سره راځي د شپې مونځ ذکر او دعاګانې د برکاتو خزانه د زړه د خلاصیدو کنجي، د رضائے رب پوړې او د آخرت سرمایه ده د زړه یکسوئي د شپې د یکسوئي نه حاصلیږي د تهجد وخت د دعا او استغفار دپاره خصوصي وخت دی حضرت ابوهریرة د حضورﷺ نه روایت کوي چې زمونږ رب د شپې په آخري دریمه حصه کښې آسمان دنیا ته نزول وکړي او فرمائي څوک دی چې مانه سوال کوي چې زه یې سوال پوره کړم څوک دی چې زما نه مغفرت غواړي چې زه یې اوبښم.

په بل روایت کښې داسې دی چې کله د شپې اولنۍ دریمه حصه تیره شي نو الله تعالیٰ آسمان دنیا ته نزول وکړي او فرمائی څوک د مغفرت طالب شته، آیا څوک توبه کولو والا شته، آیا څوک سوال کولو والاشته، آیا څوک دعا غوښتو والا شته او الله تعالیٰ دغه شان د طلوع فجر پورې دا وینا کوي هائے څه خوش نصیب دی چې خدائی بولي او دوې حاضر وي.

حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه چې کله وړوکی ؤو د خپل ترور ام المؤمنین حضرت میمونه سره یو شپه پاتې شو رسول اللهﷺ چې

کله تهجدو ته پاڅیدو نو لوټه د اوبو نه ډکه تیار پرته وه او مسواک ورسره ؤو هغوي تپوس وکړو چې دا چا کړې جواب راغی چې عبدالله ابن عباس کړی دی رسول الله ﷺ ډیر خوشحاله شو او هغه ته وې څه غواړې هغه داسې یو عجیبه خبره وکړه چې د یاد ساتلو جوګه ده: وې

من از تو هیچ مرادے دیگر نمی خواهم
همیں قدر بکنی کز خودم جدا نه کنی

زه نور هیڅ نه غواړم خو چې د ځآن نه مې جدا نه کړې رسول ﷺ ورته د قران کریم د علم او د تفقه دعا وکړه د کم عمری سره په صحابه ؤکښې د هغه یو علمي مقام ؤو.

دعائے نیم شبی عبدالرحمان:

لـه اول تښـر اووهـم بیـا آه کـړم
پـه نـارو نـارو خـروس د صـبحګام یم

زه بـه ولـې د خپـل یـار ثنانـه وایم
چې سحر سحر نـارې وهـي تـل غـوک

زه هر صبح شام دعا کوم و تا ته
ته وما وته کوې دشنام په څه

د خواجه عزیز الحسن مجذوب ناله هائے نیم شب:

سنے سوتے میں جس دم نالہ ہائے نیم شب میرے
تو چونک اٹھے وہ یہ کہہ کر کہ کیا وقت اذاں بدلا

آه سحرګاه علامه سید سلیمان ندوی:

ہے آہ سحرگاہ میں وہ ذوق لب و گوش
چنگ ونے و بربط کی صدا بھول چکا ہوں

وعدہ آنے کا شب آخر میں ہے
صبح ہی سے انتظار شام ہے

دل جو ملا سیاہ کار آنکھ عطا ہو اشکبار
دھوئے جو دل کو بار بار خلوت خاص راز میں

نیم شب آہوں میں پاتا ھوں کمی
درد دل شاید کہ کچھ کم ہو گیا

د حافظ دعائی نیم شب:

بہ ورد هیچ دگر نیست حاجت اے حافظ
دعائے نیم شب و ورد صبحگانہ بس

حافظ د بل وظیفې حاجت نشته د نیمې شپې دعا او د سحر وظیفه بس ده.

هر گنج سعادت کہ خدا داد بحافظ
از یمن دعائے شب و ورد سحری بود

د نیک بختی هره خزانه چې خدائی حافظ له ورکړه د شپې د دعا او د سحر د وظیفې برکت وؤ

منم که گوشه میخانه خانقاه من ست

دعائے پیر مغاں ورد صبحگاه من ست

د میخانے گټ زما خانقاه ده او د پیر مغان دعا زما د سحری وظیفه

بس دعائے سحرت حافظ جان خواهد بود

تو که چوں حافظ شب خیز غلامی داری

د سحر ډیرې دعاګانې به ستا د ځان حفاظت کوي ځکه چې د حافظ په شان شب بیدار غلام لرې.

سوز دل اشک رواں آه سحر ناله شب

این همه از اثر لطف شما می بینم

د زړه سوز، روانې اوښکې، د سحر آهونه او د شپې چغې سورې دا ټول ستا مهرباني ده.

اے نسیم سحری بندگی ما بر ساں

که فراموش مکن وقت دعائے سحرم

د سحر باد زما پیغام یوسه-چې د سحر دعاګانوکښې مې هیر نه کړې.

هر که از ناله شب گیر من آگاه شود

هیچ شک نیست که چون روز بداند رازم

څوک چې زما د شپې د چیغو نه خبر شي هغه ته زما د راز لکه د ورځ په شان پته لګي.

من آں مرغ ام که هر شام و سحرگاه

رسید تا سد ره آواز صفیرم

زه هغه مرغۍ یم چې هر سحر ماښام زما د شپیلی آواز سدرة المنتهی ته رسي.

حافظ عشق وصابری تا چند

ناله عاشقاں خوش ست بنال

اے حافظ عشق او صبر ترکومه - د عاشقانو ژړا ښه ده او ژاړه.

سرکش حافظ زه آه نیم شب

تا چو صحبت آئینه رخشاں کنند

اے حافظ د نیمې شپې د آهونو نه مخ مه اړوه – چې آئینه دی د سحر په شان روښانه شي.

دلا بسوز که سوز تو کارها بکند

دعائے نیم شبی دفع صد بلا بکند

زړګیه سوزه چې ستا سوز یدل ډیرکارکوي – د نیمې شپې دعاګانې سل بلاګانې دفع کوي.

بخدا که جرعه ده بحافظ سحر خیز

که دعائے صبحگاهی اثر کند شمارا

خدائې دپاره سحر خیز حافظ ته یوګوټ ورکړه چې د سحر دعا تاله ښه ده.

ہمیشہ تیر سحر گاہ من خطا نہ شدے
کنون چہ شد کہ یکے کار گر نمی آید

زما د سحر غشی چرته خطا شوی نه دی – اوس څه چل دی جو یو هم پکار نه راځي.

خندہ و گریہ عشاق زجائے دگر است
می سرایم بہ شب و وقت سحر مویم

د عاشقانو خندا او ژړا د بل ځایه وي – زه د شپې سندرې وایم سحر ژاړم.

بیار مے کہ چون حافظ مدام استغفار
بگیریۂ سحری و نیاز نیم شبت

شراب راوړه چې د حافظ په شان زما استغفار د سحر د ژړا او د نیمې شپې د عاجزۍ دی.

مہ رو بخواب کہ حافظ بہ بارگاہ قبول
زورد نیم شب ودرس صبحگاہ رسید

مۀ اوده کېږه چې حافظ د قبولیت درګاه ته د نیمې شپې د وظیفې او د سحر د درس د وجې اورسید.

سزائے قدرتو شاھا بدست حافظ چیست
بہ جز نیاز شب ئے یا دعائے صبحدمے

اے شاه د حافظ په لاس کښې ستا د شان څه دي سوا د شپې د دعا نه یا د سحر نیاز نه.

درته وایم له آه یې پرهیز کړه:

دعا په عام حالاتو کښې هم غوښتی شي اضطراري حالاتو کښې هم دعا د خدائی تعالیٰ نه غوښتی شي خو ټارګټ یې کله خپل ځان خپل صحت وي کله رزق وي کله څه مشکل او مسئله وي او کله د بل انسان د پاره هم وي خو د بدعا یا ښیرو ټارګټ اکثر انسان وي چې په ښیرو والا باندې یې ظلم زیاتی کړي وي ښیرو والا اکثر کمزوری ضعیف بې بس او بې کس وي نور څوک مددګار ملګری یې نه وي نو د خدائې تعالیٰ نه د مدد طلبګار شي ظالم سړی همیشه متکبر او مغرور وي مطلب دا چې د الله تعالیٰ سره ځآن برابروي، نو د ښیرو د قبلیدو دوه وجهې جوړې شي یو د مظلوم عاجزي بے بسي او بے کسي او دویم د ظالم تکبر او غرور.

د ښیرو سلسله ډیر د پخوا نه را روانه ده یو طرف ته به پیغمبر د قوم په خیر خواهی کښې خپل آخري کوشش او سعې ته ورسیدو چې ستړی بې بس او بې وسه به شو او بل طرف ته به قوم د جهالت سرکشي، او ظلم هغه حد ته ورسید چې پیغمبر به چغې ووهلې متی نصرالله خدائې ستا مدد به کله راځي او ښیرې به ئې د خولې نه ووتې لکه څنګه چې د نوحؑ علیه السلام په باره کښې راغلي: سورة نوح ۲۸-۱.

وائې چې نوحؑ خپل قوم ته 950 کاله تبلیغ وکړو آخر کښې په فریاد شو چې خدائې دوې ته ما د شپې د ورځې په رو او په زور هر قسم

تبلیغ وکړو ستا نعمتونه او رحمتونه مې ورته یاد کړل – اے پروردګاره د دې هر څه نه پس هم زما وینا ونه منله بلکه د دوې د مزید سرکشۍ سبب جوړ شو. یا الله اوس ستا د وینا مطابق:
((لَنْ يُّؤْمِنَ مِنْ قَوْمِكَ اِلَّا مَنْ قَدْ اٰمَنَ فَلَا تَبْتَئِسْ بِمَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ)) نه ماته معلومه شو ه چې اوس دوې ایمان نه راوړې نو دا دعا هم کوم چې د دې ظالمانو ګمراهي نوره سیوا کړې او نوحؑ دا هم وویلې چې اے زما رب چې د کافرانو نه په زمکه یو تن پرینږدې که په دنیا کښې دوې یو تن هم پاتې شو نو ستا بندیان به ګمراه کوي او د دوې نه به محض فاجر او کافر اولاد پیدا کېږي د دې ظالمانو هلاکت نور هم سیوا کړې چې د خلاصیدو څه صورت ئې پاتې نه شي.

په سورة هود کښې ذکر دی چې صالحؑ علیه السلام خپل قوم ته وویلې د الله تعالیٰ دا اوښه ستاسو دپاره نښه (معجزه) ده دا پریږدې چې د خدائې په زمکه باندې خورې څکې دې ته په بدنیت باندې لاس مه لګوئ ورنه عذاب به درباندې راشي هغوې د اوښې پښې کټ کړې نو عذاب راغی یو خوفناک آواز راغئ چې دا ظالمان ټول په خپلو کورونو کښې پړمخې مړه پراته ؤو صالحؑ او د هغ ملګري خدائې پاک د دې عذاب او د دې بدې ورځې د رسوائې نه بچ کړل.

او په سورة هود کښې وائې چې کله لوطؑ ته زما لیګلي کسان راغلل نو د دوې په راتلو هغه خفه شو او زړه ئې تنګ شو او وې

وئیل چې نن سخته ورځ ده او قام ئې په منډه راورسیدو میلمنو سره د حرام کارۍ په نیت لوطؑ اووې زما د قوم جینکۍ شته دی او د میلمنو مخښکې ما مه شرموئ تاسو کښې څوک د سړي بچې نشته کاش چې په ما کښې ستاسو د مقابلې زور وی او یا یو مضبوط پناه ګاه ته دننه شوی وی هغه میلمنو اووې مونږ خدائې رالیږلي یو ته د خپلو کسانو سره د شپې ووځه د دوې نیټه سحر دی آیا سحر نزدی نه دی بیا د خدائې په حکم د هغه بستی اوچته کړې شوه او الټه را ګزاره شوه او مونږ په نشان والا کانړي اورول.

دغسې د حضرت موسیٰؑ په شان زورور پیغمبر هم د قوم د ناکردو د لاسه لاچاره شو او بدعا ئې وکړه د بلغم بن باعوره قصه د ښیرو یو عجیبه مثال دی. ((سورة یونس ۸۸-۸۹))

او موسیٰؑ اووې رب زمونږ تا فرعون او د هغه سردارانو ته په دنیا کښې رونق او مال ورکړې دی دپاره چې ستا د لارې نه مخلوق ګمراه کړي اے رب ختم کړې د دوې مال او سخت کړې د دوې زړونه چې ایمان را نه وړي تر هغې چې دردناک عذاب اووینې الله تعالیٰ وفرمایل ستاسو دعا قبوله شوه تاسو دواړه ثابت اوسې او د نا واقفانو په لاره باندې مه ځئ.

کله چې حضرت موسیٰؑ د خدائې په حکم د بنی اسرائیلو د لښکر سره په جبارین باندې د حملے کولو دپاره اورسیدو نو قوم جبارین

خپل پیشوا بلعم باعوره[1] ته په فریاد راغلل چې د موسیٰ او د هغه د لښکر خلاف بد دعا وکړي بلعم وي چې د پیغمبر خلاف بد دعا نه شم کولی خو د خلقو د اصرار په وجه دې ته تیار شو چې خدائی پاک نه به تپوس وکړم استخاره کښې ورته ووئیلې شو چې بد دعا مه کوه.

آخر د خپلې بی بی په سفارش او د څه روپیو رشوت په لالچ کښې بد دعا کولو ته تیار شو د الله تعالیٰ عجیبه قدرت وو، چې د موسیٰ او د هغه د لښکر په ځاې خپل قوم ته بد دعاګانې شروع کړې قوم چغې کړې چې ته خو مونږ ته بد دعا کوې هغه وې چې زما ژبه زما په اختیار کښې نه ده.

د دې په خلاف قادر نه یم خو یو چل درته ښایم چې خپلې جینکی د اسرائیلو لښکر ته ولیږئ چې څه ورسره کوي په دې چل به هغوې د ګناه مرتکب شي او فاتح به نه شي موسیٰ په دې سکیم پوه شو خو د لښکر د یو غټ سړي نه دا ګناه صادر شوه نو په لښکر کښې طاعون خور شو چې په یو ورځ کښې اویازره کسان مړه شو خلقو هغه سړی مړکړو توبه ئې اوښکله نو طاعون رفع شو.

مثالونه خو ډیر دي لنډه دا چې د حافظ الپوري په شان مسکین عاجز طبیعت هم ښیرو ته مجبوره شی.

1: چاسره چې اسم اعظم ؤو

سوال که د حافظ چرې په در د رب قبلیږي
اور وهلی چوب د شي ر کوم چې بیا شین نه شی

رحمان بابا او ښیرې:

چې د آه و د فریاد طاقت یې نه وي
هر سکوت د بې طاقتو آه فریاد دی

چې خندائې د بلبل په آه سرد کړه
خدائې د ګل ګریوان پاره کړو سینه چاک

په ښیرو په دعا څه شی کړونی خدای دی
چې خدائې نه کا ښیرې څه کا دعا څه که

چې زما د یار تر مینځ جدائې کا
کانړي پریوتی په خونه د بدانو

چې زما پر چمن ورشي ګستاخي کړي
د شبنم په څیر ئې عمر یو زمان کړ

چې آزاده د منکر ترسر پریوزي
د فلک په څیر مې توره د زبان کړي

پر هر چا چې د غضب لینده کړې کښنه
خطا نه درومي ګزار د درویشانو

د آه غشی ئې په زمکه کله لګي
هر قامت چې کمان طور خمیده شي

د رقیب و نا کردو ته چې نظر کړم
د عاشق له آه ړوند په تور لیمه شوې

چې راکښلې مې پر غشي د دعاؤو
هغه نښه مې ونه ویشته خطا شوه

لکه پوچ بادام بې مغز بې حاصل
هسې پوچ بې حاصله مې دعا شوه

هر طرف مې د دعا غشي ګزارکړل
ولې یو هم هسې نه وو چې کارګر شه

خواجه عزیز الحسن مجزوب:

خدا سے ڈر ارے نادان نہ ہو مجذوب کے در پے
تجھے اے محتسب تحقیق بھی ہے کچھ مسائل کی

دم بخود ہے ضبط کا مارا ہوا مجبور ہے
آہ کے نزدیک ورنہ آسمان کیا دور ہے

ستائے بھی کوئی تو پائے دعائیں
گدا ہوں میں سب کا بھلا چاہتا ہوں

د حافظ شیرازي د بد دعا غشی:

تیر آہ ماز گردوں بگذرد جان عزیز
رحم کن بر جان خود پرھیز کن از تیر ما

اے ګل زما د آه تیر د آسمان نه تیر شي په ځان رحم اوکه زما د غشي نه ځان وساته.

ہمیشہ تیر سحرگاہ من خطا نہ شدے
کنوں چہ شد کہ یکے کار گر نمی آید

زما د سحر غشی چرته خطا شوی نه دی څه چل دی چې اوس یو هم په نښه نه لګي.

زشست صدق کشادم ھزار تیر دعا
آزاں میانہ یکے کارگر نمی آید

ما د صدق د مورچې نه زرغشی ویشتل – په هغې کښې یو هم پکار نه شو.

اے یار حذر ز آہ ما کن
کہ آتش نبرد حجاب مستور

اے یاره زما د آه نه بچ شه چرته اور د پټ شوي پرده او نه سیزي.

نمی ترسی ز آہ آتشین ام
تو دانی خرقۂ پشمینہ داری

ته زما د آتشین آه نه یریږې تا ته پته ده چې پشمینه خرقه لري.

په آزار د چا راضي مه شه رحمانَ:

په انسان باندې دوه قسمه حقوق لازم دي یو حقوق الله لکه مونځ، روژه، حج، زکوة او نور داسې کارونه چې دکومو کارونو دکولو حکم دی هغه کول دي او دکوم نه چې منع راغلې ده هغه پرېښودل دي دویم حقوق العباد دي حقوق العباد هم په اصل کښې حقوق الله دي ځکه چې د خدائ د طرفه مقرر دي خو الله تعالی ورته حقوق

العباد وئيلي دي نن صبا د هرکار د آسانولو دپاره د ون ونډو اپريشن اصطلاح ډيره مشهوره ده ما سوچ کولو چې په اسلام کښې د دې اصطلاح استعمال څه رنګ کيدی شي چې انسان د هغې په ذريعه نېکۍ کوي او د ګناه نه ځان بچ کوي نو يو حديث مبارک مې مخې ته راغی حضرت عبدالله ابن عمر فرمائي چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم ارشاد دی چې مسلمان هغه دی د چا د خلې او د لاس د آزار نه بل مسلمان بچ وي او ورسره د حافظ شيرازي دا شعر راته مخکښې شو:

مباش در پے آزار هر چه خواهی کن
که در شریعت ما غیر ازیں گناهے نیست

د چا په آزار پسې مه کيږه نور چې څه کوې ځکه چې زما پر شريعت کښې د دې نه بغير بله ګناه نشته او رحمان بابا هم دا خبره کوي.

په آزار د چا راضي مه شه رحمانَ
که خلاصی په قيامت غواړې له عذابه

نو زه خپل مقصد ته اورسيدم مطلب دا چې آزار يو داسې څيز دی که انسان دا خيال کول شروع کړي چې دا کارکوم الله پاک خو به نه خفه کېږي او دا کار اوکړم يا ونه کړم نو چاته به آزار خو نه رسيږي يعنې که ته صرف د آزار خيال اوساتې نو د ډيرو ګناهونو نه به بچ شې نو مونږ ورته هغه "ون ونډو اپريشن" وئيلی شو چې د هرکار

د صحيح او غلط فرق مخې ته کولی شي او ته د ګناه نه بچ کيدی شې.

آزار د چا ځان مال او عزت ته نقصان او تکليف رسولو ته وائي ځکه ښيرې، بد دعا او آه د آزار جُز او رد عمل دی څنګه چې حديث مبارک د آزار نه د ځان ساتلو هدايت کوي رحمان بابا او حافظ شيرازي هم د آزار نه ډير يريږي د آزار آغستو نه ډډه کوي او ما او تا ته هم نصيحت کوي چې د آزار نه پرهيز وکړئ د آزار حقيقت ورته معلوم دی رحمان بابا په کومه کومه طريقه د آزار حقيقت او د هغې نه د ځآن ساتلو طريقې مونږ ته په خپلو اشعارو کښې بيان کړې دي.

ميړني وئيلي بويه و هغه ته
چې بې وجهې آزار نه کړه هيڅ سړی

په آزار د چا راضي مه شه رحمان
که خلاصی په قيامت غواړې له عذاب

هم هغه به پس له مرګ آزاريږي
هر چې بل آزاروي په دا جهان کښې

آدم زاد په معنی واړه يو صورت دی
هر چې بل آزاروي هغه آزار شي

دل آزار که دل آزار که مانه نه شي
حيف خو دا دی چې دل سوز شي دل آزار

ما خو نه دي څوک بې وجهې آزارکړي
دا چې ما آزاروي آزار د چا دی

د هجران په بیماری کښې رامعلوم شه
چې آغستی مې آزار د پلار و مور دی

بې سبب چا آزار موندلی نه دی
تا په څه سبب آزارکړ ځما دل

خدائی د یو له بل هیڅوک آزار مه کا
اے دلبر ماخله ته آزار ځما

په یاري کښې آزار نشته خدائی د نه کا
که ذره به ځما زړه له تا آزار وي

په ځومره زور او درد سره ما او تا د آزار د حقیقت نه خبروي او نصیحت راته کوي.

درته وایم له آه ئې پرهیز کړه
د هغو چې پوشاکونه پشمینه وي

د آزار باره کښې د بابا او حافظ شیرازي په خیالاتو، احساساتو او کلام کښې ډیر مماثلت دی بلکه زه به اووایم چې حافظ صاحب یو قدم د ده نه نور هم وړاندې دی.

مباش در پئے آزار هر چه خواهی کن
که در شریعت ما غیر از ایں گناہے نیست

څوک مه آزاروه نور چې څه کوې ځما په شریعت کښې د دې نه غیر بله گناه نشته.

باده می نوش و مه آزار تو کسی را حافظ
ز انکه آزردن مردم همگی عین خطا ست

حافظ شراب څښکه خو څوک آزاروه مه ځکه چې د بنیادمو آزارول عین خطا ده.

د آزار د حقیقت واضح کولو نه پس د آزار نه د بچ کیدو نصیحت هم کوي.

تیر آه ما ز گردوں بگذرد جان عزیز
رحم کن بر جان خود پرهیز کن آز تیر ما

اے گله ځما د آه غشی د آسمان نه تیریږي په ځان رحم اوکه زما د غشي د آزار نه پرهیز اوکه.

اے یار حذر زه آه ما کن
که آتش نبرد حجاب مستور

اے یار ځما د آه نه ځان بچ کړه چې اور په پرده کښې پټ هم نه پریږدي.

حافظ شیرازي د هر قسمه دشمنۍ او آزار نه د بچ کیدو نصیحت کوي او په دنیا کښې د آرام او د ښه ژوند تیرولو طریقے ښائي.

شنیدم که مردان راه خدا
دل دشمنان هم نکردند تنگ

آوریدلي مې دي چې د خدائی دوستان د دشمنانو زړه هم نه تنګوي.

ترا کے میسر شود ایں مقام

کہ با دوستانت خلاف ست و جنگ

ته به دا مقام څنګه بیا مومې چې خپلو دوستانو سره په جنګ ئې.

حافظ گرو صل خواہی صلح کن بام خاص وعام

با مسلمان اللہ اللہ با برہمن رام رام

حافظ که وصل غواړې نو د هر عام وخاص سره صلح اوکه مسلمان سره الله الله برهمين سره رام رام.

آسائش دوگیتی تفسیر ایں دو حرف است

با دوستان تلف با دشمنان مدا را

د دواړو جهانونو آرام په دې دوه حرفونو کښې دی چې د دشمنانو سره نرمي او د دوستانو سره مخ مروت کوه.

یک حرف صوفیانہ بگویم اجازت است

اے نور دیدہ صلح بہ از جنگ و داوری

که اجازت وي نو یو صوفیانه ټکی اووایم اےد سترګو توره! د جنګ او زور نه صلح ښه ده.

حافظ شیرازي وائي چې څوک هسې په آزار نه آخته کېږي بلکه د چا بزرګ سره په جنجال کښې آخته شي هغه ته آزار اورسوي او د ښیرو په زد کښې راشي لکه چې وائي.

بس تجربہ کردیم دریں دیر مکافات

با درد کشان هر که در افتاد بر افتاد

په دې دنیا کښې مې تجربه اوکړه څوک چې د فقیرانو سره اونښت په هغه ورانه شوه.

چون خدا خواهد که پردهٔ کس درد

میلش اندر طعنه پاکان برد

خدائې پاک چې د چا پرده ماتول اوغواړي د پاکانو سره ئې په لانجه واچوي.

بے عنایات حق و خاصان حق

گر ملک باشد سیاه گردد ورق

د خدائې د خاص بندیانو د مهربانۍ نه بغیرکه فرشته وي هم کار یې خراب دی.

هیچ قومے را خدا رسوا نه کرد

تا دل صاحب دلے ناید به درد

هیڅ قوم خدائې نه رسوا کوي چې د بل زړه یې دردولی نه وي.

❖❖❖

باب : ۳

لا پخوا تر خلقو خپل ځان ملامت که

خود پخپله تله واخله عدالت که :

هغه سړی کامیاب دی چې همیشه د خپل نفس نګراني کوي او په ځاې د بل د خپلو عیبونو په تلاش کښې وي یو بزرګ وائې چې ما دا چل د پیشو نه زده کړي پیشو چې کله مږه نیسي نو سوړې خواته غلې په قلاره ناسته وي نه حرکت کوي نه آواز وباسي نه یو خوا بل خوا ګوري بس توجه ئې د مږې په سوړه باندې وي او چې کله مږه د سوړي نه سر را بهر کړي نو پیشو پرې ورغوځه شي ځکه زه هم د خپلو عیبونو په تلاش کښې یم.

پکار ده چې انسان همیشه د خود احتسابی په عمل کښې وي د حضرت اشرف علی تهانوي قول دی چې کله د شپې اوده کېږي نو د ټولې ورځې د عمل احتساب وکړه چې نیکي دې څومره کړې او بدي څومره- په بدو باندې توبه وباسه او د آئنده دپاره په نیکو باندې د عزم او استقلال سره د عمل کولو اراده وکه چې کومه خبره کول غواړې اول ئې احتساب وکه چې دا خبره به ماله نیکي راکړي که بدي که دا خبره ونه کړم نو څه نقصان به وشي که څه دیني دنیاوي نقصان ئې نه کېږي نو مه ئې کوه رحمان بابا د خود احتسابي قائل دی خپله احتسابي هم کوي او بل ته هم وائې اول ئې ځان ته وائې بیا ئې بل ته وائې دا چې په وخت د ځنکدن ږیره وکاږي نو اوس تدبیر وکړه چې د بل په سر خاورې اچوې خپل ځان

هم مړ حساب کړه کور د خور شه پخپله خو لګ فکر وکړه.

چې نیکي بدي په تله کښې تلل شي
خود پخپله تله واخله عدالت کړه

څو به ګوري د قیامت و ورځو شپو ته
خو هم دا جهان په ځان باندې قیامت کړه

که څوک تله د انصاف درته په لاس کا
خپل ټټو او د بل اس به برابر کړي

تو لعنت دی په دا هسې منصفي شه
چې له حق و باطل وته ګزر کړ

چې مرده پسې تکبیر او کاروان شي
څوک ګمان په ځان د هسې تکبیر نه کا

په دنیا پسې درست عمر زهریږي
ځان یو دم د خدائې دپاره زهیر نه که

یو ساعت د خدائې په ذکر مشغول نه شوې
تمام عمر د خپل ځان په غم مشغول

ځان پخوا تر هغه او ژړا که مرد ئې
چې په تا باندې ژړا که نور عالم

نور عالم چې په تا ژاړي انصاف وکړه
بې انصاف ته په څه یې خوش خرم

کـه زه نـه وایم تـه خـود سـترګې رنـړې کـړه
کـور د خـور شـه تـه چار پـائې کـه آدم

اې رحمان لکه ته چې په خدائې ګرم یې
بل به نه وي په جهان کښې هسې ګرم

عبـادت دی څـو تیـری تـر معصـیت کـړه
څـه خـو ونیسـه و ځـان تـه آئینـه

چـې پـه وخـت د ځنکـدن وکـاړې ږیـره
تـر و نـن ولې هسې رنګ یې بې تـدبیره

پـه انصـاف د عـدالت بـه نوشـیروان شـې
هـر عمـل چـې د خپـل ځـان پـر تـرازوکـړې

اې رحمـان اول تـه نصـیحت واخلـه
دغـه پـس بیـا وبـل تـه نصـیحت کـړه

دا وئیـل دې اثـر کلـه کـا پـه نـورو
اې رحمـان پـه ځـان ولـې اثـر نـه کـړه

چې وبل ته نصیحت کا ځان یې هیر وي
نور څوک نه دی هغه ته عبدالرحمن یې

چې لائق د ملامت او د تهمت شي:

د صوفیاؤ یو طبقه ده چې د ظاهري شریعت د غټو اعمالو پابندي خوکوي ولې د خپل زړه حالت، تقوی، ذکر، تسلیم ورضا او اخلاص غندي اعمال پټ ساتي- دا د دې دپاره چې د ریا نه بچ شي

او بعضې داسې کارونه کوي چې په شریعت کښې مباح دي مطلب چې که کوي یا نه کوي څه ګناه ئې نشته خو غټ خلق ورته په ښه نظر نۀ ګوري دوې د چا پروا نه ساتي حق ګوري ښکاره خبره کوي اګرکه د حکومت نه خلاف وي بې نیاز وي د مخلوق په مدح او ذم ئې هیڅ کار نه وي دوې ته به ئې پخوا ملامتي وي.

او په ایراني اصطلاح کښې ورته قلندر وائي.

د رحمان بابا کلام نه معلومېږي چې دې هم د دغه طبقې یو فرد دی ځان ملامت ګڼړي وائي چې ملامته هم د تهمت قابل یم خلق مې هم ملامته کوي او هم راباندې تهمت وائي خو رحمان نه د چا سره جنګ جهګړې کوي او نه چاته بد وائي په خاموشي سره خپل کار کوي خپل لوي نه وائي.

په پیغمبرانه اصولو باندې قائم دی خلق ورته کنځل کوي او دې ورته دعاګانې کوي خلق اذیت ورکوي او دې د هغوې د ښیګڼړې لارې ګوري خدایې دې هر چاته داسې خصلت ورکړې.

هر سړی چې په حساب کښې تیرو بیر شي
ملامـت پـر وایـه کېـږي لـور پـه لـور

چـې لائـق د ملامـت او د تهمـت شـي
ځـاې لـري کـه بـې عـزت شـي هـم سـرتور

زه یو خوار وزار یم رحمان په عاشقي کښې
خپـل دی کـه پـردی دی راتـه نۀ ګوري لـه عـار

چې نور خلق ملامت دربانديږ وائي
لاپخوا تر خلقو خپل ځان ملامت کړه

ملامت په عاشق ښائي دا دستور دی
چې روغ خلق په رنځور پوري خندا که

لور په لور ئې د تهمت په غندو ويشتم
ملامت راباندې وائي درست جهان

ملامت به په ما څه لره وايه شه
که د ستا د دلبرئ نه څوک خبر وي

که رحمن په عاشقي ملامت کېږم
ما په سترګو قبول کړی دا پيغور دی

په رحمان باندې به هيڅ ملامت نه کا
هر سړی چې ستا له مخ خبردار وي

هغه څوک دی چې تهمت پر وايه نۀ شي
غوږ په هيچا باندې مۀ باسه خپل کار کړه

مدعی چې په خوله ورشي هغه وائي
ګوش و هوش د محبانو په ګفتار کړ

که نظر کا و رضا و هم قضا ته
په هيچا باندې به نه کا ملامت څوک

په خندا کښې مې ژړا ده لکه شمع
له عالم پټ پنهم د ځان په ويريم

که صورت مې د سړيدی زه يې څه کړم
په معنی کښې د چارپايو په حساب يم

چې و خپلو ګناهونو ته نظر کړم
سزاوار د هر عذاب د هر عتاب يم

لکه څوک چې په خره سور وي مخ يې توروي
زه هم هسې تر ښتن پورې بې آب يم

چې د خدای له معرفته خبر نه شم
معلومېږي چې يا ديو يم يا دواب يم

تر هغه حد په هور ته بد سړی شوم
چې د درست جهان پر سترګو کښې اغزی شوم

دنيا واړه سره زيست و روزګار کاندې
خو يو زه په دغه بار کښې کوږ لړګی شوم

تمامي جهان لمن راڅخه نغاړي
سپين زړوکی مې اغوستی تورکودی شوم

زه عار نه لرم په عشق کښې له پيغور
بې پرواه يم د ستي په څير له اور

زه رحمن کناره خوښ يم له عالمه
باري ستا سترګو رسوا کړم په عالم کښې

دا خبره زه و ځان ته کړم اے ياره
دلګير مه شه که مې نوم واغيست د ستا

نوم د ستا و د بل اخلم ځان ته وایم
نۀ مې کار نۀ مې غرض شته په بل چا
چې د نورو خلقو په سر اچوې خاورې
تۀ په خپله خاورې ولې په سره نه کړې

نه پوهیږې په خپل سود و په زیان ولې ! :

انسان د اختیاري امورو مکلف دی د غیر اختیاري امورو او اعمالو مکلف نه دی تمام احکام او د شریعت جمله او امر د انسان اختیار او استطاعت او د بنی آدم د فطري قوت او وسعت مطابق مشروع کړی شوي دي د دوې ادا کول د شرعي استطاعت او وسعت په قدر دی د اختیاري امورو او اعمالو په کولو کښې د سستی او آسانۍ لټولو ګنجائش او اجازت نشته.

انسان د ارادې مکلف دی د نیکۍ د ارادې سره د توفیقات الهی دروازه پرانستی شي د شر د ارادے سره د الله تعالیٰ رضا شامله نۀ وي خو په زور منع کولو دپاره د چا لاس هم نه نیسي ځکه چې دا دخیر او شر د حکمت نه خلاف دی بلکه الله تعالیٰ اختیار ورکړی:
﴿فَمَنْ شَآءَ فَلْيُؤْمِنْ وَّ مَنْ شَآءَ فَلْيَكْفُرْ﴾ پس چې څوک غواړي چې ایمان راوړي او که کافر کیږي.

رحمان بابا هم د هغه ګله کوي چې الله تعالیٰ درله طاقت او استطاعت درکړی چې نیکي وکړې خو ستا نیکي کولو ته ملا ماته ده او بدي لو ګناه کولو ته بیا پهلوان یې.

بابا یو مثال درکوي او یادګیرنه کوي چې ګوره و یښ شه خپل عمل صحیح کړه اوس هم وخت شته ته په خپل ښه او بد نه پوهیږې او چه کله ډیر تنګ شي نو وائي:

که زه نۀ وایم ته خود سترګې رنړې کړه
کور د خور شه ته چارپائي که آدم

بدلوې په دنیا دین و ایمان ولې
نۀ پوهیږې په خپل سود او په زیان ولې

یو قدم د خدائې په لور اینښودی نشې
تمام عمر په پراته لاړې ولې

چې په هر بیګاه سامان د هر سبا کړې
کور وکر شوې د محشر په سامان ولې

همیشه په ځاې د شکر شکایت کړې
منکریږې په عطا د سبحان ولې

هغه کار چې دی په نرم وئیل کیږي
بیهوده په بیرته ولې لاړې ولې

په نور چاپسې بې خداې ژاړې ولې
دَ چارپائی په څیر بې ځایه ناړې ولې

چې روټې میده کوې په شخوند خو جوړ ئې
ترو خبرې کوې لواړې ولې

یوه شپه په طاعت نهٔ شي رنړولی
هره شپه په مال و ملک پسې پاسبان يې

اوداسه له کوزه اغستی نه شي
چې په لو او په لور ورشي پهلوان يې

ونمانځه ته چې نمر خیژي هاله پاڅي
په قلبه پسې په نیمه شپه روان ئې

پټې سترګې لکه ستور په ګانړې ګرزي
که پریوزي وکوهي وته روان ئې

په تسبیح دې تانده ژبه وچ لرګی شي
پوچ ګوئي لره بلبل غوندې ګویان ئې

همره سر د خپل خداې وته ټیټ نه کړو
لکه ټیټ په لور د خان و د سلطان ئې

دهلک په خیر به لاس اچوې اور ته
نه خبر په خپل بهبود نه په نقصان يې

په ځوانۍ کښې بد دماغ و بدګمان يې
چې پیري دربانديي راشي بیا ناتوان يې

له خالق روګردان شوې و مخلوق ته
بیا و ځان ته عاقل وائې نا معقول

نصیحت لکه هلک دربانديي تریخ دی
د دنیا په شریني پسې ملول

خدائې و تاته دین دنیا په غوره کیښود
تا دنیا کړه په دا دواړو کښې قبول

چې باقي زندګاني په فنا پلوري
ځان په کوم دانش دانا بول مجهول

لکه څوک تر مکې لاړ شي بیا ترې راشي
د دنیا دپاره هسې لوئې سفر کړې

نهٔ دې فرض د خدائې ادا کړو
نه سنت د پیغمبر

عبادت دې په ریا شو
نه رهرو شوې نه رهبر

یو ساعت د خدائې په ذکر مشغول نهٔ شوې
تمام عمر د خپل ځان په غم مشغول

ورځ دې تیره په شومې شوه شپه له خوابه
خدائې به کله یادوې خانه خراب

هسې رنګ په مذبذب صفت موصوف شوې
نه پوهیږم چې ناس یې که خناس

د عیال دپاره تیر تر سرومال شې
دلجوئي په یوه ټوک د فقیر نهٔ کا

خم قامت د دنیا کارکړې عمر واړه
او په دوه رکعته نفلو نهٔ شوې خم

یو و یښته د عقیدې دې په تن نشته
سر تر پایه هسې ډوب ئې په وسواس

د ناپاکو چارې کاندې خو به ګرم شې:

چې شکل و صورت، وضع قطع طور طریقے د نیکانو لرې کوشش او دکھا وائی دا وی چې د خلقو پرې د نیک او پارسا یقین راشي اوکارونه د ناپاکو او ناجائزو کوي.

د خلقو په مخکښې بزرګي او پارسائي ښکاره کوي او د خلقو نه بیل هغه کارونه کوي چې غل لوکاسیر به ئې هم ونهٔ کړي مطلب دا چې هم ریا و شرک کوي او هم منافقت د بل د ناجائز کارونو خو مخالفت کوي او پخپله چې هم هغه ناجائز کار کوي، نو د هغې تاویل کوي او د هغې د ټهیک ثابتولو کوشش کوي.

په قول د عبدالعزیز کشمیري جهتے هوئے نور جمال کو کا کر کا سب حلال یعنې د بل دپاره حرام او د ځان دپاره حلال.

رحمان بابا د داسې کسانو حال بیانوي د هغوې حقیقت راښکاره کوي او د اصلاح کوشش یې کوي او د داسې خصلت نه د پرهیز نصیحت کوي خو ګوره انداز یې څومره خائسته شائسته. نصیحت آموز او دل ګذار دی ((هر چه از دل ریزد بر دل ریزد))

دل سے جو بات نکلتی ہے اثر رکھتی ہے
پر نہیں طاقت پرواز مگر رکھتی ہے

په ورځ پند او نصحیت وائې و بل ته
په شپه ناست یې د مغان په خرابات

دین یې دام وي د دنیا په لارکښې ایښې
پرې را اړوي وحشیان د مخلوقات

په دستارکښې ئې مسواک وي
تر بغل لاندې خنجر

په شپه وینې د مظلوم خوري
صبا کیني په منبر

د دنیا په طلب ګرځي
خپل ځان بولي قلندر

کلمه په ژبه وائې په زړه نه لري باور
دا بیان دورو دراز ؤو رحمان وکړو مختصر

په هغو غوږو چې ذکر د خداې اوري
بیا سماع په هغه غوږو د رباب کړي

په هغه شونډو چې حمد وثنا وایي
هم هغه شونډې بیا ډوبې په شراب کړي

علم وکړي هیڅ عمل ورباندې نه کړي
لکه طفل هسې لوبې په کتاب کړي

د اطلسو قبا غواړي نهٔ یې مومي
له ناکامه د خرقه کړه پشمینه

چې په ورځ د شیخۍ لافې کړي رحمان
په شپه مې له مے فروش غواړي ولې

هسې چارې له ناصح واقع کېږي
چې د شرم يې هيڅ غل وکاسير نۀ کا

دانسته ګناه کوي توبې اوکاږي
لکه بت هسې په پټو سترګو خواب کړه

چې اغوستې يې لباس وي د پاکانو
د ناپاکاو چارې کاندي خو به ګرم شي

په شپه پروت يې د مغان په ميخانه کښې
او د ورځې مخ په لورې د محراب کړې

تمام عمر د دنيا په طلب ګرزې
بيا د خداې په طالبانو ځان حساب کړې

خدائې رازق ګڼړي او رزق ګڼړي له کسبه
په دا شناخت و ځان ته وائې حق شناس

له خالق دې نه شرم نه حجاب دی
له رحمان ګوشه ونيسې حجاب کړې

د اوبو په ويش چې ورشي انصاف نۀ کا
که په لاس کښې ئې ورقونه دکتاب وي

د اوبو په غلا چې ورشي نه جار وزي
که ساکن د خانقاه و د محراب وي

هغه زړه چې آئينې غوندې روښان شي:

زړه د انسان د بدن بادشاه او د ټول اعضاء نه زيات معزز او مشرف عضو ده چې سړی اوده شي ظاهري حواس ئې معطل شي، نو د زړه دروازه روحانيت طرف ته خلاصه شي او چې کله مړ شي نو بيا خو دا دروازه ټوله خلاصه شي او غيب پاتې نه شي خو په ويښه هم که څوک د محنت او مشقت نه کار واخلي د خواهشاتو نفساني نه ځان بچ کړي اخلاق حميده اختيار کړي او د رزائلو نه اجتناب وکړي نو د زړه دروازه روحانيت طرف ته کهلاؤ شي خلق چې څه خوب کښې او د مرګ نه پس ويني دۀ ته په ويښه ښکاره شي دې بيا عجيبه تماشې ګوري او هغه څه ويني چې په امکان کښې نه راځي لکه د فرشتو او انبياءؑ عليهم السلام صورتونه او د زمکې آسمانونو ملکوت ورته ښکاره شي.

دا صرف د انبياء عليه السلام دپاره مختص نه دی بلکه د خپل اصل په اعتبار سره هر سړی د دې قابل دی لکه څنګه چې خاوره شګه وغيره د دې قابل دي چې آئينه ترې جوړه شي چې د جهان تصويرونه پکښې ښکاري د هغسې د هر انسان زړه دی مګر دا چې د دنيا خواهشات حرص او ګناهونه دومره غلبه شي چې په زړه باندې د زنګ يو خيرن لهر راشي او په زړه کښې هغه قابليت پاتې نۀ شي رحمان بابا هم د هغه زړه خبرې کوي چې آئنې غندې صفا وي په آخلاقو حميده آراسته وي او د رزائلو نه پاک وي دا خبرې

په داسې شوق او زړورتیا سره کوي لکه رحمان بابا دا هر څه پخپله وینې ځکه ئې خبروکښې زور شته لکه چې وایي:
شنیده کے بود مانند دیده اوریدونکی د لیدونکي په شان چرته کیدی شي.

وهر چاته په خپل شکل څرګندیږم
آئینې غوندې بې رویه بې ریا یم

خپل صورت په آئینه کښې هر څوک ګوري
که چهره د چا صفا وي که ریمن

که ستا خپله سیه روئي نه وي دښمن
آئینه زما د زړه نه ده خچن

چې یو موټی ایرې ناز په ائینه کا
هم په دا خبره فخر د خاکسار شي

بل پوشاک ئې پکار نۀ وي بې نمد
هغه زړه چې آئینې غوندې روښان شي

دا رخسار چې دې روښان تر آئین دی
عاقبت به د لحد په خاورو خړ شي

آئینه که د جمال کړې ورڅرګنده
دا ګدا رحمان به شاه سکندر شي

هر سړی چې ائینه په لاس کښې خاندي
ګویا کاندي په خپل ځان پورې ریشخند

سکندر په شان جهان به دې روزي شي
که سرکوز په آئینه د خپل زانوکړ

ته ناحق په ما کینه کړې کینه ناک
په کینه به آئینه نه کړې ته پاک

د آدم خوي دی وانه غست د چا پښت یې:

حضرت ادمؑ ته جنت نه د وتو، دنیا ته د راتلو او د الله تعالیٰ ناراضګیي دومره صدمه وه چې د شرم نه به ئې سر ښکته نیولی ؤو بره به یې نه کتل او عرض یې وکړو چې الهی زما غم او مصیبت ډیر لوئې دی او خپل ګناه د هر طرف نه ګیرکړی یم د عزت، سعادت بقا او د همیشه والي کور نه ووتم او د ذلت بدبختی مرګ او فنا کور ته راغلم بیا به ولې نۀ ژاړم-
آدمؑ په سري لنکا کښې په کوه هند باندې درې سوه کاله په ژړا او بُکا کښې تیرکړل حضرت حواؑ ځان له د آدمؑ نه جدا د فراقت په اور کښې سوزیده د دوې د ژړا نه په نالوکښې اوبه روانې شوې چې پاکیز بوټی پر راوختل د دې نه پس د جبریل آمین په ذریعه د الله تعالیٰ حکم راغی چې کعبې ته د حج دپاره ځه او د ذي الحجې د عشرې انتظارکوه کیدی شي چې الله تعالیٰ په تا رحم وکړي آدم علیه السلام چې میدان عرفات ته ورسید نو د جبل رحمه په خوا کښې کیناستو څه ګوري چې حضرت حواؑ علیها السلام د جده د طرف نه را روانه ده آدم علیه السلام د خوشحالی او جوش محبت

نه ورمنډې کړې او دواړ غیګ په غیګ شو او دومره ئې وژړل چې را پریوتل آدم علیه السلام چې بره وکتل نو په عرش باندې ورته دا کلیمه لیکلې ښکاره شوه لا اله الاالله محمد الرسول الله، نو آدم علیه السلام دعا وغوښته چې یا الله د دې نوم په طفیل دعا غواړم چې ستا د نوم سره دی زمونږ قصور معاف که، ته ارحم الراحمین یې په مونږه رحم وکه۔

د الله تعالیٰ حکم د جبریل امین په ذریعه راغی چې ستا قصور مې معاف کړو ستا توبه مې قبوله کړه او ستا مرتبه مې د اول نه زیاته کړه د دې نه علاوه په قران و حدیث کښې هم د ژړا ډیر فضلیت راغلی او د پیغمبرانو او اولیاء الله معمول پاتې شوی.

چې د رحمان بابا کلام وګورې نو د ژړا په معامله کښې یې د آدم علیه السلام په قدم باندې قدم ایښی دی ژړا د رحمان بابا د ژوند یوه لویه برخه وه لکه څنګه یې چې دکلام نه ښکاره ده:

که څوک قیاس زما د ډیرو اوښکو اوکه
هسې ګرزم لکه خس پاس په دریا زۀ

اوښکې نۀ لري حساب زما د سترګو
بې حساب شو سیلاب زما د سترګو

د خپل یار له غم درست په اوښکو ډوب یم
له دې هسې رنګ طوفان وایم څه

مدام ناست یم وچ ګوګل سترګې په نم کښې
عشق را وښود بحروبر په خپل حرم کښې

د رحمان اوښکې به څه رنګ په قرار وي
چا لیدلی دی دریاب په قراري کښې

د سیلاب په مخکښې کله د چا خواب شي
شیرین خواب راځخه ډیرې ژړا یوړو

زۀ چې ستا له غمه ژاړم آه فریاد کړم
برق ورعد چکاره دی باران څه دی

همیشه د خپلو اوښکو له سیلاب
سرګردان یم تر فلک و تر آسیا زۀ

د رحمان بابا زړه په ژړا موړ نۀ دی وائي چې زما د ډیرې ژړا غم مۀ کوه ځکه چې:

څوک دې غم زما د ډیرو اوښکو نۀ کا
ما موندلی په دا بحر کښې ګوهر دی

او ما او تاته هم ترغیب راکوي چې ژاړئ په ژړا کښې مو فائده ده.

اے رحمان چې عاشق شې
ځان دې ژاړې کوک په کوک

ژړا ځان له د رحمان بابا طریقه نۀ ده بلکه هر عارف د ډیرې ژړا ستائینه کړې ده حافظ شیرازي وائي:

حافظ عشق و صابری تا چند
ناله عاشقان خوش است بنال

حافظ عاشقي او صبر به ترکومه وي د عاشقانو ژړا خوندکوي په چيغو چيغو وژاړه.

په دې باره کښې زمونږ حافظ الپوري هم د چا نه کم نۀ دی وائي:

زۀ حافظ به په هائے هائے په زوره ژاړم
چې مې تخم د نیکی کرلی نۀ دی

مطلب دا چې د آدم علیه السلام د ژړا پیغام لا تر اوسه جاري او ساري دی او هغه دا دی چې اے ځویه په چیغو چیغو ژاړه.

يو ساعت کښې ګدا شاه کا شاه ګدا کا:

دنیا مکاره ده بې وفا ده او بې ثباته ده هر وخت په حرکت او تغیر کښې ده کرتبونه ئې ډیر زیات دي دا فریب ورکوي چې تاسره به همیشه یم خو په اصل کښې ستا نه تختي خو ته پرې نه پوهېږې سیوری هر وخت په حرکت کښې وي خو ښکاري چې ګڼې په ځاې ولاړ دی د خپل عمر کله تاته احساس شوی چې روان دی اوکلونه تیر شي د دنیا یوکار وړوکی ښکاري خو چې کله پکښې آخته شې نو د یوکار نه سل کارونه نور را پیدا شي او تۀ پکښې بوخت شې د دنیا مثال د مهمان سرائی دی چیرته چې د آرام و تعیش سامان میلاویږي او غوړې زیږې ډوډۍ ګانې میلاویږي هوښیار میلمه شپه تیرکړي غوړي زیږی وخوري او بیا روان شي کم عقل په دې

کوشش کښې لګیا شي چې دا ځیزونه راته همیشه دپاره میلاؤ شي او مزل ئې کوټه شي.

دنیا د زمانے، دهر ګردون او فلک په نوم هم یادیږي چې هر دم حرکت او په هره لحظه کښې تغیر دی.

ثبات ایک تغیر کو ہے زمانے میں

رحمان بابا د زمانې ډیر باریک بین کتونکی دی تغیر په هر ځیز کښې دی خو د قرآن و حدیث مطابق د رحمان بابا ټارګټ انسان دی ګوره په کومه ساده او ښائسته طریقه د انسان د دې حالت بیان کوي او مطلب ئې عبرت اخستل او نصیحت دی.

په ساعت کښې ګدا شاه کا شاه ګدا
دا فلک ځکه باله شي کج رفتار

چې همه عمر یې تاج وي په سر ایښی
ور په سرکاندې ګیډۍ د خس و خار

په ساعت کښې څوک خوشحال کا څوک غمناک
دا خو یو نه همیشه دی د افلاک

زۀ رحمان به څو ژوندی په دنیا پایم
چې په بلو لمبو څرخ لکه پتنګ خورم

بادشاهان په یوه دم کښې ګدایان کا
ما لیدلی فسادونه دګردون دي

ځوک له خاورو ایرو پاځوي تخت ورکړي
ځوک له تخت د ایرو په ډېران ولي

د بنړو په ځښول کښې
شال شړی که شړی شال شي

د هاتیانو سوداګر وي
بیا د ګاؤ خر دلال شي

جوهری وي جوهر پلوري
خاورې اغږي کلال شي

کلالي وګل کاري کا
فروشنده د مات سفال شي

په یوه ساعت ئې ساز بیا ئې ویران کا
خاورې ختې دې په لاس کښې د کلال

که بادشاه د ولایت وي
کنډولی په لاس کنګال شي

محتسب وي احتساب که
کوتوالي واخلي کوتوال شي

نیکوکار وی نیک عمل کړي
بدکردار و بد فعال شي

کافر وباسي له کفر
په یوه ساعت ابدال شي

نه جاروزي تیر ساعت په بیرته بیا:

وخت قیمتي دی او په هر ځیز چې وخت ولګولی شي هغه قیمتي شي که هغه په خپل ځان وي که په اوسپنه وي اوکه په خاوره وي.
وخت د چا انتظار نه کوي مثال ئې د ریل د ډبو دی هر ساعت یو ډبئ ده که تا پکښې ځه واچول ښه وي اوکه بد وي منزل ته یې ورسوي ورنه خالي به لاړ شي.
وخت په درې قسمه دی: ماضي، حال، استقبال د ماضي نه خلق عبرت او نصیحت اخلي د توبې اوښکلو دپاره یې یو شیبه یاد کړي او د ماضي په ژړا خپل حال نه بربادوي مستقبل ستا په اختیار کښې نه دی ضروري نۀ ده چې ته ځنګه غواړې هم هغسې به کیږي ستا په لاس کښې "حال" دی د دې فکر وکړه چې حال درنه ضائع نۀ شي حال ته ویښ شه او ملا وتړه نوکامیابي ستا ده.
تیر ساعت تیره شوې خبره معامله او د لیندې نه وتی غشی بیرته نۀ راځي که هر ځومره ژړا او فریاد وکړې د دې ذکر خپل ځان دپاره عبرت او د بل دپاره د نصیحت سبب دی مطلب دا دی چې حال کښې تکړه شه په اختیاري امورو کښې سستي ونۀ کړې انسان د خپل کوشش مکلف دی د سُستۍ علاج چستي ده نۀ وروستو ژړا کومه نیکي چې دې په زړه کښې را شي فوراً یې کوه وخت مۀ ورکوه ورنه شیطان به دې ورته پرینږدي.
دا دکلام رحمان بابا نچوړ دی او د حقیقي علم خزانه ده.

هره چاره چې تر وخت تېره شي عنقا شي
عنقا نه دې په دام نښتی د هیچا

تر ورخ تیرې اوبه بیرته نهٔ جار وزي
نه جار وزي تیر ساعت به بیرته بیا

تیر ساعت په مثال مړی د لحد دی
مړ چا نهٔ دی ژوندی کړی په ژړا

اوس که لاس زه وبله مړم هیڅ سود نهٔ کا
هغه چاره چې له لاس شوه بیرون

آشنائي مې په هوس وه خو چې بیل شوم
دواړه لاس مې وبله ومښل ارمان راغی

تیر ساعت به د هیچا په لاس کښې نهٔ ووزي
مکر تللی اشنا بیا په اشنا ورشي

تر ورخ تیرې اوبه بیرته نه جار وزي
څه پکار دی پوچ بې ځایه پښیماني

چې په زمکه څاڅکي پریوزي له آسمانه
بیا له زمکې ختی نهٔ شي په سما

دا په هر ورځ چې خیژي بیل بیل نمر دی
هر چې پریوزي هغه نهٔ شي ختی بیا

تیر ساعت به د هیچا په لاس کښې نهٔ ووزی
اوس به څه وایم و چا و ته چې تیر شو

دنیا یو هنګامه ده:

رحمان بابا د دنیا یو ډیر باریک بین مبصر دی چې د دنیا هر څیز ته ډیر په ژور نظر ګوري او د هغه څیز د حقیقت نه ځان خبروي دنیا د رحمان بابا په نظر یو هنګامه ده یو غوغا ده یو حرکت دی هر څیز یې په یو غم آخته دی څوک هم فارغ نشته نه په قرار دی آخر کښې ویراني او بربادي ده هر څیز ئې بې وفا او بې ثبات دی راځي او ځي نه قرار شته نه سکون.

یو شاعر چې دا کتلي نو یو عجیبه شعر ئې وئیلی اګر چې دا شعر ګستاخي او بی ادبي ده خو مونږ یې د نقل کولو همت کوؤ ځکه چې "نقل کفر کفر نه باشد"

تخلیق کائینات کے دلچسپ جرم پر
ہنستاتو ہوگا آپ بھی یزدان کبھی کبھی

د رحمان بابا باریک بیني چې اوګورې نو دا شعر به درته ډیر با معنی ښکاره شي.

ګرفتار یې همیشه په غم کښې ډوب وي
هیڅوک مشه ګرفتار د دې دنیا

تل به پروت وي په ظلمت او په تورتم کښې
چې اسیر وي په کفار د دې دنیا

همیشه به یې یو پنډ د غم په سر وي
چې په سر یې وي دستار د دې دنیا

همګې واړه ټګان دي ټګې کاندي
فروشنده و خریدار د دې دنیا

لوې هلک يې همه واړه مکاران دي
څه ويسا دَ په مکار د دې دنيا

تر قيامت دغه لس او دغه شل دی
پوره نه کړ هيچا شمار د دې دنيا

دا پاخه پاخه سرايونه محلونه
خو به وران شي عاقبت په دا دنيا

بل ارمان به له جهان يوړه نه شي
مګر مهر و محبت په دا دنيا

*****

و هر لورې ته چې غوږ باسم غوغا ده
يا نارې د بيلتانه دي يا محشر شي

سيرابي په سرچشمه د دنيا نشته
تشنه لب يې ګوښې ګوښې په غوغا دی

تر هرګام لاندې کوهی دي د دې دهر
ايښی بويه هر قدم په احتياط

که راغلي بيا به هسې ځنې درومي
دا جهان د رهروانو يو رباط دی

د آسيا په څير ګردش کا
په زمين باندې آسمان

ککرۍ دي د سړيو
چې ووړ يړي تر دا ميان

پيدا کيږی فنا کيږي
نه ئې حد شته نه پايان

ځنې ډول وهي ښادي کا
ځنې وير کا د خپل ځان

که ئې ګورې يو ګلزار دی
که ئې ګورې يو بيابان

*****

هزار حيف دی چې دا هسې رنګ چارې
واقع کيږی د دنيا په سود و زيان

هر چې اهل د دنيا دی حال يې دا دی
که سړی دی که پيری دی که حيوان

آدم زاد په زمکه يو بل سره وژني
په درياب کښې وبله غوښې خوري ماهيان

لکه غوښې چې ماهيان خوري په درياب کښې
په هوا کښې هم دغه کاندي مرغان

خزنده و پرنده دي د دې دهر
همه واړه يو تر بل مشت وګريوان

*****

د دنیـــا چـــارې فـــاني دي
رفــت آمــد یــې پــه یرغــل شــي

د یـــوه ســـاعت لـــه مـــخ
خدای زده څه رنګ به احوال شي

کـــه بادشـــاه د ولایـــت وي
کنـډولی پـه لاس کنګـال شـــي

د هاتیـــــانو ســـــوداګر وي
بیـــا دګـــاؤ خـــر دلال شـــي

جـــوهري وي جـــوهر پلـــوري
خـــاورې اغـــږي کـــلال شـــي

کلالـــي وګـــل کـــاري کـــا
فروشـــند د مـــات ســـفال شـــي

د ځوانی پـه وقت کښې شیر وي
د پیـری پـه وقـت شـغال شـي

*****

حیـــران تللـــی وي پـــه فکـــر
فرامـــوش ئـــې قیـــل وقـــال شـــي

نـه یـې ګفـت نـه ئـې شـنیده وي
پـه غـوږکـونړ پـه ژبـه لَـل شـي

علـــم عقـــل ځنـــې پاســـي
درست صورت ئې خواب و خیال شي

پـــه رنـــړو ســـترګو اوده وي
لکـــه نقـــش د دیـــوال شـــي

پاځیـــدی نـــه شـــي لـــه ځایـــه
پـه زړه غـوځ پـه تـن کهـال شـي

کـه ژونـدی وي پـه جهـان کښـې
د مـــردۀ پـــه مثـــال شـــي

نـــه طاقـــت نـــه ئـــې مجـــال وي
بـــې طاقـــت و بـــې مجـــال شـــي

زه رحمان به څو ژوندی په دنیا پایم :

دقرآن کریم دا آیت کل نَفْسٍ ذَائقَةُ الموت هر ذي روح به د مرګ مزه څکي دا یو داسې حقیقت دی چې خدائی نه مني خو مرګ مني د دې نه بغیر ئې بله چاره نشته کمال دا دی چې څوک ټول مخلوق له مرګ ورکوي یعنې عزرائیل علیه السلام هغه به هم مړ شي صرف یو د الله تعالی ذات دی چې همیشه ژوندی دی نه اوده کېږي او نه مري ﴿سُبحَانَ المَلِکِ الحَيِّ الَّذِی لَا یَنَامُ وَلَایَمُوت﴾

دا دنیـا پـه مثـال پـل مـرګ ئـی سیـلاب دی
د سیـلاب پـه مخ کښـې څـه پولـه ایښـودی

دا جهـــان د مســـافرو یـــو ربـــاط دی
تلـــه دي تلـــه دي لـــه دې ګـــرام راشـــه راشـــه

زه رحمان به څو ژوندی په دنیا پایم
چې په بلو لښو څرخ لکه پتنګ خورم

چې دا هسې عالم لاندې شو تر خاورو
د چا یاد دي ما او تا غونډې سګان

چې قدم یې په آسمان ایښود له ناز
هغه هسې ناز پرور زیر زمین شو

چې مدام یې د سنجاب دپاسه خوب کړ
اوس په زمکه بې بستر و بې بالین شو

هر جام او صراحي دې فلک مات کړ
څو به ګرزي په دا دور جام زما

هیڅ نیمګړی په چا نه شو دا جهان:

ډیر راغلل چې ځان ته به ئې څه وی د آسونو رسالو، تاج او تختونو مالکان د بحرو بر بادشاهان تیر شول په دنیا کښې او د دنیا په معاملاتو کښې هیڅ فرق رانه غی دغه زمکه دغه آسمان دی دغه نمر دغه سپوږمۍ ده دغه ورځ او دغه شپه ده.
سیندونه په غورځنګ بهیږي بارانونه په شرق کېږي دنیا نیمګړې نه شوه ځکه چې د دنیا مالک ژوندی دی یعنې الله تعالی باقي دنیا کښې هر څیز لره زوال دی آرمان دی او فنا ده.

که ترو لو ښته شاهان و سلطانان
هیڅ نیمګړی په چا نه شو دا جهان

که هزار هزار فنا شي په یو دم کښې
بیا پیدا شي په یو دم کښې هزاران

پیغمبر غندې صاحب تر دنیا تیر شو
دا دنیا ویرانه نه شوه په هجران

بوی د نام و د نشان تې پاتې نه شو
چې دعوی یې کړه د نام و د نشان

چې یې ته په دواړو سترګو ښکلولی
ګوره څه شوی هغه خولې هغه لبان

که د سرو زرو سرې دی خو چې مړ شي
نه ئې نوم څوک په خله اخلي نه نو مړ شي

راشه راشه دا ډیر نازو کبر مه کړه
یاره څو به دې دا ناز په جهان وړ شي

دا اسمان زمکه به وي او ته به نه ئې
په ودانه ودانۍ کښې به ویجاړ شې

د بهار دګلو عمر مدام نه وي
عندلیب غندې به پاتې په اهاړ شې

چې دا هسې عالم لاندې شو تر خاورو
د چا یاد دي ما او تا غندې سګان

په هغو زمکو چې جوړې پرې ماڼۍ وې
د ایام په ګردشونو ادیرې شوې

لکه څګ چې د اوبو په مخکښې درومي
هسې درومي په جهان راغلي خلق

هزار حیف دی چې په خاورو کښې لاړه شي
په چوا او په چند تر لړلي خلق

زندګي که څوک پوهیږي حضور دم دی
آئنده و رفته کله د چا یاد دی

دا دنیا لکه دریاب هسې بهیږي
نه ئې چا سره استوږنه نه استاد دی

خان سلطان د دې جهان
آخر درومي خوار حیران

بادشاهي تري پاتې کیږي
زړه یې چوي په ډیر ارمان

که غلبیل کړم د تمامې دنیا خاورې
بیا به نه مومم دارا او شاه جهان

هیڅ وفا ئې د هیچا سره اونه کړه
که جمشید وه که بهمن اوکه قباد

رسولي یې تر مراده هیڅوک نه دی
همه واړه هسې پاتې شو نا مراد

نه چا ختم نه دعا ورپسې وکړه
که ئې آل که ئې عیال وه که اولاد

په مړو پریواته د خاورو انبارونه:

مرګ د دنیا او آخرت په مینځ کښې هغه پل دی چې یو دوست د بل سره ملاو وی یعنې بنده د الله تعالی سره میلاویګي د الله تعالی د یو لحظې ملاقات مزه د دنیا او مافیها د مزې نه زیاته ده چې الله تعالی پکښې میلاویګي د رسول علیه السلام شبیه مبارک په کښې لیدل کیږي دا خو غم نه خوشحالي شوه لکه چې حاجي محمد امین صاحب وائي:

د اشنا دیدن دپاره زه محشر ته خوشحالیږم
چې آشنا پکښې لیدی شي دا محشر اختر زما دی

اصل څیز سره د ایمان مرګ دی ورنه قبر خو توره تیاره او تنهائي ده حدیث شریف دی چې قبر د جنت د باغچو نه یو باغچه ده یا د دوزخ د کندو نه یوکنده ده صرف ایمان او عمل صالح به د ده ملګری وي بیا د حشر میدان دی زمکه د تانبې ده نمر په یو نیزه دی په ژړا به اوښکې ختم شي نو وینې به د اوښکو په ځاې بهیږي په ژړا انګولا به هیڅ نه کیږي د خدائی پاک د سوري نه بغیر به بل سیوری نه وی د حوض کوثر نه سیوا به نوري او به نه وي د رسول الله ﷺ نه سیوا به د بل چا شفاعت نه وي په پل صراط به تیریدل وي چې انبوران پرې لګیدلي دي مونږ ته د آخرت د صورتونو پته د پیغمبرانو علیهم السلام په ذریعه لګي او د هغې حل معلومیږي د خپل آخرت، مرګ او قبر مسئلې د مرګ نه مخکښې حل کړئ.

حضرت عائشه رضي الله عنها نه روایت دی چې حضور علیه السلام به د هر

فرض مانځه نه پس د عذاب قبر نه پناه دُعا غوستله عذاب قبر د قرآن نه هم ثابت دی په قبرکښې اول دوه فرشتې تپوس کوي د مسلمان نه مبشر او بشير او دکفارو او فساق نه منکر او نکير چې ستا رب څوک دی ستا دين څه دی او دا سړی څوک دی د مسلمان جواب به وي څما رب الله دی، دين اسلام دی، او دا سړی زما پېغمبر حضور عليه السلام دی.

دکافرو جواب دا دی: "لا ادری" ماته پته نشته د صحيح جواب نه پس به مسلمان ته اووئيلی شي د اولې شپې د ناوې په شان اوده شه د قيامت په ورځ به دې خدائی پاسوي.

قرآن کريم، مونځ، روژه او نور نيک اعمال به د خائسته بنيادمانو په شکل کښې ده سره موجود وي وحشت به ترې لرې کړی شي او د اُنس او راحت ماحول به جوړ وي جنت طرف ته به يو کهړکۍ پرانيستی شي او قبر به ئې فراخ شي دکافر د قبر حالات به ډېر بد تر وي لحد به پرې دومره تنګ شي چې پښتی به ئې يو بل کښې ننوزي.

د قيامت په ورځ به خلق د قبرونو نه پاڅي سرونو نه به خاورې څنډې بربنډ او ناسونته به وي رحمان بابا په دې پوهه دی چې مرګ، برزخ، او آخرت يو حقيقت دی او هر انسان به د دې لارې نه تيريږي د هيڅا خلاصی نشته هر چا چې د دې دپاره تياری اوکړو هغه کامياب دی ورنه سختې خواری دی رحمان بابا په کومو کومو طريقو مونږ ته د دې حقيقتونو مثالونه راکوي منظر نامې راته

ښائي او نصيحتونه راته کوی دا د رحمان بابا غونډې غم خور شفقت او مهرباني ده.

چې د مرګ په تماچه دې شي خوله ماته
ترو په ماته خوله به څه کوې ثنا

چې په وقت د ځنکدن وکاړې ږيره
ترو نن ولې هسې رنګ يې بې تدبير

پس له مرګ که څوک ارت غواړي خپل ګور
که حق وايم همره ارت د بويه کور

جګ زده چې په نارو د مرګ خبريږي
ځان پخوا تر مرګ ولې خبر نه کړې

پس له مرګ چې بيا مرې له لوږې تندې
ولې نن ساعت توښه د محشر نه کړې

ښائي که څوک پس له مرګ خاندي په لحد کښې
هر چا چې په دا ژوندون کښې خپسرو ژاړه

پس له مرګ که ژوند غواړې سرګياه کړ
په پريکړی سر بيا نوي مرغزارش

هيڅ خندا مې له دې خلقو سره نه شي
ژړوي مې هغه تللي تللي خلق

دريغ يو ځل خو بيا په دنيا راغلی
له جهان په ارمان وتلي خلق

چې پـه زړه مـې تـور لحدشـی دخپـل خـاک
بـې مـزه مـې شـي هـم خـوب او هـم خـوراک

چې د خـوب او دخـوراک مـزه شـي ورکـه
نـور لـه مـرګ برابـر شـي هغـه ژواک

ژونـــدی کانـــدي د دنیـــا کاروبارونـــه
پـــه مـــړو پریواتـــه د خـــاورو انبارونـــه

څوک سر تور پښه ابله خاورو لره درومي
چـا کـاږه دي پسـر ایښـي دسـتارونه

چـې قـدم یـې پـه آسـمان ایښـودله نـاز
هغـه هسـې نـازپرور زیـر زمـین شـو

چې مدام یې د سنجاب دپاسه خوب کړو
اوس پـه زمکـه بې بستر و بې بالین شو

کـه یـې هـر قـدم د مـړو پـه سـر لار وي
یـو قـدم هسـې وانخلـې چـې پـه لار شـې

په دنیا کښې کـه هر څو و بلـه پیوند وي
پس له مرګ به یې درست صورت بند بند وي

زمانـه بـه ئـې تـر پښـو لانـدې پائمـال کـا
کـه پـه قطـع تـر آسـمان پـورې بلنـد وي

هـم ئـې هسـې پیمانـه ګنـړه پـه خـاورو
کـه ئـې ډکـه خولـه تمام عمـر پـه قنـد وي

❖❖❖

باب : ۴

خدائی په خپل قدرت څوک لوئي و څوک هلک کړه

په ظاهر لباس غلط د سړي مهٔ شه :

نن زمانه کښې د ټولو نه کمیاب څیز انسان دی خاوره اوسپنه په ترقۍ ده او انسان په ختمیدو دی دکائنات جوهر انسان دی انسان د نورو څیزونو په خاصیتونو او صفتونو کښې داسې آخته دی چې خپل صفات او جواهر تر هیر دي په مخلوق کښې سرګردانه او د خدائې نه غافل دی.

د دنیا ډرائیور انسان دی او د انسان ډرائیور د هغه زړه دی او د زړه تعلق د الله تعالیٰ سره دی او د دې تعلق جوړیدل د اهل لله د صحبت سره دی د دنیا ورانې او سازې د انسان په ورانې او سازیدو باندې منحصر دی ونه د خپل میوے نه او انسان د خپل عمل نه پیژندی شي په پیاله کښې هم هغه څه راتویږي څه چې په بوتل کښې وی چې انسان صحیح وي کارونه به هم صحیح کوي.

په انسان کښې د خیر او شر دواړه صفتونه شته د انسان خواهشات لا محدود دي او د خواهشاتو سامان او میدان محدود دی په دنیا کښې نهٔ شی پوره کېدی دا به په جنت کښې پوره کېږي دنیا د خواهشاتو د پوره کیدو ځاې نهٔ دی بلکه د روحانیت د تکمیل میدان دی د انساني کمالاتو د تکمیل دپاره د خارجي څیزونو ضرورت نشته د انسان د خپل بدن اعمال د هغې دپاره کافي دي انسان د ظاهري جسم په اعتبار سره د شکل و صورت نه پیژندلی

شي او د کردار په اعتبار سره د خپل اعمالو او اوصافو نه پيژندی شي د انسان د معرفت لار د دنيا د منډو ترړو، معاشي تقاضو، مصروفياتو او د ژوند د هلو ځلو په مينځ کښې ده په رهبانيت او ګوشه نشيني کښې نۀ ده.

رحمان بابا د معاشرې يو وګړی دی په معاشره کښې اوسيږي د انسان د پيدا کيدو مقصد ته هم ګوري د خدائې احکام ئې هم په نظر کښې او د خلقو عملونو ته هم ګوري او بيا د بهادر کلي د حجرې په يوګټ کښې ناست د حق او د باطل په مينځ کښې کرخې راکاږي او ما او تاته نصيحت کوي چې داسې کوه او داسې مۀ کوه او په دومره ساده الفاظو چې د هر چا ذهن ته پريوزي.

سړی بويه چې درون بيرون يې يو وي:

اصلي انسان هغه دی چې ظاهر باطن يې يو شان وي منافق درغله دهوکه باز نۀ وي چې څه يې په زړه وي هغه يې په خوله وي په شکل خو يو شان انسانان دی خو انسانيت په باطن دی ورنه په قول د حضرت مولانا روم په محمد عليه السلام او ابو جهل کښې څه فرق ؤو بعضې د انسان په شکل کښې حيوان وي.

له سړي نه غرض واړه سړي هوښ دی
نۀ چې پټ وي د سروزرو په لباس

له سيرې نه غرض واړه سړی هوښ دی
نۀ چې سر کښې يې طره وي يا مسواک

سړی بويه چې درون بيرون يې يو وي
نۀ هغه چې بيرون زر وي درون لاک

په ظاهر لباس غلط د سړي مۀ شه
مينځ يې ګوره له چغزي او له متاک

د مات لوښي آواز کله ثابت خيژي
دهر چا عمل څرګند په خپل ګفتار شي

څه په دا به عراقي او ترکي نۀ شي:

اصل د انسان باطن او باطني خصلتونه دي په اعمالو او کردار باندې د باطني خصلتونو اثر وي که ظاهري شکل صورت، جامه، بودو باش يې بدل هم شي خو عمل به دې هم هغه کوي کوم چې يې په باطن کښې دی ځکه ظاهري وضع قطع د ډير اهميت حامله نۀ ده.

څه په دا به عراقي او ترکي نۀ شي
که په خر باندې ځوک سور شي که په آس

که د اوښکو په درياب باندې نهال شي
نيشکر به نيشکر شي نل به نل شي

په مثال د دروغژني مرغلرې
آب و تاب يې په دوه ورځو کښې بدل شي

هغه مخ چې مادر زاد خائسته نۀ وي
مشقت د مشاطې واړه مُردار که

هغـه نـاوې چـې پخپلـه خائسـته نـهٔ وي
څوک بـه ئې څه کاندي خائست د مور او نیا

د عمل په ځاې به دا پوښتنه نهٔ شي:

د الله تعالیٰ په نزد باندې خپل عمل ضروري دی د پلار نیکه یا د بل چا په آسره باندې پاتې کیدل پکار نهٔ دي هر چا سره به خپل عمل ځي او هر څوک د خپل عمل ذمه وار وي.

د عمـل پـه ځـاې بـه دا پوښـتنه نـهٔ شـي
چـې تـه زوې يـا نمسـی يـې د فلانـا

پـه خپـل ځـان ښـیګړه وکـړه غـره مـهٔ شـه
پـــه ښـــیګړه د ادې او د بابــــا

د نـوح زوې هـم د نیـک نیکـه نمسـی وه
ګنـړه زه هـم د يـو نیـک نیکـه نمسـی شـوم

کـل وسـواس لـه احتیـاط پیـدا کیـږي
زه لـه ډیـرې هوښـیاری نـه لیـونی شـوم

*****

مهٔ کړه خدائې چې کوه طور شي کوه قاف:

الله تعالیٰ چې کوم څیز د څه مقصد دپاره پیداکړی هغه په هغه مقصدکښې نهٔ استعمالول ناشکري لوکفران نعمت دی.

الله تعالیٰ انسان د آخرت دپاره پیدا کړې نهٔ چې د دنیا دپاره او د انسان حصه يې په دنیا کښې دې دپاره پیدا کړې چې د آخرت

توښه جوړ شي انسان له پکار دي چې دا ګمان کوي چې هر څیز خدائې پاک د ده دپاره پیدا کړی او په کوم څیز کښې چې انسان ته خپله فائده نهٔ ښکاري نو د هغې متعلق دا وئیل چې خدائې پاک دا ولی پیدا کړی لکه مچ، میږی، مار وغیره نو دا صحیح نهٔ ده په دنیا کښې هیڅ يو څیز بےکاره نهٔ دی د هر څیز په پیدا ایښت کښې د الله تعالیٰ بے شماره حکمتونه او مصلحتونه دي ضروري نهٔ ده چې هر انسان ته د ټولو حکمتونو او مصلحتونو پته وي.

په څیزونو کښې شریف او حقیر وي لکه ښې لاس اوګس لاس د هغسې قبله او نور طرفونه او په څیزونو کښې هم شریف او حقیر وي لکه قضائے حاجت او اودس الله تعالیٰ عدل خوښوي پکار ده چې شریف د شریف دپاره او حقیر د حقیر دپاره وي.

لکه ښې لاس د خوراک دپاره اوګس لاس د استنجا دپاره وغیره وغیره رحمان بابا هم وايي چې ټول څیزونه يو شان نهٔ دي کوه قاف د کوه طور برابر نهٔ شي کیدی شاه جهان بادشاه د منصور-حلاج برابر نهٔ شي کیدی او نهٔ نل د نیشکر (ګني) برابر دی د هغسې کُنډې، یتیمان د زلمو او پیغلو جونو برابر نهٔ وي که څوک هر څه يو شان ګنړي او فرق نهٔ ساتي نو هغه یا خو نا بینا جوهریان دي یا د ظلم تیاره ده او یا د محبت جوش دی د شر د عمل نه د خیر طمع نهٔ شي کولی او نهٔ د ډنبرې نه د شهدو طمع کولی شي لیوه لیوه دی بنیادم نه شي جوړیدی.

د هر څیز خپل خپل اهمیت دی.

څه بزرګي به ئې د باز و د همائې وي
زبانې ذکر که سل رنګ کا خواره

که سل زرکاله پر تیر شي په اوبو کښې
په نرمۍ به نرمه نهٔ شي وچه تاره

دَ تصویر له ګلو طمع د بوي مهٔ کړه
له منقوشو مرغو نهٔ خیژي آواز

دریغ دریغ که وروستی عقل وړومبی وي
د انجام خبرې نهٔ شي په اغاز

که یې اصل له یوې زمکې دی څه شو
بید به سرو وصنوبر نهٔ شي هرګز

له نا اهلو د وفا طمع و مهٔ کړه
ګنده نل به نیشکر نهٔ شي هرګز

اورنګزیب او شاه جهان غوندې اشراف
صدقه شه تر منصور غندې ننداف

که د تن په لوې لوې دی ته به یې څه کړې
مهٔ کړه خدائې چې کوه طور شي کوه قاف

د مکې په بزرګۍ کښې هیڅ شک نشته
ولې خر به حاجي نهٔ شي په طواف

که په سل دریاب غسل د ځان اوکه
ګمان مهٔ کړه چې به سپی شي پاک و صاف

څنی څنی یې ولیان پیغمبران کړل
نهٔ چې هر سړی ولي او پیغمبر دی

یو بادشاه وي چې لښکرې ور پسې وي
نهٔ په هر یوه سړي پسې لښکر دی

چېرته زلمي جونه چېرته کنډې یتیمان:

بابا وائي چې زاهد د رند برابرکیدی نهٔ شي او نهٔ کنډې یتیمان د زلمو ځوانانو او پیغلو جونو برابر کېږي ملنګ عبدالرحمن به د خان عزیز خان سره څنګه برابر وي.

لګ تفاوت نهٔ دی د رندې د زاهدۍ
چېرته زلمي جونه چېرته کنډې یتمیان

واړه بې وقوف دي چې څوک دین په دنیا پلوري
چېرته پنځه ورځې چېرته عمر جاودان

ځار شه د هوا و حرص خیال تر قناعت
چېرته ملک د مصر چېرته ده د غلامان

نهٔ شی د خانانو د ملنګو سره کلی
چېرته عزیز خان چېرته ملنګ عبدالرحمان

بې هنر وګاؤ خر درې واړه یو دي:

پائې بسته ؤ لره هر چېرته زندان دی
هغه هر چېرته آزاد دی چې آزاد دی

همدمي د دوه همدمو هسې بو يه
چې د دواړو همدمي په يوه دم وي

زه او يارکه په تن دوه په معنى يو يو
هزار خونې واړه شهر يو بغداد دى

نس دګورو د مور يو دى په معنى کښې
خو په چا يې تور لحد په چا بازارک

په ميزان کښې يو سر لعل يو سرکانړى
مساوي ده عاشقي په خاص و عام

خدائې د يار له هجر هيڅوک خبر مهٔ کړه
تاخت و قتل دا خبر درې واړه يو دى

په دکان د نابيان ؤ جوهريانو
خر مهرى لعل وګوهر درې واړه يو دى

په سبب د ظالمانو حاکمانو
ګور اوکور او پيښور درې واړه يو دي

هغه سنبهر جوهري لره زندان دى
چې يکسان وي پکښې لعل ومردار سنګ

غزا وشوه که ځان ستائې و رحمن ته
بې هنر وګاؤ خر درې واړه يو دي

شهد نه دي چا موندلي له زنبور:

الله تعالیٰ په هر يو څيز کښې خاص خويونه او خاصيتونه ايښي دي چې هغې ته طبعي او فطري وائي د ايلى بچى چې د هګۍ نه را وزي نو لامبو وهي دا د هغه په فطرت کښې شامل دى شهد د شهدو مچى جوړوي بله مچۍ يې نۀ شي جوړولى د ليوه بچى ليوه وي سړى ترې نۀ شي جوړولى.

عاقبت ګرګ زاد ګرګ شود
ګر چه با آدمى بزرګ شود

که د علوزي لباس وکاغزا اوشوه
شهد نۀ دى چا موندلى له زنبور

په رحمان د خائسته ؤ قدر ډير دى
د طبيب له قدر چا ذده بې رنځور

چې د شر د عملونو نه خير غواړي
تشنه لب غند سر شوى په سراب يې

د بلبلو نغمه زاغ کولى نۀ شي
هر سرود آواز په طور د خپل کارک

علت لاړ شي عادت نۀ ځي له سرې نه
خدائې دې نۀ کاندې په بدو چارو عادت څوک

نۀ ليوه په آدميت اموخته کېږي
نۀ اميد د مروت شي له افلاک

ورځ چې بده شي عاقل و دانا څه که:

د هر انسان د ژوند پوره خاکه په لوح محفوظ کښې ليکل شوې ده او انسان د هغې ليکلو د تفصيل نه خبر نه دی په دې وجه انسان د خپلې ارادې او عمل مکلف دی چې په هغې څه د انسان په اختيار کښې دی او څه ئې د اختيار نه بهر دي په بيمارۍ کښې علاج کول دانسان اختيار دی جوړيدل د ده په اختيار کښې نه دي دې د اختياري امورو مکلف دی د دې د جائز او ناجائز تپوس په ترې کيږي.

د تقدير پته هله لګي چې هغه اوشي يا او نه شي د هغې نه مخکې دې د خپلې ارادې ذمه وار دی د انسان تمام ژوند د اختياري او غير اختياري امورو په مينځ کښې تيريږي رحمان بابا هم دغه وائي چې ته د خپل اختياري امورو فکر کوه په هغې کښې کوتاهي مه کوه د غير اختياري امورو غم مه کوه هغه خدائې ته پريږده.

ورځ چې بده شي عاقل و دانا څه کا
چې قضا شي ور دو څار حکما څه کا

مور و پلار خو نيک فرزند له خدايه غواړي
چې بدبخت شي ادې څه کا بابا څه که

يار له يار په لوئ لاس کله بيليږي
چې لاس نه رسي يار څه کا اشنا څه کا

په ښيرو په دعا څه شي کړنې خداى دی
چې خداى نه کا ښيرې څه کا دعا څه کا

بخت په زور و په زر نه دی چا خپل کړی
په دا کارکښې نا توان څه کا توانا څه کا

اى رحمان پتنګ عذرشه چې وسو
نور د شمع خندا څه کا ژړا څه کا

غم د چا په ځان پيرزو دی باری څه کا
چې د خدائى په کړه کښې نه لري قدرت څوک

د مطلوب خطا جفا وفا واړه هنر دی
څه پوهيږي د حکماؤ په حکمت څوک

له هر چا سره چې کړی هغه به مومې:

انسان کښې د خير او شر دواړه خصلتونه شته تصوف دا وائي چې ښه خصلتونه زيات ښکاره کا او بد خصلتونه دباؤکړه ختمولی ئې نه شې ځکه چې دا جبلي دی د خدائى د طرف نه به ستا سره ستا د خصلتونو مطابق معامله کيږي دا عام اصول او دستور دی که کله د دې اصولو او دستور نه خلاف اووينې نو هغه به ابتلاء او ازمائش وي. رحمان بابا وائي ښه کوه بد مه کوه چا ته آزار مه رسوه تا سره به هم هغسې کيږي.

د عمل جزا مې بيا مونده برحق
دا دستور دی چې کړي هغه اخلې

له هر چا سره چې کړې هغه به مومې
د هيڅ تخم ميوه نه درومي برهم

هر څه تخم چې کرې هغه به یوسې
خپله خپله میوه نیسي هرونه

هر چې کا هغه به مومې
دنیا ځای دی د جزا

آجر واړه د عمل په اندازه دی
د هغه دواړه سره یو دی هم درهم

ته چې بل په غشو ولې هسې پوه شه
چې هم دا غشي به ستا په لورګزار شي

کوهی مه کنه د بل سرې په لارکښې
چرې ستا به دکوهي په غاړه لاړ شي

که ته دوه یا درې عیبونه د چا شمارکړې
بل به تاته هسې وائي چې ستا سل دی

آدم زاد په معنی واړه یو صورت دی
هر چې بل آزاروي هغه آزار شي

❖❖❖

باب : ۵

صد رحمت شه په روزګار د درویشانو

رحمان بابا په خپل کلام کښې د درویش، ګدا، فقیر، قلندر، ملنګ او خرقه پوش ذکرکړې دی او د دوې صفات یې بیان کړې دي زما په نزد باندې دا ټول یو خلق دي د دوې باطني خصلتونه یو شان دي د الله تعالیٰ په محبت کښې سرشار سرو مال قربانولو ته تیار دي د خدائې نه علاوه د نور چا څه پرواه نۀ کوي صادقان بے باکه بې ریا دی د بیلو بیلو نومونو فرق صرف د مختلفو ژبو د وجهې نه ښکاري لکه فقیر د عربي لفظ دی ملنګ خالص پښتو ده او قلندر درویش او خرقه پوش د فارسي الفاظ دي که د دې په مینځ کښې څه باریک فرق هم وي او چا بیان کړی وي خو زما د نظر نه تیر شوی نۀ دی رحمان بابا ځان د دې ټولګي فرد شماري او خپل ځان یې کله په یو نوم اوکله په بل نوم یادکړی دی.

بعضې وخت په سالک باندې د الله تعالیٰ داسې تجلي اوشي چې دی ئې برداشت نۀ کړی شي او هوش و حواس ئې معطل شي وړاندې روحاني ترقي ئې بند شي او بس په یو مقام باندې ودریږي دۀ ته مجذوب وایي دا تن کُشته حق وي د خدائې په نیز مقبول وي خو د بل اصلاح نۀ شي کولی ښیرې یې لګي ځکه ورسره نزدیکت مناسب نۀ دی.

داسې قسم مجذوبان بعضې اوقات هغه خلق وي چې د خپل

شیخ د تعلیماتو او وینا پرواه نهٔ کوي شیخ خو د هغه غلطي او کوتاهي معاف کړې خو بعضې وخت د الله تعالیٰ په ابتلا کښې راشي وائي چې حسین ابن منصور حلاج باندې کوم ازمائش راغلی ؤو د هغې وجه هم دا وه چې د خپل زړه واردات او احوال به ئې ظاهرول حالانکه د هغه شیخ حضرت جنید بغدادي د ظاهرولو نه منع کړې ؤو دوئ کښې ډیر اهل تکوین او صاحب خدمت دي.

چې څوک قطب که څوک غوث که څوک اوتاد:

اهل تکوین ته صاحب خدمت هم وئیلی شي الله تعالیٰ دوئ د غټو غټو کارونو سبب جوړوي خو دا اکثر ګمنام، کس مپرس، خړپړ او د غریبۍ ژوند تیروي ورنه اهل دنیا به تر چاپیروي په دنیا کښې دوه قسمه حکومتونه چلیږي یو د ظاهري بادشاهانو حاکمانو او بل د اهل تکوین حضراتو باطني نظام په باطني نظام کښې اصلي بنیاد د اهل ارشاد دی چې د نیکو خبرو تلقین کوي او خلق نیکو ته راړوي نو د خیر فیصلے صادر کیږي د فیصلو د عملي طور د جاري کولو ظاهري صورتونه داهل تکوین کار دی.

دوې ته فیصله او حکم میلاویږي چې داسې وکړي دوې په هغې کښې رد وبدل نهٔ شي کولی د دوې کار په هغې باندې پوره پوره عمل کول دي دوې لکه د آټومیټک مشین په شان کارکوي.

دغــه واړه کرامـــات د عاشـــقۍ دي
چې څوک قطب که څوک غوث که څوک اوتاد

ځینــې ځینــې یــې ولیــان پیغمبــران کــړه
نــهٔ چــې هــر ســړی ولــي او پیغمبــر دی
یــو آدم دی چې پــه څـو رنـګ جلـوه کـا
یــو رقـم دی کلـه زور شـي کلـه زیرشـي

خزان نهٔ لري بهار د درویشانو:

درویش خدا رسیده بزرګ او فقیر ته وائي د رحمان بابا یو پوره غزل د درویشانو په صفت باندې موجود دی.

د رحمان بابا دا قول چې درویشان په یوه قدم تر عرش رسي نهٔ مطلب دا دی چې دې پخپله هم د هغه طبقې نه دی د درویشانو د ښیرو د تاثیر ورته هم پته ده چې ګزارئې خطا نه ځي رحمان بابا او حافظ شیرازي دواړو د درویشانو په صفت کښې پوره پوره غزلے وئیلے دي او دواړه یې ډیر قدردان دي حضرت احمد حضرو یه ؒ وایي چې د درویشانو خدمت کولو والا ته درې صفته میلاویګي- یو تواضع دویم حسن ادب او دریم سخاوت، حضرت عبد الله احمد مغربی فرمائي درویشان د الله تعالیٰ امین دي د دوې د برکته په خلقو بلا ګانی نهٔ راځي.

بادشـــاهان د دې دنیـــا واړه پراتـــه دي
لکــه خــاورې پــه دربــار د درویشــانو

هــر بهــار لــره خــزان پــه جهــان شــته دی
خـــزان نـــهٔ لـــري بهـــار د درویشـــانو

چې دنیا ئې کړه د خدائې دپاره ترکه
صد رحمت شه په روزګار د درویشانو

په یوه قدم تر عرش پورې رسي
ما لیدلی دی رفتار د درویشانو

په هر چا چې د غضب لینده کړه کښېنه
خطا نۀ درومي ګزار د درویشانو

حافظ شیرازي د درویشانو یار او قدردان دی او ټول عمر يې خرقه په غاړه په درویشۍ کښې تیر کړې دی هغه د درویشانو خلوت خانه د جنت باغچه ګڼړي او د هغوې خدمت سعادت ګڼړي حافظ وائي چې د درویشانو صحبت کیمیا ده دولت یې لا زوال او آب حیات دی د سلطانانو او ملائکو سره په هر چا باندې د درویشانو ادب او خدمت لازم دی.

روضۂ خلد برین خلوت درویشان است
مایہ محتشمی خدمت درویشان است

د درویشانو خلوت د جنت باغچه ده او خدمت یې د عزت سرمایه ده.

آن چہ زر می شود از پرتو آں قلب سیاہ
کیمیائیست کہ در حشمت درویشان است

د چا د سوري نه چې تور زړه زر جوړیږي – دا کیمیا د درویشانو په صحبت کښې ده.

دولتے را کہ نباشد غم از آسیب زوال
بے تکلف بشنو دولت درویشان است

هغه دولت چې د زوال د خطیر غم ئې نۀ وي – واوره چې د هغه د درویشانو دولت دی.

اے دل آر آب حیات ابدی می طلبی
منبع ش خاک در خلوت درویشان است

زړګیه که د همیشه آب حیات غواړې – نو د دې چشمه منبع د درویشانو د خلوت د دروازے خاورې دي.

حافظ اینجا بہ ادب باش کہ سلطان و ملک
همہ در بندگی حضرت درویشان است

حافظ دلته په ادب اوسه – ځکه چې سلطان او فرشتے ټول د درویشانو د دربار په غلامۍ کښې دي.

ستا د در ګدایان واړه بادشاهان دي:

ستا د درګدایان واړه بادشاهان دي
خو چې ستا د در ووځي در په در شي

په ظاهر صورت چې ستا د درګدائي دي
په معنی کښې د جمله ؤکد خدائ دی

چې د ستا د درګدا شي
بادشاهي وته نور شاکه

ځان هاله ورته بادشاه شي
چې يې ستا د درګدا که
چې يکسان ګوري هم شاه و هم ګدا ته
هسې يار دی د رحمان غريب نواز

برابر به د ګدائي سره پاخي
شهزاده و شهريار دی د دنيا
ګدائي که ور پيښېږي ځاې دا دی
هر بادشاه چې دل جوئی دګدا نه کا

آئينه که د جمال کړی ور څرګنده
دا ګدا رحمان به شاه سکندر شي
که مطلب د نور چا نورې مرتبې وي
ما ګدا په آستانه د خپل جانان که

په هجران کښې که ګدا ووم کند په غاړه
په وصال کښې ئې بادشاه د اُمرا شوم
بادشاهي دګدايانو په دعا شي
زۀ رحمان ځکه بادشاه شوم چې ګدا شوم

فقيري دا هسې چېرې ده فقيره:

د تمام مخلوقاتو سره او د فرشتو د چا سره چې څه دي دا د الله تعالیٰ د طاقت او خزانو په مقابله کښې د مچ ورز هم نۀ دی او د الله

تعالیٰ صفات په خرچ کولو نۀ ختمېږي نۀ کميږي د صحيح مسلمان سره الله تعالیٰ سره د خپلو جمله قدرتونو، طاقتونو او خزانو هر ځاې ملګری وي چې کله د مخلوق نه يقين پاڅي او پوره د الله تعالیٰ په ذات باندې راشي نو بنده دعا هم په هغه يقين سره غواړي او حديث شريف کښې وائي چې د ټولو نه لويه او ښه دعا الحمد الله ده الله تعالیٰ فرمائي تاسو ټول محتاج يې او الله تعالیٰ غني او حمد والا دی چې کله دا ښکاره شي چې مخلوق سره هيڅ نشته او د الله تعالیٰ په ذات کښې هر څه دي نو د خپل فقيري او د الحمدالله حقيقت ورته ښکاره شي چې کله د انسان يقين راشي چې هر څه د خدائې پاک په ذات او اختيار کښې دي نو بيا اخوا ديخوا څله ګوري.

د پاکانو او مقبولانو سره ځان مۀ برابروه ستا او د هغوې په عمل کښې ډير لوې فرق دی په ظاهره خو "شير" او شير داوړه يو شان ښکاري خو پيئې خلق څښي او شير (زمری) خلق ماتوي.

د الله تعالیٰ معرفت سيوا کيدو سره په بنده باندې د خپل نفس حيثيت هم خلاصېږي او خپله عاجزي او احتياج پر داسې کهلاؤ شي چې هر وخت او هر ګهړی ځان د الله تعالیٰ محتاج ګڼړي دې حالت ته فقر وائي فقر دې ته نۀ وايي چې کچکول واخلې او په مخلوق پسې ګرزي بلکه فقير دا دی چې د هر غير نه بې نيازه شي صرف د يو خدائې طالب جوړ شي او لکه د حضور عليه السلام په شان خپل ټول حاجتونه خدائې پاک ته حواله کړي د حضور

علیه السلام فقر اختیاري ؤو.
ور نه الله تعالیٰ خو ورته وئیل که غواړې نو دا غرونه به ستا دپاره د سرو زرو کړم بزرګان هم په فقر کښې خوشحاله وي د یو بزرګ قیصه ده چې کله به ورکره هیڅ نۀ ؤو او فاقه به وه نو ټول ټبر به خوشحاله ؤو چې نن مونږکره شیخ جي راغلی دی خو بعضې دنیا دارو دپاره فقر لوې امتحان او ازمائش وي ګډې وډې وائي او د الله تعالیٰ نه دومره ګله مند وي چې کفریه الفاظ د خلې نه اوباسي د داسې کسانو باره کښې د حضورؐ حدیث مبارک دی:
کان الفقر ان یکون کفرا:
(ترجمه) داسې ښکاري چې محتاجی کفر شي یعنې بعضې محتاجي (فقر) سړی کافر کړي دې نه ځان ساتل پکار دي.
حضرت سمنون وائي فقیر هغه دی چې فقر ئې دومره خوښ وي لکه د جاهل چې نقدي خوښه وي او د نقدې نه داسې نفرت کوي لکه جاهل چې د فقر نه کوي حضرت ابوبکر وراق وائي چې د امرا د تباهی نه معیشت تباه شي د علماء د تباهی نه دین او د فقرا د تباهی نه د خلقو زړونه تباه شي حضرت یحییٰ بن معاذ وائي په قیامت کښې به د فقر او غنٰی وزن نه وي بلکه حقیقت کښې به وزن د هغه شکر او صبر وي کوم چې په غنیٰ او فقر کښې یې کړی وي.
ابراهیم بن ادهم وائي مونږ فقر وغوښتو نو غنیٰ په خپله راغله خلقو غنٰی وغوښته نو فقر او محتاجي ورته مخې ته راغله.

احادیثو کښې د هغه فقر فضیلت دی چې په فقر باندې صبر و تحمل وي په حدیث کښې چې د مسکین اوسیدو کومه دعا ده هغې نه مطلب د مسکین په شان ژوند تیرول دي د خلقو دست نګر محتاج او سوال ګری مراد نۀ دی رحمان بابا د خپل فقر بیان پخپله کوي.

که مې څوک په فقیری شماري فقیر یم:

رحمان بابا وائي چې نۀ دینار لرم نۀ درهم لرم او نۀ د دنیا څه متاع نه مې د چا سره څه روزګار شته لکه په باړ کښې کوړ لرګی یم څه فقیر یم دا خپل فقیري مې خوښه ده که څه لږ ډیر د دنیا روزګار کووم هغه هم د یارانو د صدقے دپاره دی.

که څوک مرد دی خو هغه دی په دنیا کښې
هر چې نۀ لري حاجت په دا دنیا

د دنیا باشاهان خواست که له فقیره
تۀ بادشاه د هسې ملک شه خواست ګرمۀ شه

د دلبرو صدقے له ره ئې غواړم
هسې نۀ چې په دنیا پسې زهیر یم

د دې سست بدن منت په رحمن باندې
چې له خپله دره تلی نۀ شي بل در ته

زرداران که اوبه څښي په جام د زرو
خوښ زما دا خپل د خاورو کنډولی دی

که مې ځوک په فقیری شماري فقیر یم
که مې ځوک په آمیری شماري آمیر یم

ځوک د راکاندي قسم په کردګار
که درهم لرم په کور کښې یا دینار

زۀ دینار و درهم نۀ لرم په کور کښې
ولې نور عالم مې بولي دنیا دار

که رحمان سره متاع د دنیا نشته
شکر دا چې نۀ خود رائے دی نۀ خود بین دی

دنیا واړه سره زیست و روزګار کاندي
خو یو زه په دغه بار کښې کوږ لړګی شوم

قلندر چې په رښتیا قلندري کا:

قلندر چې په رښتیا قلندري کا
خان سلطان او قلندر درې واړه یو دي

هر منعم چې دلجوئي د قلندر کا
هغه نۀ دی قلندر قلندر دا دی

د ریا خرقه یې خدائې مۀ کړه په غاړه
رحمان کوږ دستار تړلی قلندر دی

د دنیا په طلب ګرځي
خپل ځان بولي قلندر

په دنیا پسې دې نمیری دی رنګ کړی
ځان و خلقو ته درویش و قلندر کړې

خوبرویان به د سپوږمۍ تکړا را واخلي
که رحمان کچکول په لاس کښې قلندر شي

په ملنګ باندې قلنګ و تاوان نشته:

مینې دې ملنګ کړمه
غواړمه خیرونه

که ځوک لاس له سوده اوکاږي زیان نشته
په ملنګ باندې قلنګ و تاوان نشته

شین لوګی مې په سر چتر دونهه تخت دی
ګرد غبار دخپل دولت لکه ملنګ خورم

نۀ شی د خانانو د ملنګو سره کلي
چرته عزیز خان چرته ملنګ عبدالرحمن

بادشاهان په عاشقی کښې ملنګان شي
ما او تا غونډې وګړی د چا یاد دی

خرقه پوشو په خرقه کښې دی موندلی:

خرقه هغه ارت بیرت لباس دی چې ملنګان فقیران یې د جامو دپاسه اغوندي د دې ډیر نومونه دي: لکه کند، دلق، قبا، عبا، چغه، پشمینه، غرض تر ې بدن پټول دي بلکه د یخنۍ ګرمۍ نه د بچ کیدو پکار هم راځي دا د فقیر بستره ده او هم هر څه هر څه دي.

حضرت علامه محمد یوسف بنوری ﷫ به ورته ستار العیوب وی چې دا زړې شلیدلې جامې لاندې پټې کړې دا د ملنګانو درویشانو ډېره خوښه وې ځکه چې دا د هغه ټوله اثاثه وې.

دا اکثر د رنګا رنګ زړو ټوټو نه جوړه وې په دې فن کښې د صوبه سند مقابله نۀ شي کیدی د ملنګانو خرقه هم زړه وې هم خیرنه هم شلیدلی خو فقیر پرې فخرکوي.

د رندانو، قلندرانو، ملنګانو او درویشانو دا خیال دی چې صوفی، شیخ، او زاهد چې کومه خرقه، قبا یا عبا استعمالوي هغه د نام نمود او نمائش دپاره وي د هغې خرقې نه د هغه مطلب ځان پارسا متقي او پرهیزګار ثابتول وي حالانکه پارسا او متقي نۀ وی ځکه درویشان د ریا خرقې نه پناه غواړي او داسې خرقه سیزل غواړي.

په اول کښې نیکانو خلقو د وړې جامې آغوستې دا کم ترې، کمزوری، کم قیمته جامې وې چونکه عربي کښې وړی ته صوف وائي نو د دې جامو آغوستونکي په صوفی باندې مشهور شو او په آخرکښې صوفیت او تصوف په نوم یاندې د اسلام یو لوې مسلک جوړ شو عجیبه خبره ده سلوک او تصوف چې د اسلام یو ډېر شاندار او اعلی مسلک دی د صوف په وجه سره شو مطلب دا چې تصوف نوم د صوف د خرقې د وجهې نه دی، نو د خرقې تقدس او عزت نور هم سیوا شو.

پخوا چې پیر یا شیخ به خپل مرید ته خلافت ورکړو نو خپله خرقه او ټوپی به ئې ورته واغوستله.

په صوفي شاعرانوکښې به کمتر څوک داسې وي چې د خرقې ذکر به ئې په څه نه څه شکل کښې نۀ وي کړی رحمان بابا او حافظ شیرازي د خرقې باره‌کښې ډېر څه وئیلي دي حافظ شیرازي خو یو ملنګ سړی وو خرقه به یې ضرور استعمال کړې وي ولے رحمن بابا خو د بهادرکلے د یو متوسط کورنی خانواده ؤو.

او نۀ یې چرته داسې بې سرو سامان سفرونه‌کړي ؤو، نو خیال مې نۀ راځي چې هغه به چرته خرقه استعمال کړي وي خو په خپلو اشعاروکښې ځاې په ځاې ذکرکړی دی.

د رحمان بابا د شعرونو نه دا ښکاره ده چې هغه د خرقه پوشو قدردان دی او د خرقې د تقدس او عزت قائل دی.

په اخرکښې وائي چې خدائې مې دې د ریا د خرقې نه اوساتي کوږ پټکی تړلی قلندر ښه یم د خرقې خدمت راته مشکل دی ګنې خرقې ته هر وخت تیار یم خو تا ته نصیحت کوم چې د خرقه پوشو د آه نه ځان وساته.

قناعت مې د خرقې لاندې اطلس دی
پټ د درست جهان بادشاه ظاهرګدا یم

په هجران کښې که ګدا ووم کند په غاړه
په وصال کښې ئې بادشاه د اُمرا شوم

بې هاتیانو بې او ښانو بادشاهي که
د زاړه پوزې ټوکرکې یې قالین دے

خرقه پوشو په خرقه کښې دی موندلی
هغه حظ چې په دنیا کښې دنیا دارکه

چې کیمیا د قناعت یې په لاس کیښوزی
د شړۍ په خرقه کښې بادشاهان شي

د شړۍ په خرقه کښې بادشاهان شي
بل پوشاک ئې پکار نهٔ دی بې نمد

له پوشاک غرض خپے سر پټول دي
نهٔ اطلس و سقلات تاج د علم

د اطلسو قبا غواړي نهٔ یې مومي
له ناکامه دې خرقه کړه پشمینه

د ریا خرقه یې خدائې مهٔ کړه په غاړه
رحمان کوږ دستار تړلی قلندر دی

د خرقې خدمت مشکل دی اوکه نهٔ دی
زه هر دم و دغه چارې وته ځیر یم

د حافظ شیرازی د خرقې سره ډیر لګاؤ ؤ ځکه د هغه په کلام کښې د خرقې ذکر ځای په ځای موجود دی خپل زړه خرقه یې د ادهار د نوو جامونه زیاته خوښه ده خپله شلیدلې خرقه د بادشاهانو د تاج سره نهٔ برابروي او مطرب یې دیر خوښ دی خو وائي چې څه وکم په خرچه کښې رانه خرقه ګانړه کوي او ما سره د دې خرقې نه بغیر بل څه نشته هم دا یوه خرقه ده چې زما ټول غیبونه ئې پټ کړي دي

بادشاه وخت تیمور ته چې د حافظ شیرازي دا شعر ورسېد:

اگر ان ترک شرازی بدست آرد دل مارا
به خال ہندوش بخشم سمرقند و بخارا را

ترجمه: که هغه شیرازي معشوق زما زړه اونیسي نو د هغه د خائسته خال په غوض کښې به ورله سمرقند او بخارا په بخشش کښې ورکړم.

نو بادشاه را اوبللو او ورته وائي چې د سمرقند او بخارا په فتح کولو خو زما زړه شین شو او تهٔ ئې په یو خال باندې بخښې، نو حافظ شیرازي ورته ووې چې د دې فضول خرچو د وجهې نه خو ملنګ ګرزم بادشاه وائي چې د خرقې نه لاندې د دهٔ جامې صرف رښانګې وي څه ته چې چهیتړا وائي نو بخشش ئې ورله ورکړو.

خرقه پوشان ټول مست ؤو:

مفلسانیم و ہوائے مے و مطرب داریم
آه اگر خرقه پشمین به گرو بستاند

مفلس یم خو د شرابو او مطرب شوق لرم – آه که دا پشمینه خرقه مې نه ګانړه کولی.

خرقه پوشان ہمگی مست گزشتند و گزشت
قصه ماست که در ہر سر بازار بماند

تمام خرقه پوش مست ؤو او تیر شو یو زهٔ یم چې په هر بازار کښې مې یاد پاتې شو.

مے کشیدم و سجادہ تقوای بردوش

آہ اگر خلق شوند آگہہ ازین تزویرم

شراب مې څښل او د تقوای مصله مې په اوږه ده هائے که خلقو ته د دې دهوکے پته اولګي.

بیار بادہ کہ رنگین کنیم جامہ دلق

کہ مست جام غروریم و نام ہشیاریست

شراب راوړه چې دا خرقه پرې رنګ کړم – د غرور د جام مست يم نوم مې هشيار دی.

این خرقہ کہ من دارم در این شراب رھن اولی

وین دفتر بےمعنی غرق مے ناب اولی

دا خرقه چې ما اغوستے شرابو کښې ګانړه ښه ده – او دا بې مطلب دفتر شرابو کښې ډوب ښه دی.

داشتم دلقے و صد عیب مرا میپوش

خرقہ رھن مے و مطرب شد و زناز بماند

دا يوه خرقه ده چې زما سل غيبونه پټوي – خرقه د شرابو او مطرب سره ګانړه شوه زنار پاتې شو.

کلاہ دولت خسرو کجا بچشم آید

کہ خاک کوئے شما عزت کلاہ من است

د خسرو د دولت کلاه مې کله په نظر راځي چې ستا د کوڅې خاورې زما د کلاه عزت دی.

نمی ترسی ز آہ آتشینم

تو دانی خرقہ پشمینہ داری

زما د آتشين آه نه نۀ يريږې – تا ته پته ده چې پشمينه خرقه لرم.

تسبیح و خرقہ لذت مستی نہ بخشدت

ہمت دریں عمل طلب از مے فروش کن

تسبې او خرقه د مستۍ مزه نه ورکوي – دې دپاره د ساقي مدد پکار دی.

کہن خرقہ خویش پیراستن

بہ از جامہ عاریت خواہستن

د چا نه جامے غوستلو نه خپل زړه خرقه اغوستل ډير ښه دي.

روندگان طریقت کہ بہ نیم جو نہ خرند

قبائے اطلس آن کس کہ از ھنر عاریست

د طريقت مالکان به ئې د اطلس قبا په نيمه وربشه هم وا نخلي – هغه کس نه چې د هنر نه خالي وي.

نقد صوفی نہ ہمہ صافی و بیغش باشد

اے بسا خرقہ کہ مستوجب آتش باشد

د صوفي هر څه صفا ستهره او بې ملاوټ نۀ وي – ډيرې خرقې دي چې د سيزلو قابلې دي.

حافظ این خرقہ پشمینہ بیند از کہ ما

از پئے قافلہ با آتش و آہ آمدہ ایم

حافظ دا پشمينه خرقه را وغورزوه – ځکه چې مونږ دې پسې سره دا اور او آه راغلي يو.

عبدالرحمن جامي هم د خرقې د تقدس قائل دى ځکه وائي:

حريم ميکده جامی مقام پاکان است
ز داغ زرق بسو خرقه و مصله را

حريم ميکده د پاکانو ځاې دى – دا خرقه او مصلې دلته اوسيزه.

جامی چی لاف می زنی از پاکدامنی
به خرقه تو اين همه داغ شراب چيست

جامی د خپل پاکدامنی څه لاف کوي په خرقه باندې دا د شرابو داغونه څه دي؟

يو بل شاعر هم په اردوکښې د دې په شان وئيلي چې ډېر ځائسته دی:

اتنی نه بڑھا پاکی دامن کی حکايت
دامن کو ذرا ديکھ ذرا بند قبا ديکھ

قصه دومره مه اوږده وه چې لمن مې پاکه ده – لګ دې خپلې لمن او کمربند ته خو دې وګوره او دا د وينو ښاخکی.

لنډه دا چې خرقه خپل تاريخ، شان او تقدس لري دا نۀ شي کيدی چې د صوفيانو قلندرانو او درويشانو ذکر به وي او د خرقې به نۀ وي دواړه سره لازم ملزوم دي که د خرقو معلومات او واقعات راجمع کړی شي نو شايد چې پوره کتاب ترې جوړ شي.

رحمان بابا درويش خدا مست:

مستي د کفايت اردو لغت مطابق فارسي لفظ دی چې مؤنث دی معنی ده نشه، خمار، بې هوشي،بد معاشي، غرور او تکبر او نفسانی خواهش.

مست هغه ته وائي چې مخمور وي په نشه کښې وي سرشار بے پرواه، مجذوب ديوانه او مجنون وي مست ازل يا مست الست از لی مست اوکامل مجذوب ته وايی.

د مستی ډيرې وجهې او صورتونه دي اول هغه مست دی چې د شراب څښلو يا نورو نشو په وجه په نشه کښې وي افلتے، اوتے بوتے وائي په ځان نۀ پوهيږي خپل پردي نۀ پيژني د خبرو کولو او د تګ ئې يو خاص طرز وي خپے ئې يو خوا ځي سر ئې بل خوا خو مستی پکښې وي لکه چرسيان وائي تاله ئې لور پخوي مونږ له ئې تنور پخوي او بهنګ والا وائي چې بهنګ ئې نۀ وي نو ننګ يې نۀ وي.

حضرت مولانا محمد اشرف سليماني روايت کاوه چې زما استاد وايي چې دوه چرسيان ؤو هغوي به هميشه د جمات د دروازې سره خوا کښې ناست وو او چرس به ئې څښل او لوګے به ئې جمات ته دننه را پوهکه او دا شعر به ئې وويلو:

دُود چرسم صحن مسجد را زمرد ريز کرد
در جهنم رفت ان کس ز چرس پر هيز کرد

زما د چرسو لوګی د جمات ميدان شين زمرد کړو – څوک چې چرس

نۀ ښځي دوزخ ته به ځي.
دويم د اقتدار اوکرسي مستي او نشه ده لکه چې د حکمرانانو او عهده دارانو وي هارون رشيد بادشاه يوه ورځ وريځې ته وائي چې چرته دې خوښه وي اووريږه ستا د پيداوار خراج به ماله راځي. او مستي او نشه ئې دومره وي چې په لنډي کوتل کښې يو انګريز افسر ونه قيده کړې چې پاڼې ولې خوزي او تراوسه ورته زنځيران پراته دي.
دريمه مستي او نشه د مال دولت ده چې د شرابو نه کمه نۀ ده.
څلورمه مستي او نشه د صحت او طاقت ده چې هميشه دا آواز لګوي: *شته څوک چې زما مقابلې ته راشي* او دا ئې ګمان وي چې دا طاقت او مستي به هميشه وي خو داسې نۀ ده ځکه رحمان وائي:

اے رحمـــــان پيــــري هســـــې عـــــاجزي ده
که رستم وي زړه پر سوی شی په پيری کښې

پنځمه مستي دا ده چې د خدائې په مينه مست وي د الله تعالیٰ د مينې او معرفت مستي په ټولو سيوا ده ځکه چې مرکز ئې مضبوط دی سر ډاکټر محمد اقبال شاعر مشرق وائي:

درویش خدا مست نہ شرقی ہے نہ غربی ہے
گھر اس کا نہ دلی نہ بخارا نہ سمرقند

موجوده زير بحث مستي نه زمونږ مطلب د الله تعالیٰ د معرفت مستي ده.
حضرت سليمانؑ چې پيريان ديوان پرند چرند او هواګانې ئې د حکم

نه لاندې وې ملکه سبا ته وائي چې داسې لښکر به را وليږم چې يو سر به ئې د هغلته وي او بل زما سره او د هغې تخت ئې د سترګو په رپ کښې حاضر کړو.
او موسیٰ چې کله د الله تعالیٰ د ليدو تقاضا وکړه نو الله تعالیٰ پرې تجلي نازل کړه نو موسیٰ بے هوشه پريوت او غر ذره ذره شو.
مولانا روم دا منظر څومره ښکلی بيان کړی:

جسـم خـاک از عشـق بـر افـلاک شـد
کـــوه در رقــص امــد و چـــالاک شـــد

عشـــق جـــان طـــور آمـــد عاشـــقان
طورمســـت و خـــر موســـی ســـاعقا

يو ځل د احد غر په خوزيدو شو نو رسول اللهﷺ وفرمائيل مۀ خوزيږه په تا باندې د يو نبی يو صديق او دوه شهيدانو بل څوک نشته (عن آنس رواه بخاری).
يو ځل زلزله شوه او زمکه په خوزيدو شوه حضرت عمرؓ زمکې ته لته راخلاصه کړه او وې ويل: آسکنی يا ارض زمکې اودريږه نو زلزله په قلاره شوه.
حضرت عمر بن العاص ته د مصر خلق راغلل چې هرکال مونږ يوه ناواده جينۍ خائسته جوړه کړو او دريا نيل ته يې وغورځوو نو په نيل کښې طفيانې راشي او زمونږ فصلونه سيراب شي د دې کار اجازت غواړو هغه خليفه حضرت عمرؓ ته دا ټوله قصه وليکله

حضرت عمر رضی الله عنه هغوي د دې کار نه منع کړل او د نیل په نوم ئې
خط اولیکلو اے نیل که ته دخداې په حکم چلیږې نو اوچلیږه چې
طغیانې راشي اوکه په خپل سر چلیږې نو مونږ ته ستا ضرورت
نشته دا خط ئې دریائے نیل ته وغورځولو نو طغیانې راغله او تر
ننه چلیږي.

د حضرت شیخ نجم الدین کبری په مخکښې چا یو شعر اووی
چې یوه کړې ده جان بده جان بده په هغه باندې د مستۍ یو
حال طاري شو چې خدائې پاک ځان غواړي او څوک ځان نۀ
ورکوي نو شروع شو چې جان دادم جان دادم جان دادم او په دې
حالت کښې وفات شو.

یو بل بزرګ چې کله حج ته لاړو او حرم ته ورسیدو نو مطوف وی
هذا بیت الله دا د خدائې کور دی په دۀ باندې د مستۍ یو حالت
راغی دا شعر یې وویلو او ساه ئې ورکړه:

چون رسی به کوئی دلبر بسپار جان مضطر
چی خبر که بار دیگر نه رسد به این دیارے

د مستۍ واقعات بے شماره دي چا کړ ی دی او چا وئیلی دی د
ټولو نه سیوا خائسته وینا د عثمان هاروني ده چې مستي به ئې ته
پخپله هم محسوس کړې.

حضرت عثمان هاروني د حضرت معین الدین چشتی اجمیري پیر
دی هغوي چې کوم شعرونه په وجد او ذوق وئیلې د مستۍ نه ډک
دي دا نۀ چې ځان له هغه مست دی بلکه د مستۍ اثر به ئې په ځان

کښې هم محسوس کړې.

منم عثمان هاروني که یار شیخ منصورم
سلامت می کند خلقے و من بردار می رقصم

نه می دانم که آخر چون دم دیدار می رقصم
مگر نازم به این ذوق که پیش یار می رقصم

تو آن قاتل که از بهر تماشا خون من ریزی
من آن بسمل که زیر خنجر خونخوار می رقصم

بیا جانان تماشا کن که در انبوه جانبازان
بصد انداز رسوائی سر بازار می رقصم

زۀ عثمان هاروني د شیخ منصور یار یم خلق سلامتي غواړي زه د
دار په سر رقص کوم.

- نه پوهیږم چې آخر د دیدار په وخت ولې ګډیږم.
- خو په دې ذوق خوشحاله یم چې د یار په مخکښې ګډیږم.

ته هغه قاتل ئې چې د تماشے دپاره زما وینه تویوی زه هغه مقتول
یم چې د خونخوار خنجر لاندې هم رقص کوم.

- جانانه راشه تماشا وکه چې د جانبازو په مجمع کښې په ډک بازار
کښې په سل قسمه رسوائي ګډیږم.

یو بل شعر کښې بو علی قلندر وائي:

بهر قتلم چو کشد تیغ نهم سر به سجود
او به ناز عجبے من به نیاز عجبے

به جرم عشق تو ام می کشند و غوغائیست
تو نیز بر سر بام آکه خوش تماشائیست

چې کله ئې زما د قتل دپاره تیغ را وخکو نو ما ورته سر په سجده کښې کیښود هغه په خپل عجب ناز کښې ؤو او زهٔ خپل عجب نیاز کښې ؤوم.ستا د عشق په جرم کښې ما وژني غوغا ده. تهٔ هم بره راشه څه خائسته تماشا ده.

حضرت مخدوم شیخ لعل شهباز قلندر هم اشعار وئیلې چې د حضرت عثمان هارونی سره ډیر مماثلت لري شهباز قلندر په هرات کښې پیدا شوې او په سیون شریف سنده کښې ئې مزار دی د شیخ بهاوالدین زکریا ملتاني خلیفه ؤو د شیخ منصور په خدمت کښې هم څه وخت پاتې شوی د جذب او سُکر حالت پر غالب ؤو اشعار یې د مستی نه ډک دي.

ز عشق دوست هر ساعت درون نار می رقصم
گهے بر خاک می غلطم گهے بر نار می رقصم

بشد بدنام و عشقش بیا اے پارسا اکنون
نمی ترسم ز رسوائی بهر بازار می رقصم

مرا خلقے همه گوید گوا چیزیں چی می رقصم
به دل داریم اسراری از ان اسرار می رقصم

منم عثمان مروندی که یار خواجه منصورم

ملامت می کند خلقے و من بر دار می رقصم

عام تاثر دا دی چې رحمان بابا یو خوار زار ملنګ سړی دی نه ئې د نورو عاشقانو په شان ها هو او چیغې سورې شته او نهٔ ئې چاپیره د عاشقۍ چر چې شته البته د عشق باره کښې شعرونه وائې او شاعري هم کوی خو په اصل کښې که لګ دننه ورکوز شې او په ډوب نظر ورته وګورې، نو د عشق الهی یو سمندر دی چې سطح باندې خاموش دی خو دننه هغه طوفانونه او موجونه دي چې دنیا په بله آړوي او د دې شعرونو مصداق دی.

تو اے مرده دل زاهد یکے در بزم رندان شو
که بینی خنده به لب ها و آتش پاره در دلها

چې په شونډو ئې خندا ده خو په زړه کښې ئې د الله تعالیٰ د محبت شغلې خیژي او یا لکه د دې شعر په شان:

مرا دردیست اندر دل اگرگویم زبان سوزد
وگردم در کشم ترسم که مغز استخوان سوزد

چې زما په زړه کښې د الله تعالیٰ د محبت هغه اور دی چې که وایم نو ژبه مې سوزي اوکه خاموش کیږم نو د هډوکو مغز مې سوزي.

رحمان بابا خپله هم وائي:

دا دستور دی چې له درد زبیرګی خیژي
ګنړه څه وو د رحمن د شاعري

که مې ځای د دې غمونو وی په زړه کښې
ما به څه لره کوله دا انشاء

هسې بې شرابو مست یم ستا په مینه:

هسې بې شرابو مست یم ستا په مینه
چې خبر نۀ یم له زمکې له آسمان

هسې مست یم ستا د شونډو په شراب
چې به نۀ وي بل دا هسې مست خراب

راشه یو ځله مې هسې مست خراب کا
چې خبر نۀ شم د حاله د هیڅ شي

چې سامع په نغمه په ترانه شم
دیوانه شم ګریوان څیرې مست خراب

ساقي جام د میو راوړو چې بې خود شم
خداې د نه کا په خودي کښې څوک محبوس

که مې و ګمانځي ساقي په یوه جام
تر دا هور ته به نور څه وي احترام

چې دارو د درد و غم وي هغه مې
ساقي ماره یو دوه جام پیاپئ

ساقي پورته شه د میو جام تیار کړه
عمر هیڅ معطلي نه کاندي تلوار کا

پاڅه یو ځل سیراب د عشق په جام شه
په ساغر د ماه و مهرے مے آشام شه

که غم خورا غواړې په غم او په اندوه کښې
ښیښه ډکه د شرابو اختیار که

مے خواران که ئې خبر شي له مستۍ نه
د رحمان د میخانے شراب د څښو دي

څه عجب دی چې مستان وي ترې چاپیره
هر ساقي سره چې جام دی د اخلاص

سجاده به د ساقي د لارې فرش که
هر صوفي چې د سرو سترګو خریدار وي

ما د دهر غم وهلی دی په لته
له پیالې له صراحي له برکته

مستی میری یہ بادہ انگور کی نہیں(علامہ سید سلیمان ندوی)

جام پر جام مجھے دے کے بنا دے بد مست
صبر سر جوشي اذکار کہاں سے لاؤں

وجد میں جان ہے تو اعضا رقص میں
جام سے آواز الااللہ ہے

اے ساقی مدہوش کردے مجھے بے ہوش
کیسے ہو نشہ پیدا بے بادہ پر جوش

سمجھیں میری کلام کو جو ہوشمند ہیں
مستی میری یہ بادہ انگور کی نہیں

ہوش ہے گرمی و مستی سے وفور شوق ہے
شکر ہے رونق پہ ہے امروز کاروبار دل

حضرت خواجه عزیز الحسن مجذوب:

گدائے میکدہ ہوں مست ہوں اپنی گدائی میں
یہ ہے سنگ در میخانہ مجھ کو شہ نشین ساقی

سلامت تیرا میخانہ سلامت تیرے مستانے
رہے گا رنگ عالم میں یہی تا یوم دین ساقی

دیکھا نہ زمانے میں مجذوب سا مستانہ
فرزانے کا فرزانہ دیوانے کا دیوانہ

کیا چیز عشق ہے کسی مست شباب کا
گو پیر ہوگئے ئیں مگرئیں جوان سے ھم

نہ شیشہ ہے نہ ساغر ہے مگر آپے سے باہر ہے
نرالی یہ تو اے مجذوب تیری مے پرستی ہے

گھٹا چھا رہی ہے برستی ہے مستی
فلک آج پیر مغاں ہو رہا ہے

ٹپکتی ہے ھر بن مو سے مستی
سراپا مے ارغوان ہو رہا ہے

ساقی تیرا مستی ہے کیا حال ہوا ہوگا
جب تو نے یہ مے ظالم شیشہ میں بھری ہوگی

صراحی در بغل ساغر بکف مستانہ وار آجا
لگائے اسرا بیٹھا ہے اک مستانہ برسوں سے

وہ مست ناز آتا ہے ذرا ہوشیار ہو جانا
یہیں دیکھا گیا ہے بے پئے سرشار ہوجانا

آرہا ہے ہائے وہ مست شباب
کس ادا، کس ناز، کس انداز سے

آرہا ہے جھومتا وہ مست ناز
اب طبیعت کیا سنبھالی جائے گی

شرابین سینکڑوں ساقی ھزاروں بادہ کش لاکھوں
میں اُن کا مست ہوں نظروں سے جو مخمور کرتے ئیں

پوچھو نہ جوش مستی دیوانہ اجکل
صد شیشہ در بغل ہے یہ مستانہ آجکل

فطرت ہے مست، روح ہے مستانہ اجکل
شیشہ ہے قلب دیدہ ہے پیانہ اجکل

کیوں نہ ہر دم وجد میں رقصان رہوں
دلربا ہے ہر ادائے درد دل

د حافظ شیرازي مستي:

ز جام عشق مے نوشید حافظ
مدامش مستی و رندی ازیں ست

حافظ د عشق د جام شراب څښلي ځکه مدام په مستۍ او رندیۍ کښې وي.

حافظا مے خور و رندی کن وخوش باش ولے

دام تزویر مکن چو دگراں قران را

حافظه شراب څښه رندي کوه خوشحاله اوسه خو د نورو په شان قران د مکارۍ جال مۀ جوړوه.

چہ مستی ست ندانم کہ رو بما آورد

کہ بود ساقی واین بادہ از کجا آورد

خبر نۀ یم چې دا مستي د کومه راغله ساقي څوک ؤو او شراب له کومه راغلل.

ساکنان حرم سّر عفاف ملکوت

با من راہ نشین بادہ مستانہ زدند

د ملکوت ملائکو د پاکدامنۍ مستانه شراب ما مسافر له راکړه.

اگر چہ مستی عشقم خراب کرد ولے

اساس مستی من زیں خراب آباد ست

اګر چې د عشق مستي خراب کړم خو زما د مستۍ بنیاد هم د دې خرابي نه دی.

بیار بادہ کہ رنگین کنیم جامہ دلق

کہ مست جام غروریم و نام ہوشیار است

راوړه شراب چې دا شنې جامې پرې رنګ کړم – د غرور د جام مست یم چې نوم مې هوشیار دی.

مستی بچشم شاہد و دلبند ما خوش ست

زان زو سپردہ اند بہ مستی ز مام ما

د یار په نظر کښې مې مستي ښه ده ځکه ئې زمونږ واګې د مستۍ په لاس کښې ورکړې.

عیب مستان مکن اے خواجہ کہ ازیں کہنہ رباط

کس ندانست کہ رحلت بہ چساں خواہد بود

خواجه په مستانو عیب مۀ لګوه څه پته لګي د دنیا نه څوک په څه حال کښې ځي.

مکن بہ چشم حقارت نگاہ بر من مست

کہ نیست معصیت و زہد بے مشیت او

ما مست ته سپک مۀ ګوره ګناه او نیکي د خدائې د مشیت نه بغیر نشته.

راز درون پردہ ز رندان مست پرس

کیں حال نیست صوفی عالی مقام را

د پردې دننه راز د مستو رندانو نه اوکه صوفي غریب ته پته نشته

حافظ شراب و شاہد رندی نہ وضع تست

فی الجملہ می کنی و فرو می میگذارمت

اے حافظ شراب و شاهد او مستي ستا طریقه نه ده بیائی هم ته کوې زه دې معاف کووم

هنگام تنگدستی درعیش کوش و مستی
کاین کیمیائے ہستی قارون بکند گدا را

د تنګدستۍ په وخت کښې مستی او عیش کوه د هستۍ دا کیمیا د ګدا نه قارون جوړوي.

گر چہ مستم سہ چار جام دگر
تا بکلی شوم خراب بیار

اګر چې مست یم خو درې ځلور جامونه نور راوړه چې سم خراب شم.

یک دو رطل گراں بہ حافظ دہ
گر گناہ است و گر ثواب بیار

حافظ له یو دوه ډکې پیالې ورکه – راوړه ګناه ده که ثواب دی.

بیار بادہ و اول بدست حافظ دہ
بشرط آنکہ ز مجلس سخن بدر نہ رود

شراب راوړه اول حافظ ته ورکه – په دې شرط چې خبره بهر لاړه نۀ شي.

در حلقہ گل و مل خوش خواند دوش بلبل
هات الصبوح هبّوا یا ایها السکاری

بیګاه د ګل او شراب محفل کښې بلبل ښه اوچغیده – صراحی راوړې اے مستانو راشئ.

گرام ترانہ و چنگ و صبوح نیست چہ باک
نوائے من بسحر آہ عذر خواہ من ست

که ماسره ترانه ستار او شراب نشته نو څه باک – زما د سحری آواز او عذر خواه زما آه دی.

بیا بیا کہ زمانے زمے خراب شویم
مگر رسیم بہ گنجے دریں خراب آباد

راځه راځه چې شراب وڅکو چې خراب شو شاید په دې خرابي کښې خزانے ته ورسو.

چہ خوش است باتو بزم بنهفتہ ساز کردن
در خانہ بند کردن سر شیشہ باز کردن

ستا سره خفیه څه ښه مزه کوي چې د کور دروازه ښه بنده کړې او د بوتل سر خلاص کړې.

د عبدالرحمن جامی مستي:

ز جام حب تو مستم بہ زنجیر تو دل بستم
نمی گویم کہ من ہستم سخندان یا رسول اللہ

یا رسول الله ستا په محبت مست یم تاسره مې زړه تړلی نۀ شاعر یم نۀ زبان دان.

دلم سوخت از شوق او گر چہ گویم
خیال رخش مست در جان مصاحب

زړه مې د شوق له لاسه سوزي د دوستانو زړونه ستا له مخ مست دي.

دیگران راشاد داری دل بوصل خود که من
عاشق غمخواره ام جز غم نمی سازد مرا

په وصل دې د نورو زړونه ښاد کړل زه يو غمخوار عاشق يم چې د غم نه بغير مې گزاره نۀ کېږي.

گر تو خواہی زکات خوبی داد
ما فقیرم و مستحق زکات

که غواړې چې ښه خيرات وکړې نو زه فقير يم د زکوة مستحق يم.

جامی از بوی تو شد مست زمے دیده نه جام
بزم عشق ست چو جامی مے و جام است اینجا

جامی ستا په بوې مست دی نۀ يې شراب ليدلي – نه جام ستا بزم عشق بس دلته جام ومی دی.

ز جام لعل لبت جرعه کرم فرما
که گشت نرگس مست تو در خمار مرا

د خپلو سرو شونډو د جام نه يو گوټ راکه - ستا د نرگس سترگو د خمار مست يم.

واقف از سر خرابات جز ان مست شده
که به میخانه بر آورد چو جامی چلها

دا مست د ميخانے د راز جز اوگنړه – جامی اوس د ميخانے په چلن پوه دی.

لږ تفاوت نۀ دی د رندې د زاهدی:

ډير پخوا نه د شيخ او رند او د صوفي او قلندر ترمينځه يو قضيه روانه ده رند او قلندر ځان د الله تعالیٰ حقيقي عاشق گنړي او په دې کښې د سرو مال نه تير وي د خلقو د ملامت پرواه نۀ کوي او دا گنړي چې شيخ او صوفي د الله تعالیٰ د احکامو تابعداري د جنت حاصلولو د پاره کوي زمونږ په شان سرو مال شيندلو ته تيار نۀ وي.

رند او قلندر چې کله مستی کښې راشي نو د خپلې مستی زور په شيخ او صوفي باندې وباسي وائي رند په يو قدم ورسيد شيخ پوړی په پوړی راځي صوفي چې د رندې په خوند خبر شو نو جائے نماز ئې د ساقي د لارې فرش کړو او د اشراق نفل ئې ورته پرينښودل د راز خبرې رند نه تپوس کوه صوفي غريب څه خبر دی او بابا وائي چې د رند مثال داسې دی لکه زلمي او پيغلې جونه او د زاهد مثال دی لکه کُنډې يتيمان.

لږ تفاوت نه دی د رندی د زاهدی
چرته زلمي جونه چرته کُنډې يتيمان

هيڅ مې حاصل نۀ کړ په شيخی و په تقوی کې
پس له دې مې وار دی هر چې شي په ميخانه

شيخ و شيخي ورد و وظيفه و ذکر فکر
زه و ساقي جام و باده چنگ وترانه

سجاده به د ساقي د لارې فرش که
هر صوفي چې د سرو سترګو خريدار وي

چې د مے و د مطرب په خوند خبر شه
فراموش کړه صوفی نفل د اشراق

زۀ و زاهدانو ته حيران يم دوی و ماته
ديوانه به ده خندد وده به ديوانه

ځکه زاهد زهد که د يو جنت دپاره
سر شيندلې نۀ شي په اوربل د جانانا

خواجه عزيز الحسن مجذوب:

ادھر ھے رند مستی میں ادھر ئیں وجد میں صوفی

بہ یک جذب مجذوب تا بام پہنچا
جو سالک وہ آئیں زینہ بہ زینہ

کوئی سمجھا رند کوئی متقی
لب پہ توبہ ہاتھ میں ساغر رہا

ادھر ہے رند مستی میں ادھر ئیں وجد میں صوفی
مزے ھر رنگ والے کو مرے اشعار میں آئے

کریم ہی کے بھرو سے پہ پی رہا ہوں میں
میں رند ہوں تو مگر رند با خدا ہوں میں

سنوارے ہوؤں کو تم نے بگاڑا ہے شیخ جی
رند خراب حال نے بگڑے بنا دیئے

کر چکے رندی بس اب مجذوب تم
ایک چلو میں یہ حالت ہوگئی

بنوں کیوں خشک زاھد ترک کیوں عشق بتا کردوں
بہار زندگی کو میں کیوں نزر خزاں کردوں

ذاھدوں پر مے اچھا لی جاے گی
جان ان مردوں میں ڈالی جائے گی

شیخ کی پگڑی اچھا لی جائے گی
سرکشی سرسے نکالی جائے گی

حافظ شيرازی

من اگر رندم و گر شيخ چه کار با کسی:

چہ نسبت ست بہ رندی صلاح و تقوی را
سماع وعظ کجا نغمۂ رباب کجا

د نيکۍ او تقوی د رندۍ سره څه نسبت دی چرته وعظ او ريدل او چرته د رباب نغمه.

صوفی مباش منکر رندان کہ سر عشق
روز ازل بہ مردم قلاش میدہند

صوفی د رندانو انکار مۀ کوه د ازل په ورځ د عشق راز تنګدست بی نام له ورکړی شوی دی.

زاھد از رندی حافظ نکند فہم چہ باک
دیو بگریزدازاں قوم کہ قرآن خوانند

زاهد که د حافظ په رندۍ نۀ پوهېږي نو څه چې ځوک قران لولي شيطان د هغه نه تختي.

زاهد و عجب و نماز و من مستی و نیاز
تا خود او را زمیاں باکه عنایت باشد

زهد دې تکبر دی او مونځ دی زۀ یم مستي ده او عاجزي ده ګوره چې په چا مهربان دی.

همیشه پیشه من عاشقی و رندی بود
دگر بکوشم و مشغول کار خود باشم

همیشه نه زما پیشه عاشقي او رندي ده کوشش کوم چې بیا په خپل کار شم.

من اگر رند خراباتم و گر حافظ شهر
این متاعم که تو می بینی و کمتر زینم

خواه رند خرابات یم که حافظ د ښار – دغه یم چې مې وینې بلکه دې نه کم.

من اگر رندم دگر شیخ چه کارم باکسی
حافظ راز خود و عارف وقت خویشم

زۀ که خواه رند یم که شیخ د چاسره مې څه کار – د خپل راز نګهبان او د زمانے عارف یم.

تو اے مرده دل زاهد یکے در بزم رنداں شو
که بینی خنده بر لب ها و آتش پاره در دلها

زاهد چیرته د رندانو محفل ته لاړ شۀ – چې په شونډو ئې خندا وي او په زړه کښې د عشق اور بلیږي.

مصلحت نیست که از پرده بیرون افتد راز
ورنه در مجلس رنداں خبر نیست که نیست

راز د پردے نه بهر باسل مصلحت نۀ دی – ګنی د رندانو په مجلس کښې داسې خبر نشته چې هغوې ترې خبر نۀ دي.

خلق اطفالند جز مست خدا
نیست بالغ جز رهیده از هوا

سوا د خداې د مستو نه نور خلق ماشومان دي چې هوائے نفس یې پریښی نۀ وي لا بالغ نۀ دی.

راز درون پرده ز رندان مست پرس
اے مدعی نزاع تو با پرده دار چیست

د راز دننه خبرې د مستو رندانو نه تپوس کوه – اے جنګیرکه مدعی ستا د پرده دارو سره څه کار.

باده نوشی که درو هیچ ریائے نبود
بهتر از زهد فروشی که درو رو و ریا ست

شراب څکل چې هیڅ ریا پکښې نۀ وي د رو ریا زهد فروشي نه ښه دی.

ما عیب کس به رندی و مستی نه می کنیم
لعل بتاں خوش است و مے خوشگوار هم

زۀ د چا په رندی او مستی عیب نۀ لګوم – د معشوق شونډې ښه شې دی او شراب هم.

عبدالرحمن جامي

من که خدمت کرده ام رندان درد اشام را
کی شمارم پخته وضع زاهدان خام را

ما د شرابو د خوړونکو خدمت کړی دی - دا کچه پاخه وضع زاهدان څه کړم.

د دې نور جهان په سر لکه آسمان یم :

د روحانیاتو مستې کله کله وي ځکه خو حضرت حنظله ؓ چغې کړې چې حنظله منافق شو سره د ابوبکر صدیق ؓ د حضور علیه السلام دربار ته لاړل: وې یا رسول الله چې مونږ ستا په مجلس کښې یو نو یو شان حالت مو وي جنت دوزخ راته ښکاریږی او چې کله کور کښې ښځې بچو سره په مشغولتیا شو بیا دا حالت نهٔ وي رسول علیهم السلام وفرمایل اے حنظله دا حالت خو کله کله وی که دا مستقل وي بیا خو به فرشتو ستاسو سره لاسونه میلاولی.
یو بل بزرګ هم دا شکایت کوي وایي چې کله په ډیر اوچت مقام باندې یم او کله د خپلو خپو د تلي لاندې نه وینم او بل وایي چې فقیر یم خو چې په مستی کښې یم نو بیا په آسمان باندې نازکوم او ستورو ته حکم ورکوم، چې د نازو نیاز په دنیا کښې داخل شم نو بیا د زمکې او آسمان د مملکت نه آزاد شم.
او کله وایي چې د عشق او سر مستی طریقے مانه واوره په دې

کښې هغه ځاې ته رسیدلی یم چې تپوس مهٔ کوه او کله وایي چې زهٔ یم او مستي ده او مے پرستي ده په کشف وکرامت څه کوم دا خو د عالم بالا او ملکوت خبرې دي چې مستان یې ویلی شي څه او ته به څه ووایو:

دکاملې عقیدې لـه برکتـه
د دونهی پـه غـاړه ناست شاه جهان یم

دلبرانـو وتـه خـاک تـر تلـې لانـدې
د دې نـور جهـان پـه سـر لکـه آسـمان یم

کـه نـور خلـق قدمونـه ږدې پـه زمکـه
مـا دی ایښـی پـه آسـمان قـدم د زړه

قناعـت مـې د خرقـې لانـدې اطلـس دی
پـټ د درسـت جهـان بادشاه ظـاهر ګدا یم

لکـه ونـه دځنګـل پـه میـوه پـوره
پـه ویرانـه ویرانـی کښـې آبـادان یم

لکـه ونـه مسـتقیم پـه خپـل مکـان یم
کـه خـزان رابانـدې راشـي کـه بهـار

کـه چـا لار د عاشـقی ده ورکـه کـړې
زه رحمـان د ګمراهـانو رهنمـا یم

حضرت سید سلیمان ندوي:

تیری نظر میں ہے تاثیر مستی صہبا
تیری نگاہ جیسے چاہے بادہ خوار کرے

تیری نگاہ میں دونوں خواص رکھے ئیں
وہ چاہے مست کرے چاہے ہوشیار کرے

چھائی ہے یہاں مستی ھر ایک نمازی پر
حیرت ہے یہ گھر اے دل مسجد ہے کہ میخانہ

یہ کس میکدہ سے اٹھی موج مے ہے
چلی آ رہی ہے جو فیضان ہو کر

خواجه عزیزالدین مجذوب:

میں اپنے رنگ میں زاھد اگر ذکر بتاں کردوں
تو دم میں کافر صدسالہ کو تسبیح خواں کردوں

ذرا ہوشیار رہنا شیخ جی میں ہوں وہ مستانہ
نظر سے زاھد صد سالہ کو پیر مغاں کردوں

تصور عرش پر ہے وقف سجدہ ہے جبین میری
مرا اب پوچھنا کیا ہے فلک میرا زمین میری

میری محفل میں جو بیٹھا اٹھا آتش بجان ہو کر
دلوں میں آگ بھر دیتی ہے اہ آتشین میری

نیاز و ناز کی دنیا میں جس دم جاپہنچتا ہوں
تو آزاد زمین و آسمان معلوم ہوتا ھوں

ابھی چاہیں تو آہوں سے الٹ دے سارے عالم کو
ہم ایک خاموش محشرئیں وہ ہم کو کیا سمجھتے ئیں

نہ چھیڑئے کہ بظاھر تو خاکسار ہوں میں
لگادوں آگ دو عالم میں وہ شرار ہوں میں

نہ سمجھ بڑ اسے مجذوب کی بغور سنو
یہ ایک گنج معانی ہے نکتہ دان کے لئے

میں گو مجذوب ہوں لیکن بہ فیض مرشد کامل
نظر میں راھزن کو رہنمائے سالکان کردوں

اگر زاھد مے گل رنگ سے دامن ہے تر میرا
تو پھر اشک ندامت سے بھی تر ہے استین میرا

حافظ شیرازی:

به مقامے رسیده ام که مه پرس

چہ گویمت کہ بہ مے خانہ دوش مست خراب
سروش عالم غیبم چہ مژدہ ہا دادست

څه ووایم چې بېګاه په میخانه کښې د مستۍ خرابۍ په وخت کښې د عالم غیب فرشتې څه خوشخبري راکړه.

مہ بین حقیر گدایاں عشق را کہ این قوم
شہان بی کمر و خسروان بے کلہ اند

د عشق فقیرانو ته سپک مهٔ ګوره – دا بې کمربند شاهان او بې تاج بادشاهان دي.

رموز عشق و سر مستی ز من بشنو نه از واعظ
که با جام و قدح هر شب قرین ماه و پروین ایم

د مستۍ او د عشق رازونه مانه واوره چې هره شپه د جام او پیالې سره د سپوږمۍ او پروین په خوا کښې یم.

ہمچو حافظ غریب در ره عشق
بمقامے رسیده ام که مه پرس

غریب حافظ د عشق په لاره کښې هغه ځاې ته رسیدلی چې تپوس مۀ کوه.

گہے بر طارم اعلی نشینم
گہے بر پشت پائے خود نه بینم

کله خو په اوچتو مقاماتو کښې یم او کله د خپل تلي لاندې نۀ وینم.

عبدالرحمان جامی:

چه کار آید مرا کشف و کرامات

سلوک راه عشق از خود رہائست
نه قطع منزل وطے مقامات

د عشق په لاره تګ خپله سلوک دی او مقصد دی نۀ دا منزل ختمېږي او نۀ طے مقامات غرض دي.

من ومستی و ذوق مے پرستی
چه کار آید مرا کشف و کرامات

زۀ یم او مستي ده او د مے پرستي ذوق دی په کشف او کرامت څه کوم.

مزن بے ہوده لاف عشق جامی
فان العاشقین لهم علامات

جامي بی فائدې د عشق لافې مۀ وهه – د عاشقانو خپل علامات دي.

نیست سوز عشق را جز صبر چیزی ساز گار
آز مودم بار ها آن هم نمی سازد مرا

د عشق په سوز کښې د صبر نه بغیر څه کارګر نۀ دی بارها مې او اوزمایه هغه هم په کار نۀ شو.

بادشاهي د ګدایانو په دُعا شي:

په ظاهره مونږ ته ښکاري چې په دنیا کښې یو نظم چلېږي ملکونه دي براعظمونه دي چېرته بادشاهان، چېرته صدران، چېرته وزیر اعظمان دي او مختلف ادارې دي خو په اصل کښې دا ټول هر څه د الله تعالیٰ د باطني نظام لاندې چلېږي باطني نظام کښې د ملائکو نه علاوه اقطاب، غوثان، ابدال او صاحب خدمت وي قطب الرشاد د ټولو مشر وي د هغه کار ارشاد و تبلیغ او د هدایت خورول وي.

قطب تکوین سره د تکوینیاتو شعبه وي لکه د دنیا ظاهري نظم، بادشاهاي حکومتونه جوړېدل غوزیدل وغیره د تکوین کارکولو واله ته صاحب خدمت وئیلې شي دوې لکه د اټومیټیک مشین په شان کارکوي دا اکثر خړ پړ ګمنام غیر معروف کسان وي او خپل

ځان پټ ساتي دا هغه خلق دي چې بې هاتیانو بې او ښانو بادشاهي کوې که د مې خانې دربان دي خو پادشاهانو ته تاجونه په سر کوي او تاجونه کوزوي په ظاهر ګدا دي خو په اصل شهنشاه دی وړه بادشاهي ئې د ماه نه واخلي تر مهی پورې وي.

بادشاهي د ګدایانو په دعا شي
زه رحمن ځکه بادشاه یم چې ګدا شوم

چې د سنګ مې دلبر په لاس کښې جام دی
نن اورنګ د زمانې زما غلام دی

قلندر چې په رښتیا قلندري کا
خان سلطان او قلندر درې واړه یو دي

په هجران کښې که ګدا ووم کند په غاړه
په وصال کښې یې بیا خان او امرا شوم

د دنیا بادشاهان خواست کړي له فقیره
ته بادشاه د هسې ملک ئې خواست ګر مه شه

قناعت مې د خرقې لاندې اطلس دی
پټ د درست جهان بادشاه ظاهر ګدا یم

شین لوګی مې په سر چهتر دونهه تخت دی
د دونهې په غاړه ناست شاه جهان یم

خواجه عزیز الحسن مجذوب:

دم مستی مگر شاہ شہاں معلوم ھوتا ھوں

بظاہر تو میں رسوائے زمانہ معلوم ہوتا ھوں
دم مستی مگر شاہ شھاں معلوم ہوتا ھوں

الگ سب سے ہوں سب کے درمیاں معلوم ہوتا ھوں
کہاں پہنچا ہوا ہوں میں کہاں معلوم ہوتا ہوں

خبر بھی ہے کہ ہم ہیں کس سراپا ناز کے بندے
وزیر و شہ کوئی ہو ہم کسی کو کیا سمجھتے ہیں

حافظ شیرازی:

که ستانندو دهند افسر شاهنشاهی

بہ در میکدہ رندان قلندر باشند
کہ ستانند و دہند افسر شاہنشاهی

د مې خانې په دروازه داسې قلندران دي چې شاهي تاجونه کوزوي په سر کوي او عطا کوي.

ز پادشاہ و گدا فارغم بحمداللہ
گدائے خاک در دوست پادشاہ من است

بحمدالله چې د شاه او ګدا نه فارغ یم د دوست د دروازې د خاورو فقیر زما بادشاه دی.

مرا گدائے تو بودن ز سلطنت خوشتر
کہ دل جورو جفائے تو عزو جاہ من است

ما د پاره ستا ملنګي د بادشاهي نه ښه ده ځکه چې ستا د جورو جفا

ذلت زما عزت او لوئي ده.

کلاه دولت خسرو کجا بچشم آید
که خاک کوئے شما عزت کلاه من است

د خسرو د دولت شمله زما نظر کښې څه ده چې ستا د کوڅې خاورې زما د شملې عزت دی.

اگر گوید نے خواهم چو حافظ بنده مفلس
بگوئدش که سلطانی گدائے ره نشین دارد

که وایې چې د حافظ په شان خوار ذلیل غلام نهٔ غواړم – نو ورته وایه چې دا خوار فقیر بادشاهی لري.

اگرت سلطنت فقر به بخشند اے دل
کمترین ملک تو از ماه بود تا ماهی

زړګیه که د فقر بادشاهی درکړي نو ستا وړوکی ملک به تر سپوږمۍ و تر مهی وي.

عبدالرحمان جامی:

سفال میکده و جام و گدائی او جم ماست

خانقاه میکده است جامی را
باده کهنه پیر خانقاه است

میکده د جامي خانقاه ده – او زاړه شراب د خانقاه پیر دی.

به بزم ما سخن جام جم مکن جامی
سفال میکده جام و گدای او جم ماست

جامي زما په مجلس کښې د جام جم خبره مهٔ کړه – د میخانې د خاورو کنډول او د هغې ګدا زما جم دی.

کبوتر حرم او به شاخ سدره طوبے
نمی دهد خس و خاشاک آشیانه خود را

د حرم کمتره په سدرة المنتهی او طوبی جاله جوړه وی خپل جالې ته خش و خشاک نهٔ یریږي.

ترکنځلو به یې ځار کړم دغه خپل دعا سلام:

رسول الله ﷺ ته د مکې رؤسا راغلي وؤ رسول الله ﷺ هغوی ته ډیره توجه ورکوله دې دپاره چې که چرې دوې ایمان راوړي نو د مکې د عامو خلقو ایمان راوړل به آسان شي په دې وخت کښې حضرت عبدالله ابن مکتوم رضی الله عنه راغی چونکه هغه په سترګو ړوند وؤ چې رسول الله ﷺ سره څوک ناست دي او څه خبره کېږي خو خپله خبره یې شروع کړه په رسول الله ﷺ دا لګه ناګواره اولګیده او هغه ته یې څه خاص توجه ور نهٔ کړه، نو د سورة عبس آیتونه نازل شو او د الله تعالیٰ د طرف نه یو قسم زورنه راغله چې عبدالله ابن مکتوم رضی الله عنه ته تا څه توجه ور نهٔ کړه، نو بیا کله چې به عبدالله ابن مکتوم د رسول الله ﷺ مجلس ته راغی نو رسول الله ﷺ به وې راځه راځه ستا د وجې نه خو الله پاک ماته زورنه راکړې وه، خو دا زورنه د رسول الله ﷺ په شان کښې د نقص موجب نهٔ وؤ بلکه د زیاتی خصوصیت علامت وؤ او په دې کښې ډیره مزه وي عاشقان په دې پوهیږي چې د محبوب په زورنه او شکایت کښې کومه مزه وي.

دغسې بنو سلمه او بنو حارثه د مدینې دوه قبیلے دي چې د غزوه احد په موقع یې په زړه کښې څه د بزدلۍ خیال راغی خو زر سم

شول نو آيتونه نازل شو:

﴿إِذْ هَمَّتْ طَّآئِفَتَانِ مِنكُمْ أَن تَفْشَلَا ۖ وَاللَّهُ وَلِيُّهُمَا ۗ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ﴾

يعنې ياد که هغه وخت چې ستاسو نه دوو ډلو دکم همتۍ او بزدلۍ اراده کړې وه او الله تعالیٰ د دوې دوست دی، نو دوی بزدلي ته پرې نه ښودل.

صوفيه کرام وايي چې بعضې بزرګانو کښې د مراديت شان وي مطلب دا دی چې هغه بزرګ که ګناه کول غواړي هم خو خدايې پاک يې پخپله د هغې ګناه نه بچ کوي داسې حضراتو ته محفوظ وئيلی شي اګر چې په دې آيت کښې د عتاب يو صورت دی او په ظاهره ويلی شي چې د يو نقص اظهار دی خو د هغوې د (وليهما) په نزول دومره خوشحاله ؤو او وې به يې چې که مونږ دکم همتۍ اراده نۀ وی کړې نو وليهما به چېرته نازليدلی.

په يو موقع رسول الله ﷺ ويلې ؤو: "و ان رغم انف ابی ذر" يعنې که د ابی ذر صحابي پوزه په خاورو خړه شي بيا به هم داسې ضرور کېږي، نو ابی ذر غفاري رضی الله عنه چې به کله دا حديث بيانولو، نو و ان رغم انف ابی ذر به يې پکښې خامخا وې او مزه به يې اغيسته.

د حضرت شاه ابو المعالی يو خاص خليفه حج ته تلو حضرت ورته وی چې کله بارګاه نبوي کښې حاضر يې نو زما سلام هم ووايه چې کله يې سلام اووے نو جواب کښې ورته ارشاد اوشو چې خپل

بدعتي پير ته زما سلام هم ووايه بدعتي يې ځکه وويې چې شاه صاحب به کله کله دوه ځلور شعرونه اوريدل د نن زمانې د اهل سماع غوندې خبره نۀ وه خليفه چې واپس راغی شاه صاحب ترې تپوس وکړو چې زما سلام دې حضور ﷺ ته ويلی وو خليفه وې او حضور هم سلام وئيلی شاه صاحب اووی نه هغه شان ووايه ځنګه چې رسول الله ﷺ ويلي دي خليفه وې حضرت تا ته خو پته ده بيا مانه ولې تپوس کوې حضرت وې نۀ زه هغه لفظ اوريدل غواړم په هغې کښې بل شان مزه ده اوکله چې خليفه هغه شان اووې نو په شاه صاحب باندې حالت طاري شو او دا شعر يې ووې:

بدم گفتی و خرسندم عفاک الله نکو گفتی
جواب تلخ می زيبد لب لعل شکر خارا

تا ما ته بد ووی زۀ خوشحاله يم خدای دې تا معاف کړې تا صحيح خبره وکړه – ستا خوږو شونډو سره هم دا تريخ جواب ښه ښکاري.

اهل محبت د تريخ جواب په خوند پوهېږي.

ليلی خيرات تقسيمولو مجنون هم د خپل کاسې سره اورسيدو ليلی د مجنون کاسه واغسته او زمکې ته يې را خلاصه کړه کاسه ټوټې ټوټې شوه او مجنون په ګډا شو چا ورته وې خيرات يې هم در نۀ کړو اوکاسه يې درله ماته کړه څه له ګډېږې مجنون په خندا شو وې ستا کاسه يې ولې نۀ ماتوله خو ماسره يې څه نسبت مناست دی ځکه يې زما کاسه ماته کړه د کاسې د ماتيدو نه چې

مجنون ته کومه مزه محسوس کېږي غیر مجنون په هغې څه پوهېږي.

رحمان بابا هم د خدایې عاشق دی او عاشق هم د هغه داسې دی لکه چې حدیث مبارک کښې وائي چې د خدائې ذکر په دومره کثرت سره کوې چې خلق وائي مجنون دی او دا حالت د رحمان ؤو ځکه خو خپله هم وایي:

چې مجنـون پـه ځنکـدن شـو زۀ یـې پرېښـودم نائـب
نصـیحت یـې راتـه اوکـړو پـه څـو شـان عجائـب
عاشـقي سـړی مجنـون کانـدي رحمانـه
ګنـړې څـوک پـه هوښـیاری ووزي لـه کـوره

او بیا په عشق او جنون کښې هغه درجې ته رسیدلی دی چې انتهائي پوړی ده ځکه خو وایي:

زه هغـه تحصـیل تمـام ګنـړم پـه عشـق کښـې
چـې ئـې روغ وکـړي بـولي لیـونی

بیا د دې نه هم بره کمال ته ځان رسوي او وایي:

روغ صـورت کـه روغ عـالم لـره کمـال دی
لیـوني لـره کمـال دی چـې سنګسـار شـي

دا لا څه چې د محبوب ترخې پرې خوږې لږې او په دې ارمان وي چې د محبوب د خولې نه ترخې واوري دا ځان له د رحمان خواهش

نۀ دی د صوفیاؤ سرخیل مولانا روم څومره مخکښې وئیلي وؤ:

و ز محبت تلخها شیرین شود
و ز محبت سرکه انگبین شود

د رسول الله ﷺ ، صحابه کرامو او اولیاء الله مثالونه خو دې وکتل رحمان بابا هم واوره چې د دغه ډلې ملګری دی اوکه نۀ دی:

کـه پـه عشـق کښـې ناکـام ډیـر دي
دا ناکـام دی زمـا کـام
خـوښ یم زۀ پـه عاشـقي کښـې
کـه نیـک نـام یم کـه بـد نـام
پـه یـاري کښـې مـې قبـول دی
ملامـت د خـاص و عـام
د دعـا پـه عـوض غـواړم
د خپـل یـار د خـولې دشـنام
تـر ښـکنځلو بـه یـې ځـار کـړم
دغـه خپـل دعـا سـلام
تلـخ ګفتـار یـې راتـه خـوښ دی
تـر کشـمش و تـر بـادام
دا کـوم رنـګ د اشـنائي او د وروري دی
چـې زۀ سـتا د مـخ ثنـا کـړم تـۀ مـې زوری

چې کنځل راته په مهر قهرکاندې
دا لا اوګنړې په ما باندې احسان خپل

دوه یاران به دا رنګ نۀ وي چا لیدلي
چې یوه ورته کنځل کړ بل دعا کړ

عبدالرحمان جامي هم وايي چې د يار د خولې په کنځلو او بد دعا يې کار کېږي، نو د دعا به څه حيثيت وي دا راله بس دی.

خواستم خواهم ازاں لب بد دعا و دشنامے
حاجت من چه واګشت چی حاجت به دعا

د يار د خولې کنځل او بد دعا غواړم – چې په دې کارکېږي نو د دعا څه حاجت دی.

معشوقې د عاشقانو دين ايمان دی:

اګرکه رحمان بابا خپل کلام ته د مجاز جامه آغوستې خو په دې کښې هيڅ شک نشته چې د رحمان معشوقه د الله تعالیٰ ذات دی هغه د الله تعالیٰ په ذات مئين دی او د الله تعالیٰ دپاره هغه هر څه قربانولو ته تيار دی د دنيا مال و متاع خو ډير معمولي شی دی په دنيا کښې د ټولو نه زيات خوږ ځيز خپل ځان دی خو رحمان ته ګوره چې په کوموکومو طريقو د خپل ځان قربانۍ ته تيار دی آفرين دې په داسې عاشق.

معشوقه که د خپل سر په بها مومې
و رحمان وته وړیا ده بهانه ده

ستا د عشق تر توري ککرې د رحمان ځار شه
دا هم سهل کار دی که په دا وي

که څوک را کاندې دنیا و عقبی دواړه
عاشقې به دې په این و آن ور نۀ کړم

معشوقې د عاشقانو دین ایمان دی
زۀ به چا لره خپل دین ایمان ور نۀ کړم

ما سیوا له یار هر چې دی رحمان
واړه کفر دی په دین د عاشقانو

که په مرګ د عاشقانو یې رضا ده
خدائې دې ما که تر همه واړو وړومبی

څویې او ښکې په مخ لاړې جوړې نۀ کا
د هغه و معشوقو ته کله لاړ وي

هزار وار به ئې د یار تر نامه ځار کړم
که په قطع مې دا یو صورت هزار وي

که یار سر په دیدن غواړې مۀ جار وزه
دغه حکم رحمان کړی دی دلال

چې د یار په دیدن سرو مال شیندم
خلقو واورئ زۀ هغه عبدالرحمن یم

ځکه زاهد زهد که د یو جنت دپاره
سر ښندلی نۀ شي په اور بل د جانانه

معشوقه وفا له هیچا سره نهٔ کا
ګنړه کوم یو د دې رخت خریدار نهٔ دی

دا ستا درد به په هزار درمان ور نهٔ کړم
دانسته په دغه سود په زیان ورنه کړم

که رحمان د عاشقي په تیغ شهید شي
د جنت حورې همه واړه دلې دي

همره اور د عاشقۍ په زړه یوسي
چې لاله یې له تربت دمیده شي

پس له مرګه به ئې بیا له تا قربان کړم
که صورت مې خدائې پیدا کړ په محشر بیا

که مې چرې لاس د ستا په بوسه بر شي
یو ویښته به دې په درست جهان ور نهٔ کړم

دیوانه به ده خندد و ده په دیوانه:

رحمان بابا وائي چې د خلقو سره زما معامله دکلي والو او د دیوانه ده چې کلي دیوانه پورې خاندي چې دا څه کوي نه ورسره دځپل ځان فکر شته نه د معاشرې نه رسم و رواج پیژني او نه څه روزګارکوي او دیوانه په کلي پورې خاندې چې دا څه لیوني دي په سود وزیان په زمکو جائیدادونو جهګړې قتل مقاتلې کوي حالانکه دا ځیزونه خو چا سره وفا نه کوي ټول خاورې کیدونکي دي ولې ښه ژوند نه تیروي.
یو بل سره مینه محبت ولې نه کوي صبا به مړ یې هر څه به پاتې وي زه دې ځیز لیونی کړی یم.

نادانان به د دنیا په کار نازیږي
و داناو ته دا وشتی مسخرې دي

زه و زاهدانو ته حیران یم دوی و ماته
دیوانه به ده خند و ده به دیوانه

زه دا هسې دیوانه و مجنون چا کړم
له رواج له رسوم بیرون چا کړم

کل وسواس له احتیاط پیدا کیږي
زه د ډیر هوښیارۍ نه لیونی شم

هر چې عاشقي کا که په قطع افلاطون وی
زه خو ئې مجنون ګنړم که نن دی که سبا

په تعلیم د معلم به هوښیار نهٔ شي
چې په لوح محفوظ کښې کښلی لیونی دی

که ته نه یې باری وایه راته څوک دي
زه دا هسې لیونی و مجنون چا کړم

زه هغه تحصیل تمام ګنړم په عشق کښې
چې یې روغ وګړي بولي لیوني

روغ صورت که روغ عالم لره کمال دی
لیوني لره کمال دی چې سنګسار شي

په جذبه د عاشقۍ به لیونی شي
که په قطع افلاطون غندې هوښیار وی

میان عاشق و معشوق رمز یست
کراماً کاتبین را هم خبر نیست

د الله تعالی په بادشاهي دا راز و نیاز څه ډیر چلیږي په دنیا کښې هم ځیزونه او نتیجه ښکاري خو سبب ئې پټ وي ځوک چې د سبب نه هم څه نه څه خبر دي هغوي ته عارفان وائي او چې ځوک ځومره زیات خبر دي هغه هومره زیات خاموش دي مشهوره قصه ده چې شاګرد آستاد ته وی ماته اسم اعظم اوښایه هغه وی ستا د بس خبره نه ده چې ډیری تنګ کړو وې صبا دغه چونګی ځوکی ته لاړ شه چې څه دې ولیدل ماته اووایه شاګرد راغی یو غریب بوډها د خشاک ګیډی په شا راغی هغه سپاهي خامخواه بې وجهې اووهلو ماله دومره غصه راغله چې که ماسره اسم اعظم وی خو دا سپاهي به مې پریښی نه وی آستاذ ورته وی ما اسم اعظم د دغه بوډها نه زده کړي دي مطلب دا چې د دین د سلوک معامله په راز باندې ده لکه هغه یو بزرګ وئیلي چې منصور د سلوک بچی وو یوګوټ ئې اوڅښل او بیا په ځان نه پوهیدو د انا الحق چغې ئې شروع کړې دلته داسې کسان دي چې سمندرونه ئې څښلي دي او آډرقي هم نه کوي.

د طالـب و مطلـوب راز بـه مـا در وښـود
کـــه تـــه نـــه وی خبـــردار لـــه دې رواج

د عشـق راز چـې هیچـا نـه دی بیـان کـړی
تــرو بــه زه لــه بــې بیــان وایم څـــه

د سـکوت پـه تیـغ چـې ژبـه بریـده شـي
لا قلـم غونـدې پـه قـال کښـې دویـده شـي

زه نـــور چـــا وتـــه د راز خبـــرې نـــه کـــړم
بـــې هغـــو چـــې مـــوی مژګـــان لـــري دراز

د منصـور و حـال تـه ګوره حـال یـې څـه شـو
خـدای د فـاش د هیچـا نـه کانـدې پـټ راز

عاشـــقان و معشـــوقې ســـره پـــوهیږي
دغـــه راز و نـــور عـــالم تـــه عیـــان نـــه دی

❖❖❖

باب : ۶

آدم ذاد او حیوانات

انسان کښې الله تعالیٰ روحانیت او حیوانیت دواړه ایښی دی په روحانیت کښې د جبرائیل نه هم وړاندې لاړ شي او د حیوانیت په رُخ د سپي او خنزیر نه هم بد تر شي دنیا د انسان د خواهشاتو د پوره کیدو میدان نهٔ دی بلکه د تحدید خواهشاتو حکم دی د انسان د خواهشاتو د پوره کیدو میدان په آخرت کښې جنت دی.

په دنیا کښې د خواهشاتو د نهٔ پوره کیدو دوه وجې دي یو خوا دا چې خواهشات لا محدود دي او دویم دا چې آلات خواهش او میدان خواهشات محدود دي.

د جنت د حاصلولو او د جنت مزې څکلو دپاره الله تعالیٰ روح ورکړو دنیا د انسان د روحانیت د تکمیل میدان دی څنګه چې د خاکي جسم دپاره د دنیا خوراکونه دي د روح دپاره روحاني غذاګانې دي د ټولو نه اعلی ترینه روحانی ډش قران کریم دی د دې په استعمال په دنیا کښې اطمینان راشي او د انسان اعضاء روحاني او د جنت د نعمتونو د استعمالولو جوګه شي جنت کښې به درې غټ نعمتونه وي لقائے رب، رضائے رب، او نعمائے رب.

بنیادمانو او حیواناتو کښې بعضې خویونه مشترک وي د بنیادمانو دپاره د الله تعالیٰ احکام د حدودو ضوابطو کارکوي او بنیادم د حیواني خویونو د بې دریغ استعمال نه بچ کوي ځکه انسان دی حیواناتو دپاره دغه حدود قیود نشته ځکه هغه حیوان

پاتې شي حیوانات بذات خود د الله تعالیٰ مخلوق دی او د هغه په خلقت کښې بې شماره حکمتونه او مصلحتونه دي رحمان بابا په څومره ښائسته طریقه د حیواناتو مثالونه ورکړي چې د بنیادمو دپاره ئې د عبرت سامان جوړ کړی دی.

په آدم کښې د حیوان خویونه هم شته :

پــه روا پــه نــاروا کلــه پــوهېږي
و چــار پــائې تــه څــه روا څــه نــاروا

چار پایان که غوږ و سترګې لري څه شو
پــه معنــی کښــې نــا بینــا دي نــا شــنوا

نتیجــه یــې ریــش کنــده جامــه پــاره وي
آدم زاد چــې لــه چار پــائې محبــت کــه

تهٔ په اصل کښې سړی یې څاروی نهٔ یې
د چــار پــایو چــارې مــهٔ کــوه دوه پــایې

مرتبــه بــه دې د مــچ او د میــږي شــي
زړه پــه غــوړو غوښــو مــهٔ تــړه همــائې

پــه آدم کښــې د حیــوان خویونــه هــم شــته
بیــا هلــه یــې آدم بولــه چــې آدم شــي

چې خویونــه د چار پــایو پکښــې نــهٔ وي
ســړی هــوښ پــه ســړي هلــه مسلم شــي

سړی هوښ چې د سړي لـه تـن پـاځي
د سړيو پـه جامـه کښـې خربشـوې شـي

اې رحمـان چـې بـد فهـم بـد کـردار شـي
راتـه وايـه سـپی بهتـر دی کـه سـړی

هـومره زيـان لـه خـوګ خـرس نـهٔ رسـېږي
لکه څوک چې په آدميانو کښې بد خوئي شي

هر مرغـه پـه خپلـه جالـه کښـې همـائی دی
کـه کارغـه کـه مښـکـيرک دی کـه ققـنس

هـر مارغـه چـې د بـل غوښـې خـوري مـردار دی
ځـان حـلال کـړه لکـه زانـره شـاهين مـهٔ شـه

لکـه فـرق چـې د همـائي و د زاغ نشـتـه
هـم دغـه دليـل د شـاه و دګـدا دی

د يوې خبرې يا معاملې پوهه کولو دپاره مختلف طريقې استعمالېږي مثالونه ورکول يا بيانول يو طريقه ده، الله تعالیٰ په قران کريم کښې بې شماره ځاې دا طريقه استعمال کړې رسول الله ﷺ خپلو احاديثو کښې هم په بهر پور طريقه سره د دې استعمال کړی دی د عالمانو، استاذانو او د بزرګانو دا پسنديده طريقه ده دنيائي علوم او روزګار کښې هم د دې استعمال چلېږي مثال زباني هم کيدی شي او عملي هم راځئ چې د دې دوه درې مثالونه د بزرګانو په ژوند کښې وګورو يو بزرګ اوې چې خبره يوه وي خو د

کولو د طرز د وجهې نه ئې اثر جدا وي څوک پوهه شو څوک نهٔ شو هغه مثال ورکړو، چې بادشاه خوب اوليدو چې تمام غاښونه يې پريوتي دي تعبير واله تعبير ورکړو چې ستا تمام خاندان به ستا په مخکښې مري بادشاه خفه غصه شو سزائے ورکړه بل کس ته ئې خوب اووې هغه تعبير ورکړو چې په خاندان کښې به ستا عمر د ټولو نه زيات وي بادشاه خوشحاله شو انعام ئې ورکړو حالانکه خبره هم هغه يوه ده د يو بزرګ په خادمه د هغه مريد مئين شو بزرګ ته پته ولګيده خادمې له ئې د دستونو دوائي ورکړه او ورته ئې وې چې د دستونو ملبه په دې منګي کښې جمع کوه خادمه کمزورې شوه د مخ سره ئې ختم شو کړاغې سترګې بې مجاله شوه بزرګ مريد راوستو ورته ئې وې تهٔ دې خادمې سره واده کول غواړې ستا خوښه ده مريد چې د خادمې حال اوليدو نو انکاري شو بزرګ د دستونو ډک منګی مريد ته مخکښې کړو او ورته يې وويل: ښځه هم هغه ده صرف دا ملبه ترې وتې ده آيا تهٔ په دې ملبه مئين وې دا عملي مثال وؤ د داسې مثالونو شمار نشته.

رحمان بابا هم لکه د نورو بزرګانو په خپل کلام کښې د مثالونو نه کار اخيستی کلام ئې هسې هم سليس دی د مثالونو په وجه نور هم آسان شوی دی دا مثالونه د انسانانو نه واخلئ تر د حيواناتو، پرندګانو، چرندګانو، ګزندګانو، مچ مچی او ماهي پورې دی مطلب ئې صرف پوهه ول او وضاحت نهٔ دی بلکه با قاعده عبرت حاصلول دي او هره خبره ئې دکانړي کرخه ده.

زه هر ګوره خپل صنم پورې شرمېږم:

رحمان بابا وائي چې برهمن يا بامبړ د خپل بت په پښو سر ږدي نو ماله شرم راځي چې د خپل خدای عبادت ولې نۀ کړم ستي د غيرت نه خپل خاوند پسې ځان سيزي او زۀ ژوندی ګرزم چې سنډا سی لنګوټ تړلی سر ببر د خپل رب په در د بخشش په نيت ناست دی نو رحمان ته ولې د خدائې په در د بخشش په اميد نۀ کينې.

زۀ عار نۀ لرم په عشق کښې له پيغوره
بې پرواه يم د ستي په څير له اور

دا ستي چې په اور سوزي مراد ئې دا دی
زۀ په اور کښې سوځ ښه يم نۀ بې پت

په دربار يې سنډاسی ورته کينه
تار په تار د سر ويښته ايرې مبتلې

خون بها مې د ستی په مثل نشته
ما په خپله قبول کړی دا خپل سوی

زۀ هر ګوره خپل صنم پورې شرمېږم
برهمن چې سر په پښو د خپل صنم ږدي

حيوانات هم په تسبيح د خدائی مشغول دي:

چې حيوانات د خدائی په تسبح مشغول دي نو انسان له غفلت مناسب نۀ دی.

رحمان بابا انسان ته دا مثال ورکوي چې د حيوان نه بتر مۀ شه د حيوان ښه خو يونه ښه دي خو په دوستۍ ئې اعتبار مۀ کړه.

غفلت هيڅ مناسب نۀ دی د سپين ږيرو
صبحدم که حيوانات دي هم بيدار شي

حيوانات هم په تسبيح د خدائی مشغول دي
ته انسان يې له حيوان بتر مۀ شه

که څوک تله د انصاف په لاس کښې درکا
خپل ښتو او د بل آس به برابر کړې

څه په دا به عراقی او ترکی نۀ شي
که په خر باندې څوک سور شي که په آس

که هيچا پړکړی نۀ وي په جهان کښې
وا جل ته لکه خر په خټه پړ شې

بې ناکام زيست محال دی په جهان کښې
دکوم آس په خله کښې دخل لګام نۀ که

لاعلاج به لکه اوښ بار برداري که
چې په پوزه يې پيزوان شه د عشق پړی

لکه څوک چې په خر سور وي مخ ئې تور وي
زۀ هم هسې تر ښځتن پورې بې آب يم

د مکې په بزرګۍ کښې هيڅ شک نشته
ولې خر به حاجي نۀ شي په طواف

و نمانځه ته چې نمر خيژي هله پاځي
په قلبه پسې په نيمه شپ روان يې
نتيجه ئې ريش کنده جامه پاره وی
آدم ذاد چې له چارپايه محبت که

وور سړی ګوره رحمان
چې لوې فيل ئې بار بردار دی
لکه ډارکاندې ورغومی له ګرګانو
هسې رنګ له خدائی نه زما ډار شي

نۀ ليوه په آدميت اموخته کېږي
نه اميد د مروت شي له افلاک
له فلک د وفا اميد باطل دی
کله ديو د آدم زاد سره وفا که

څوک د اس دپاسه سور توغ د وړاندې
څوک ږيرکلی ګرزاوه شي په خره سور
عاشقان د يار تر سپيو هم ځارېږي
ګنړي ما د رقيبانو څه پرواه کړه

هر مارغه په خپله جاله کښې همائی دی:

د مارغانو نه عبرت واخله يو ډير قيمتي دی خو مردار دی بل بې قيمت خو حلال دی په خپله رام شه چې د صياد د غم خلاص شي شکل صورت ئې يو شان دی خو يو همائی دی بل زاغ دغه مثال د

شاه او دګدا دی.

د همائی په څير طمعه کړه وچ هډوکی
لکه مچ طلب د شهدو شکر مۀ کړه

که آغوستی ئې زري جامې وې څه شو
ګڼړې يا مرغ زرين دی يا طاؤس
که ئې تاج وي په سر ايښی غذا وشوه
په نظر زما هدهد دی يا خروس

هر مارغه په خپله جاله کښې همائی دی
که قارغه که مښيکيرک دی که ققنس
په خواړه او په څښه کلا وينه نيسي
هر مارغه چې په قفس کښې د صياد وي

د چکنا چکنی بيلتون په نيمه شپه شي
ستا زما په حال غماز شه د صبا مخ
هر مارغه چې د بل غوښې خوري مردار دی
ځان حلال کړه لکه زانړه شاهين مۀ شه

دا باران نۀ دی چې ووري له آسمانه
د مارغانو په رحمان باندې ژړا شوه
چرګ په دوه پسې حلال شي
باز په سل روپی مردار دی

د صیاد له وحشتونو خپسر خلاص کړه
لکه مرغ خانگی پخپله رام شه

دا نارې سورې په عشق کښې دې غمازې
گڼړه تل به د بلبل په څیر پتنگ کړ

لکه فرق چې د همائی او د زاغ نشته
هم دغه دلیل د شاه او د گدا دی

مار چې سوړي له ورشي گوره سم شي:

چیندخ سحر سحر ثنا وائي او زۀ دې اوده یم لکه د مچ په غوړو زیړو پسې مۀ گرزه پتنگ د عشق په وجه او د ځان قربانولو په سبب په دنیا کښې یاد دی د سرو مچو نه د شهدو طمع مۀ کوه.

که د غلوزی لباس اوکه غزا اوشوه
شهد نۀ دي چا موندلي له زنبوره

ما ر چې سوړي لره ورشي گوره سم شي
تۀ دگور په غاړه راغلی نۀ شوې سم

مرتبه به دې د مچ او د میړې شي
زړه په غوړو غوښو مۀ تړه همائی

زۀ به ولې د خپل یار ثنا نۀ وایم
چې سحر سحر نارې وهي تل غوک

تل وښو وته آزار د بدو رسي
هر چینجی و نرم چوب و ته دوځار شي

پتنگانو لره خدائی ورکړو په اورکښې
هغه عیش چې ئې بلبلې په گلزارکه

بلهوس به نۀ پتنگ و پروانه شي
د مگس په څیر له وراېه محبت کا

زۀ رحمن به څو ژوندی په دنیا پایم
چې په بلو لمبو څرخ لکه پتنگ خورم

لوئ ترکوم چینجی دی پروانه چې افسانه شو
واړه په نسبت د عاشقی نمایان دي

په دنیا کښې له دنیا گوشه کنار شه
سمندر غوندې په اورکښې گلغزار شه

زۀ رحمان بې یاره هسې شول و شل یم
لکه کب چې بې محیط وی شول وشل

❖❖❖

باب : ۷

ما د عشق په درس کښې نور څه لوستي نهٔ دي

شاعري او مجاز سره لازم ملزوم دي او رحمان بابا خو په خپله وائی:

ما د عشق په درس کښې نور څه لوستي نهٔ دي
بـې لـه زلفـو بـې لـه خـط بـې لـه خـال

خو کمال ئې د استعارو او د مثالونو دی چې سړی حیرانوي.

چې د يار زلفې رخسار مې په زړه نقش شو:

چې د يـار زلفې رخسـار مې پـه زړه نقش شـو
خپـل خلـوت مـې هندوسـتان و خراسـان دی

سـپين رخسـار و شـکين خـال و بلـه ضـم دی
يـا آيــاز و محمــود ســره همــدم دي

لــه رخســار حــال د زړونــو معلــومېږي
لــه بهــار نيــک و بــد دکــال عيــان شــي

خښ مې ستا د بنړو غشي په سينه دي:

پـه غمــزو د تــور ســترګو يم وژلــی
ژوبـل ژوبـل پړوکی پړوکی يم ټوک ټوک

چې خوناب ئې د چشمانو مے ناب شي
پيوســته لــه دغــه جـام ســره جـم وي

چې غرقـاب شي تـور مژګـان پـه يم د زړه
نـور خـراب شي خـان و مـان پـه نـم د زړه

خښ مې ستا د بنړو غشي پـه سينه دي
پــورا پــوری مــې وتلــی تــر اينــه دی

داسې يو شعر د عبدالرحمان جامي دی وائي:

حال جامی را چه پرسی تیر خورده در جگر
گـاہے افتـاں گـاہے خیـزاں از نگـاه مست تـو

د جامي څه تپوس کوې ستا د مستو سترګو غشي ئې په جګر خوړلي کله پاڅي کله پريوزي.

په زړه خوله لګوي مار د تورو زلفو:

بيـا مـې زړه د تـورو زلفـو مسـخر شـه
چپ وراست مې د حبشـو يـو لښکر شـو

ښاخ د زلفو ئې پخپله خدائی را ټيټ کړو
ګنــړې زهٔ د يــار وقــد پــورې کوتــاه يم

ښـامارانو غونـدې ګـرزي پـه ګنجونـو
نشي هيڅ پـه زړه کښې ډار د تـورو زلفـو

کـه بـل مـار چيچـل پـه لاس و پښـو کاندي
پـه زړه خولـه لګـوي مـار د تـورو زلفـو

زړه مې هسې ستا په زلفو پسې ورک شه
لکـه غوټـه د چا پريوزي پـه تـورتم کښـې

که ئې مخ په زلفو پټ وي باک ئې نشته
تـل پـه ګـنج بانـدې پراتـه وي اژدهـا

ما د عشق په درس کښې نور څه لوستي نۀ دي
بـې د زلفـو بـې لـه خـط بـې لـه خالـه

که يو ځل مې ستا زلفې په لاس کيوزي
يو ويښته به دې په درست جهان ورنه کړم

هسـې بنـد شـو پـه کمنـد د تـورو زلفـو
چـې حيـران يم درحمـان پـه خلاصـولو

که د مخ په زلفو پټ شي باک يې نشته
د حيـات اوبـه هـم پټې پـه تـور تم دي

کـه د سـتا د زلفـو مـار کانـدې خونونـه
مـا مونـدلې ځينـې عمـر جـاودان دي

هـر چـې واوړي پـه بـلا د تـورو زلفـو
هغـه بيـا تـرکـوره نـۀ دى راغلـى

چـې پـه سـپينو اننګـو د زلفـې زانګـې
ښـاماران دي د چنـدنړو پـه ښـاخونو

د بهار د ګلو عمر مدام نۀ وي:

کائنات خو ډير وسيع او عريض دى خو په دې تمام کائنات کښې شاعران صرف د ګل بلبل او شمع او پتنګ په خپلو اشعارو کښې تذکره کوي، او په آسمان کښې نمر ستوري او سپوږمۍ يادوي دې وجه څه ده زما په خيال کښې ګلونه د الله تعالىٰ د کائنات يو داسې

شاهکار دى چې د شاعر توجه خپل ځان ته را ړوي د شکلونو رنګونو او خوشبويانو په لحاظ سره د ګل نه بل زيات ښائسته ځيز نشته بلبل د دې ښائسته ځيز عاشق دى په ګل او په ګلزار پسې هميشه ژړا کوي.

آ عندلیب مل کے کریں آہ وزاریاں
تو ہائے گل پکار میں پکاروں ہائے دل

شمع ژاړي ځان سيزي خو نورو ته رنړا ورکوي تر هغې په راستۍ نيغه ولاړه وي تر څو ئې چې ځان ختم نۀ شي په ظاهره بلېږي خاندې او په پټه ژاړي خو د ځان په سوولو کښې څه کمی نۀ کوي او که څوک ئې سر پريکړي نو دا نوره زياته په خندا شي او رڼا زياته کړي چونکه شمع د پتنګ معشوقه ده او عاشقي يې تر دې حده پورې ده چې د ځان په سيزلو يې کار نشته چې شمع اووينې نو پتنګ پرې بار بار داسې څرخونه خوري چې آخر وسوزى لکه د نورو شاعرانو د رحمن بابا سره هم د دې ځيزونو قدر دى او د دوى په راستۍ او اخلاص باندې مئين دي ځکه ئې بار بار مثالونه ورکوي او مثال هم هغه چې د کاڼړي کربڼه څه چې هغه وئيلې د هغې نه بل څه نۀ شي کيدى.

کر د ګلو کړه چې سيمه دې ګلزار شي:

چـې خنـدا ئـې د بلبـل پـه آه سـردکـړ
خدائ د ګـل ګريـوان پاره کـړو سينه چاک

ګل لنمبه شو د بلبل په آه رحمان
نۀ ګروهيږي يار په هائی و هوی د ستا

هر بلبل به دې ثنا ګرکه ته ګل شې
په خپل ځان خپله ثنا څه پکار نۀ ده

ګل له ډيرې باريکۍ په شبنم خور شي
نازکان زړه بد وي په صاف جواب کښې

چې دګلو پريشاني شوه ورځګنده
غنچې سر په زانوکيښود خندا نۀ کا

ګل څه نۀ وائی چې غرق په وينو ناست دی
بلبل څه لره بې ځايه ګفتګوکړه

د غنچې په څير په سل ژبو خاموش يم
لکه بوي هسې په پټه خوله ګويا يم

کر دګلوکړه چې سيمه دې ګلزار شي
اغزي مۀ کره په پښوکښې به دې خار شي

چې په خپلو وينوګل غوندې غرق نۀ شې
و به نۀ وينې رخسارګلفام د ستا

د وفا دګلو پانړې په کښې نشته
کاشکې مۀ وی د دې دهر په ګلزار ګډ

دا ګلونه چې ئې ځای دی په دستارکښې
همه واړه به تر پښو لاندې غوبل شي

اے رحمان د بلبلو ژبه زده کړه :

د بلبلو نغمه زاغ کولی نۀ شي
هر سرود آواز په طور د خپل تارکا

د بهار دګلو عمر مدام نۀ وي
عندليب غوندې به پاتې په اهاړ شې

زاغان بولي بلبلان شړي له باغ
د دې دهر د باغبان وايم څه

دغه حق د بلبلانو په جانب دی
خدائی دې نۀ کا مښکيرک په لاله زارګډ

اې رحمان د بلبلو ژبه زده کړه
دغه پسې به صفت دګل اندام شه

په بلبل کله بهارکله خزان وي
په ما کل واړه خزان دی بې مخلص

څو سل خار ئې خښ نۀ شي په ټټرکښې
کله وي چې د بلبل وګل ته لار وي

لکه شمع مستقيم په خپل ايستاد يم :

په تندې چې آتش بل کړ مدام شمع
ځکه بيا مونده له خلقو آرام شمع

پتنګان ئې لور په لور تر مخ څرخيږي
ځکه نۀ کوي په سول کښې ارام شمع

وسېزه تهٔ ځان زما په شعله باندې
کړه پتنګ ته په رموزکښې کلام شمع

حرکت له ځاې نهٔ کا لکه شمع
که ئې اور په سر بلېږي په تاراق

زهٔ د ستا په غم کښې شمع غوندې ژاړم
تهٔ زما په غم کښې صبح غوندې خاندې

نشتن د عاشق نشته لکه شمع
څو صورت د عشق په اورکښې تمام نهٔ کا

د عشق اور چې شمع خود په سر قبول کړ
پروانه به څه حجت د ځان په سوکا

که د يار له لاس اور راباندې بل وي
لکه شمع مستقيم په خپل ايستاد يم

ستا له غم په ځان زړه د رحمان سوزي
لکه شمع په زيارت د شهيدانو

هر شپه به شمع څه لره ژړا کړ
که ئې نهٔ وي په ژړا کښې څه موندلی

نور د شمع په فانوس کله پټيږي
عشق د عقل په پرده کښې نمايان دی

لکه شمع په ورځ مرم و د شپې سوزم
تمام عمر مې نقصان دی بې مخلص

پتنګانو لره خدائی ورکړو په اور کښې :

پتنګانو لره خدائی ورکړو په اورکښې
هغه عيش چې ئې بلبلې په ګلزارکه

دا نارې سورې په عشق کښې دې غمازې
کنړې تل به د بلبل په څير پتنګ کړې

اې رحمان پتنګ عذر شو چې وسو
نور د شمع خندا څه کا ژړا څه کا

بلهوس به نهٔ پتنګ و پروانه شي
د مګس په څير له ورايه محبت کا

هيڅ له ځان له جهان خبر نهٔ وي
چې چراغ په نظر پريوزي د پتنګ

زهٔ رحمان به څو ژوندي په دنيا پايم
چې به بلو لمبو څرخ لکه پتنګ خورم

لوئی ترکوم چينجي دی پروا نه چې افسانه شو
واړه په سبب د عاشقی نمايان دی

❖❖❖

باب : ۸

زهٔ رحمان په پښتو ژبه عالمګیر یم

بې شکه چې رحمان بابا یو منلے شوے، شهرت یافته عالمګیر شاعر دی په دې باب کښې مخکښې هم ډېر اهم او مفید کار شوی دی چې د پښتو ادب بهترین قیمتي اساسه ده خو زیات ترکسانو د عالمګیریت ثابتولو دپاره د خارجي اسبابو سهارا اغیستي ده په دې لړکښې د ډاکټر میاه سهیل انشاء کوشش او سعې د داد او صفت وړ ده چې ډېر زړه سترې او زړه چاودنی کار ئې سرته رسولی دی هغه دَ هغه ټولو کسانو نومونه خوندي کړي چا چې د بابا دیوان یا کلام چهاپ کړی یا ئې د بابا د کلام او ژوند تذکره کړې ده هغه کسان ئې هم په ګوته کړي چا چې د بابا د کلام په مختلفو ژبو کښې ترجمې کړې یا ئې په نثر کښې راوستي دي دغسې کومو سخندانو، سکالرانو او مشاهیرو چې د بابا په دیوان خپل مقدمې او تبصرې لیکلي دي د هغې کسانو احاطه ئې هم کړې چا چې په بابا مقالې لیکلي او په مختلفو رسالو او مجلو کښې چاپ شوي د خپل وسع پورې ئې د هغه کلیزو مشاعرو او جرګو ریکارډ هم خوندی کړی کوم چې په سرکاري یا غیر سرکاري طور باندې شوي دي او دغسې ئې د هغه سندرغاړو نومونه په ګوته کړي چا چې د بابا کلام په خپلو مجلسونو یا په ریډیو سټېشنو کښې پیش کړې دي.

په دې ډول پروفیسر محمدالله صاحب د رحمان بابا د قلمي او

چاپ شده نسخو مکمل با تفصیل ریکارډ جمع کړی چې په کوم سنبهرکوم ملک اوکومه لائبریري کښې دی او یا مالک ئې څوک ؤو دا کار هم ډېر د صفت وړ دی دوست محمد کامل صاحب هم د بابا دَ عالمګیریت بیان په څه نه څه اندازکښې کړی او د خارجي اسبابو مدد ئې اغیستی دی.

ځکه خو دا کسان وائي چې د دې دلیلونو او ثبوتونو نه دا خبره لکه د نمر روښانه ده چې رحمان بابا څومره مقبول، معروف وتلے او منلے شوے شاعر دے او دا ټول مقبولیت صرف د یو کتاب په وجه دی.

مونږ د رحمان بابا د عالمګیریت دعوی په مختلفو بدلو طریقو ثابتول غواړو رحمان بابا عالمګیر شاعر دی خو دا عالمګیریت د هغه په خپل کلام کښې دننه دی یعنې دا یو داخلي سبب دی د عالمګیر کلام نه مطلب دا دی چې د عالَم هر نسل، رنګ، مذهب او قومیت ته مخاطب دی، په هغوې باندې اطلاق کېږي او هغوې ترې فائده اغیستی شي مثال په طور دا شعر عالمګیر دی.

د وفـــا خریـــدار بـــل خواتـــه دې درومـــې
دا متـــاع د زمـــانې پـــه دکـــان نشـــته

یعنې په دې دنیا کښې هیڅ شی پاتې کیدونکی نهٔ دی نهٔ عمر، نهٔ صحت نهٔ مال نهٔ دولت، نهٔ خپلوان، نهٔ یاران، نهٔ دا مانړی، نهٔ محلونه، نهٔ بادشاهانې، نهٔ حکومتونه او د دې اطلاق په هر چا دی که تور دی که سپین که عرب دی که عجم که سکھ دی که انګریز

او څوک هم چې دا ومني او عمل پرې وکړي نو فائده ترې اغيستی شي.

بل هغه کلام عالمګير دی چې هغه دومره مبادي اهم ضروري او ناګزير وي چې د هغې نه بغير د يو فن حصول تکميل ته نۀ شي رسيدی د مثال په طور دا شعر:

بـې رهبـر يـون د عشـق پـه لارې ګـران دی
دلتـه بو يـه چـې پيـدا کانـدې رهبـر څـوک

د الله تعالی د عشق لار يعنې سلوک و تصوف د شيخ او پير د رهنمائي نه بغير نۀ سرته رسي نۀ پکښې کمال حاصلولی شي دې دپاره شيخ لازم دی او شيخ هم هغه چې سلسله ئې منسلک وي چې کړې په کړې وي په مينځ کښې کړۍ غائبه نۀ وي بعضې جعلي پيران وائي زۀ د حضورؐ نه بيعت يم يا د عبدالقادر جيلاني نه بيعت يم دا ټوله دهوکه ده د نيکه به زوئی وي نو هله به ئې لمسی پيدا کېږي ځکه خو د محدثينو روايت دی چې فلاني فلاني نه روايت کوي او د تصوف سلسله وائي چې فلانی د فلاني خليفه ؤو.

دغه شان د رحمان بابا څه کلام خو د عالمګيريت نه هم بره آفاق ګير او د آسمانونو سره دي لکه چې وائي:

دا جهـان دی خـدائې لـه عشـق پيـدا کـړی
د جملـــه ؤ مخلوقـــاتو پـــلار دی دا

داخو د مخلوق اوکائناتو د پيدا کيدو نه اول خبرې دي عالم خو

وروستو جوړ دی يا لکه چې وائي:

زۀ پـه تـا بانـدې مئـين يم لـه ازل
نـۀ چـې کـړې مـې نـن ورځ ده ابتـداء

دلته د ازل د ورځ د الست بربکم واله خبرې کوي عالم لا موجود نۀ وو او بيا د فرشتو او اسمانونو خبرې کوي.

فرشـتې د عشـق لـه غـم څـه خبـر دي
خـو هـم مـا لـره دا سـخت سـفر پيـدا شـو

په تمام کائنات کښې صرف انسان دی چاته چې د عشق و محبت جذبه ورکړی شوې او دۀ قبوله کړې باقي تمام کائنات د دې جذبې نه محروم دي په هغوې کښې د عشق جذبه نشته بلکه فطرت دی چې لکه د آټوميټک مشين په شان کارکوي فرشتې هم لکه د آټوميټک مشين کارکوي د برَني تعريفونو مطابق چې کوم اشعار د عالمګيريت لاندې راځي هغه مو يو ځاې ګډ جمع کړي دي او د يو خصوصي عنوان لاندې مو ايښي دي مثلاً د عشق، آدميت، جهان، دنيا يا نور داسې عنوانات د شعرونو په انتخاب کښې مو دا خيال ساتلی چې هر شعر دې عالمګير وي او په هغې کښې مو هم د خصوصي اشعارو انتخاب کړی دی يعنې دا وئيلی شو چې دا جمع شوي اشعار صرف نمونه خروار دی نور خزانه په خپل ځاې پرته ده او د چا ايم فل يا پي ايچ ډي سکالر د توجه انتظار کوي.

عالمګير کلام د هغه بزرګانو په شان دی چې د تفريد په مقام باندې فائز وي او لکه د نمر تمام مخلوقاتو ته د رنړا او حرارت په شکل

فائده رسوي خواه که څوک يې غواړي يا ئې نۀ غواړي چې د صوفيانو سرخيل حضرت مولانا روم ؒ کلام ته وګورم چې هست قرآن در زبان پهلوئ چې زما مثنوي په فارسي ژبه کښې قرآن دی نو د حضرت سيدو بابا قول راته را ياد شي، چې که اجازت وی نو ما به د رحمان په شعرونو مونځ کولی الله پاک دې د رحمان بابا دا فيض جاري او ساري ساتي چې زمونږ په شان تش پانړي ترې مستفيض کېږي او د نجات صراط مستقيم بيا مومي "و ما علينا الا البلاغ".

لکه يار چې مې څرګند دی په جهان کښې
زۀ هم هسې په دا دورکښې يم څرګند

بې له عشق چې دولت ئې مستدام دی:

دا جهان دی خدائی له عشق پيدا کړی
د جمله ؤ مخلوقاتو پلار دی دا

زۀ په تا باندې مئين يم له ازل
نۀ چې کړې مې نن ورځ ده ابتداء

ملائک د عشق له غم څه خبر دي
خو هم ما لره دا سخت سفر پيدا شو

دغه واړه کرامات د عاشقۍ دي
چې څوک قطب کا څوک غوث کا څوک اوتاد

بې رهبر يون د عشق په لارې ګران دی
دلته بويه چې پيدا کاندې رهبر څوک

و آسمان ته لاس د عقل نه رسېږي
داخو عشق دی چې په عرش کرسي قدم ږدي

عشق څه هسې علم نۀ دی
چې حاصل شي له مکتب

مکتب حال د مذهب وائي
عشق سيوا دی له مذهب

نار د عشق پرورش مومي له عشق
هسې نه چې د خوبانو په سنګار شي

تۀ نظر په خپل هنر په عقل مۀ کړه؟
دا اسباب په عاشقۍ کښې اسباب نۀ دی

په جذبه د عاشقۍ به ليونی شې
که په قطع افلاطون غونډې هوښيار وې

ګنج د عقل زار شه د عاشق تر څاڅکي اوښکو
نۀ خروار د عقل نۀ د عشق يو دانه

د عشق لار د توکل په پښو غوڅيږي
نۀ په پښو د رياضت و ديانت

عاشقي ده خدائی له اوره پيدا کړې
چې په اورکښې ئې وطن وي څه به خوب کا

عاشقان و معشوقې سره پوهېږي
دغه راز و نور عالم ته عيان نۀ دی

په طبيب د عاشقانو دارو نۀ شي
درومه بله خوا دارو د خپل زحمت کړه

له اول بندګي بيا آزادي وي
که مقصود د آزادۍ لرې غلام شه

دست به دست که د خپل کار په درستول ئې
لا پخوا تر ځان وړومبی د بل په کار شۀ

*****

روغ صورت که روغ عالم لره کمال دی
ليوني لره کمال دی چې سنګسار شي

عاشقان د ناصحانو وينا نۀ که
مست هاتي د ماوتانو پرواه نۀ کا

ليونتوب له ليونو نه تلونی نۀ دی
که ئې راج په خونه ورشي که تاراج

چې په لوح محفوظ کښې کښلی ليونی دی
په تعليم د معلم به هوښيار نۀ شي

*****

په نامه د هغه خدائې مې دا بيان دی
چې يو نوم يې په نومونو کښې سبحان دی

که جنت په زهد نۀ دی بې له فضل
هر سړی د خپل غاړه کړي ادا

هره ونه په قيام ورته ولاړه
هر ګياه ئې په تسبيح سره زبان دی

همه واړه په تسبيح د دۀ مشغول دي
که ملک دی که پيری دی که انسان دی

هر ماهی ئې په درياب کښې حمد وائي
هر مارغه يې په چمن کښې ثنا خوان دی

پيدا کړی خدائی د سر دپاسه سر دی:

هسې نۀ چې سړي واړه سره سم دي
څوک اعلی دي څوک اوسط دي څوک ادنی

پيدا کړی خدائی سړی په تفاوت دی
هسې نه چې جهان واړه برابر دي

هسې مۀ وايه چې زۀ يم په جهان کښې
پيدا کړی خدائی د سر دپاسه سر دی

ادميت څه په دولت نۀ دی رحمانه
بت که روغ شي د سرو زرو نه انسان شه

په ظاهر لباس غلط د سړي مۀ شه
مينځ يې ګوره له چغزي او له متاکه

لکه تۀ ئې هسې بل وته نظر کړه
لکه تۀ يې هسې ځان دې د هر چا

*****

يو سړی چې په کوړمه کښې د چا بد شي
واړه بد شي که پنځه وي که شلور

هومره زيان له خوک و خرس نۀ رسيږي
لکه څوک چې په آدميانو کښې بد خوي شي

و بې ننګ وته د ننګ خبرې مۀ کړه
يا ځان وکنړه په خپلو وينو رنګ

مړ بهتر دی تر هغه چې څوک بې پت وي
په ياری کښې دې خدائی نۀ کا څوک بې پت

ميړني وئيلي بويه و هغه ته
چې بې وجهې آزار نۀ کا هيچ سړی

بې سفر مې غوڅيږي لار د عمر :

نۀ د کور چرته زم نۀ سفر کړم
بې سفر مې غوڅيږي لار د عمر

چې سمند يې نۀ جلب لري نۀ واګې
خو به پريوځي عاقبت شهسوار د عمر

په ساعت د سلو کالو ياري پرې کا
بې وفا دی هسې رنګ يار د عمر

عاقبت به د اجل په مقراض غوڅ شي
پيوسته به مدام نۀ وي تار د عمر

که د عمر و رفتن ته څوک نظر کا
دا به وائي چې آفتاب د مازيګر دی

که دې سل کاله شی عمر خو به تير شي
دغه پس به بيا څه کړې راته وايه

که دې ډير عمر پکار وي غفلت مۀ کړه
په اوده باندې سل کاله يو زمان شي

*****

چې په ننګ و په ناموس تر لور کم وي
صدقه شه ناقابل زوې تر لور

نيکوکار سړی بهتر دی که خورد سال دی
تر سپين ږيري بدکردار ديرينه

د پيري علاج په ډانګ په لور نۀ شي
دغه کار به په امسا کوې تر کومه

په پيري کښې د ځوانی چارې نۀ شي
تۀ په ورځ د عاشورې به څه اختر کړې

دنیا کښت د آخرت دی:

د هغه جهان سودا واړه دلې ده
که ځوک کاندي تجارت په دا دنیا

بازار دا دی که ځوک سود وسودا کاندي
په هغه جهان نهٔ سود شته نهٔ سودا

زندګي که ځوک پوهېږي حضور دم دی
آئنده و رفته کله د چا یاد وي

ما د دهر علامت په سترګو ولید
په هر دم هزار پیدا هزار فنا که

زمانه په اسلام کفر سمه ګرزي
فرق د تور او د سپین کله نا بیناکا

یو یو وار دې په هر چا باندې تیریږي
همیشه به په چا نهٔ وي دا وارونه

دا جهان نهٔ د چا خپل دی نهٔ به خپل شي
چا په خپله رضا پرېښود چا په زور دی

*****

چې امید په عمارت د دې جهان کا
لکه کرښه په اوبو هسې نشان کا

چې امید په عمارت د دې دنیا کا
دکاغذ په کشتۍ سیر د دریا کا

چې په آب و په آتش په خاک و باد وي
څه امید دی په هغه زندګاني

بې له خدائی چې څه دي واړه فاني دي:

هر چې خاورو لره ورشي برابر شي
که غونډي ئې وي اغوستې یا اطلس

هغه دم چې سړی درومي له جهان
توري خاورې سیم و زر درې واړه یو دي

چې دا هسې عالم لاندې شو تر خاورو
د چا یاد دی ما او تا غونډې سګان

په هغو زمکو چې جوړې پر مانړې وي
د ایام په ګردشونو ادیرې شوې

د دنیا د محلونو خښتې واړه
و رحمان ته د سرونو منارې شوې

چې ئې خاورې شي د خاورو سره ګډې
ترو د چا زده چې د کوم نیکه نمسی دی

*****

د وفا خریدار بل خواته دې درومي
دا متاع د زمانې په دکان نشته

د تصویر له ګلو طمع د بوې مهٔ کړه
له منقوشو مرغو نهٔ خیږي آواز

دا جهان د مسافرو یو رباط دی
تله دی تله دی له دی ګرام راشه راشه

چې د خپل کور ووزې مسافر شې
څوک ئې پیژني ساهو دی که مریی دی

سیرابي په سر چشمه د دنیا نشته:

سیرابي په سر چشمه د دنیا نشته
تشنه لب ئې ګوښی ګوښی په غوغا دی

هم هغه به یې خرمن وي پس له مرګه
هر چې کاندي زراعت په دا دنیا

دنیا نهٔ ده واړه دین دی
چې له نهې وي سیوا

نیک کردار هم نیک عمل هم نیک خویونه
هم جنت دی هم راحت په دا دنیا

په دنیا کښې بدي نشته
که بدي نهٔ وي لتا

*****

د شرابو هم لا دومره مستي نهٔ وي
لکه مست وي خمر خوار د دې دنیا

واړه ډکې خلې د پیو هلکان دي
کار دیده او پخته کار د دې دنیا

د دنیا ناوې په عقد کښې دین غواړي
اے رحمان ځان ئې ژغوره له نکاح

عاقبت خو به یو موټی شي دخاورو
ګل غذار وګل رخسار د دې دنیا

دا پاخه پاخه سرایونه محلونه
خو به وران شي عاقبت په دا دنیا

هر چې راشي همه واړه ځنې درومي
مسافر دی هر صورت په دا دنیا

موړ به نه شي هیڅ سړی بې قناعت:

خدائی د رزق په زیرمه مهٔ هیره وه کلک شه
تر سړي د سړي رزق دی مقدم

مړول د وړي ګیډې مشکل نهٔ دي
مړول د وړو سترګو مشکل کار شي

ښه خواړه چې یو ئې خوري بل ورته ګوري
خواړه نهٔ دي هغه زهر دي ګویا

که هر څو طعام لذیذ وي مزه نۀ کا
چې یوه ذره نمک یې زیات وکم شي

څو دې تیره تلخائي تر ستوني نۀ شي
شریني به خوند در نۀ کا په دهان کښې

ټوک روټی یوه شړی در لره بس ده
نور همه واړه اسراف دی مسلم

اخلاق حمیده

نیک نامي له نیک خوئي نه پیدا کېږي:

بې اخلاص د اسلام حلاوت نشته
که اسلام دی خو اسلام دی د اخلاص

که له زمکې و آسمان ته خاته ګران
دا سفر په یوه ګام دی د اخلاص

****

هر چې لاندې خپل صورت تر خپل قدم کا
عرش ئې لاندې تر قدم شي آسمان څه دی

څو تر مینځه ورانه نۀ کړي د تن پوله
و به نۀ رسي تر خدایه تر رسوله

****

بیا به نۀ مومي کمال بې کمینې
که خیمه یې وي د عرش دپاسه لکه

ژوندی ځان په زمکه خښ کړه لکه تخم
که لوي غواړې د خاورو په مقام شه

****

هر چې خپله رضا پاسلې و قضا ته
که هر څو په ځان نا خوښ وي خوش خرم شي

مګر ځان و خدائې ته پاسلی په آمان شي
ګنې بل خواته د هیچا امان نشته

****

توکل مې لاس پښې سره کړ په نکریزو
چې په ځای ئې کینولی یم قرار

آب و خور لکه ګیاه په ځای را رسي
په خپل کورکښې مې سکون دی هم رفتار

دکاملې عقیدې له برکته
د دونهی په غاړه ناست شاه جهان یم

دا هنر نه دی چې خاورې څوک سره زر که
چې زره خاورې کا رحمان هنر دا دی

مور به نۀ شي هیڅ سړی بې قناعت
که ئې خونه وي په سیم و په زر ډکه

چې کیمیا د قناعت ئې په لاس کېوځي
د شړې په خرقه کښې بادشاهان شي

****

صبر ونیسه په مخکښې که مراد غواړې
هیڅ کړې دغه کار په شتاب نۀ دی

د غصې زهر ئې شهد شول په صبر
د خلیل په خیر آتش پرګلستان شه

****

دا پنځه ورځې ژوندون چې غنیمت دی
شکرانه په دا نعمت دکردګار کړه

د دې سست بدن منت په رحمان باندې
چې د خپل در تلی نۀ شي دَ بل در ته

****

خزانه په سخاوت سره زیاتېږي
دکوهي اوبه چې اوکاږې بسیار شي

کریمانو سود موندلی دی په زیان کښې
لکه ښاخ د ونې وتراشي باردار شي

څوک دې غم زما د ډېرو اوښکو نۀ کا
ما موندلی په دا بحرکښې ګوهر دی

د وصال مارغه د اوښکو دانو راکړو
لکه لعل و دُر په غاړه د خوبان یم

****

بې مطلب یې هیڅ فهم په چا نۀ وي
هر طالب چې په طلب کښې فهمیده شي

کوم طالب مطلوب موندلی دی په خوب کښې
هغه څوک چې طلبګار وي څه به خوب کا

اخلاق رذیله

چې د شر د عملونو نه خیر غواړي:

چې د شر د عملونو نه خیر غواړي
تشنه لب غوندې سر شوی په سراب دی

د ابلیس و ریاضت ته دې نظر کا
چې غرورکا په طاعت په ریاضت څوک

سرکشي د عاجزانو پکار نۀ ده
هر میږی چې وزر وکاندې پښیمان شي

****

هر زاهد چې په ریا زهد نازیږي
د څربښت ګمان ئې کیږي په آماس

زۀ رحمان له ریا زهد پناه غواړم
د ریا زهد عذاب دی هم عتاب

کونړ بهتر دی چې څه نۀ اوري په غوږو
نۀ چې غوږ کاندي په بد وئیل شنوا

تر هغه به وړومبی ستا عیب څرګند شي
چې هر چا و ته دې کړی ده غندن

****

هم په دا چې دروغژن د خدائی دښمن دی
و هیچاته دروغژن په وینا نۀ شي

د دیوال به سر به څو ځغلي ترکومه
دروغژن چې په دروغه کاندې لاف

****

د حریص له خپله نقده بهره نشته
لکه مار د ګنج دپاسه پیچ وتاب وي

که ګټي چې په حرص سره څه زیات شي
زیات به نۀ شي د یوې ستنې تر سم

هر بخیل د خدائی دښمن دی
و لوکانه زاهدا

د دنیا ښادي بې غم مونده نۀ شي
لږ خیرات د شوم له کور په بلا دی

****

ټوک روټی یوه شړی در لره بس ده
نور همه واړه اسراف دی مسلم

کشتی هم چې ډیره ډکه شي ډوبیږي
د مسرف په ځان بلا شه خپل اسراف

****

غفلت هیڅ مناسب نۀ دی د سپین ږیرو
صبحدم که حیوانات دي هم بیدار شي

که دې ډیر عمر پکار وي غفلت مۀ کړه
په اوده باندې سل کاله یو زمان شي

آجر واړه د عمل په اندازه وي:

آجر واړه د عمل په اندازه وي
دغه دواړه سره یو دي هم درهم

توره شپه په آشنایانو رڼا ورځ وي
رڼا ورځ په نا اشناؤ تور وږمې دی

چې دې نۀ پکښې یو یار نۀ دی اشنا وي
هغه سنبهر بحر و بر درې واړه یو دي

****

که بل بد کاندي ته ښه ورسره وکړه
هر یو نخل چې میوه لري سنګسار شي

لږ ئې مۀ ګڼړه که هر څو ګناه لږې وي
چې لږ لږ وبله جمع کړې بسیار شي

هر چې غاړه ئې و حق ته ایښې نۀ وي
همیشه به ئې په غاړه کښې کمند وي

څو دې حق موندلی نۀ دی مۀ جار وزه
په دا مړ شه دا جهان واړه لت پت کړه

حجابونه له اغیارو مناسب دي
د یارانو په یارۍ کښې څه حجاب وي

د ناتوان د ناتوانۍ نه وویریږه
که هزار ځلې توانائي په خپل ځان کښې

هر سکوت د بې طاقتو آه فریاد دی:

په هر چا چې د غضب لینده کړې کینه
خطا نۀ درومي ګذار د درویشانو

د آه غشي ئې په زمکه کله لګي
هر قامت چې کمان طوره خمیده شي

درته وایم له آه ئې پرهیز کړه
د هغو چې یو شاکونه پشمینه دی

****

صاف دلانو له لږ نصیحت بس دی
د ګوهرو پیوستون په نري تار شي

د توفیق له مخ هر مشکل آسان دی
وستي وته د اور لمبې ګلزار شي

په دکان د نابیناؤ جوهریانو
خر مهرې لعل و ګوهر درې واړه یو دي

****

له هر چا سره چې کړې هغه به مومې
د هیڅ تخم میوه نۀ درومي برهم

د مات لوښي آواز کله ثابت خیژي
د هر چا عمل څرګند په خپل ګفتار شي

دوست دښمن د سړي واړه خپل عمل دی
هم په دا مقدار ئې اجر موی به موی شي

عاقلان په واړندې ځي په وروستوګوري
په دنیا کښې سر انجام د آخرت کړ

ړوند په خپل عصا پریوزي وکوهي ته
خپل دلیل دکم دلیل د ځان تاوان شي

چې ښادي یې یو زمان وي غم تر تل:

چې ښادي یې یو زمان وي غم تر تل
دغه هسې چارې نۀ کاندي دانا

یو د بل په غم نهٔ نرم وي نهٔ ګرم
هم د هغه زده چې را ئې شي په ځان

ښادي غم غوندې آسانه مونده شي
سور په خپلو وينو لعل د بدخشان دی

په هر غم کښې خاموش اوسه اوکه نهٔ وي
د بدخواه خاطر به ښاد دوست به آزارکړ

ښادي هر چرې د غم په اندازه وي
د هغو به څه ښادي وي چې بې غم شي

که ژوندون دی خو هم دا دی په جهان کښې
چې له چا سره تيريږي په خندا

هم هغه به پس له مرګ آزاريږي
هر چې بل آزاروي په دا جهان کښې

په آزار د چا راضي مهٔ شه رحمانه
که خلاصي په قيامت غواړې له عذابه

د يوې ونې د ښاخه پيدا کيږي:

د يوې ونې د ښاخه پيدا کيږي
په چمن کښې هم خارونه هم ګلونه

هر بلبل به دې ثنا که که تهٔ ګل شې
په خپل ځان خپله ثنا څه پکار نهٔ ده

ګل له ډيرې باريکۍ په شبنم خور شي
نازکان زړه بدوي په صاف جواب کښې

کر د ګلوکړه چې سيمه دې ګلزار شي
ازغي مهٔ کره په پښوکښې به دې خار شي

پتنګانو له خدائی ورکړه په اورکښې
هغه عيش چې يې بلبلې په ګلزار کا

که بل مار چيچل په لاس يا په پښوکا
په زړه خوله لګوي مار د تورو زلفو

له رخسار حال د زړونو معلوميږي
له بهار نيک و بد د کال عيان شي

چارپايان که غوږ و سترګې لري څه شو:

چار پايان که غوږ و سترګې لري څه شو
په معنی کښې نابينا دي نا شنوا

په آدم کښې د حيوان خويونه هم شته
بيا هله ئې آدم بوله چې آدم شي

نتيجه ئې ريش کنده جامه پاره وي
آدم ذاد چې له چار پايه محبت کا

لکه فرق چې د همائي و د زاغ نشته
هم دغه دليل د شاه و د ګدائی دی

هر مارغـه چې دَ بـل غوښــې خوري حرام دی
ځان حـلال کړه لکـه زانـرۀ شـاهين مـۀ شـه

چــرګ پــه دوه پيســـې حــلال شــي
بــاز پــه ســل روپــۍ مــردار دی

مـار چې سوړي لره ورشي ګوره سم شي
تـۀ دګـور پـه غـاړه راغلـې نـۀ شـوې سـم

دا يو يو شعر د رحمان بابا د عالمګيريت شاهد او ثبوت دی دکلام خپل اندروني عالمګيريت زيات مضبوط پائيدار او موثر دی په نسبت د خارجي عالمګيريت کوم چې د خلقو په سوچ او رائے باندې منحصر دی ځکه چې رائے او سوچ بدليدی هم شي لکه څنګه چې د زمانې د رفتار سره د خلقو رائے او سوچ بدليږي خو د شعر دننه عالمګيريت انمټ مستقل او مدامي دی.

❖❖❖

باب : ۹

همدمي د دوه همدمو هسې بويه

حافظ شيرازي : رحمان بابا

حافظ شيرازي د ايران د فارسي ژبې ډير لوئې شاعر بزرګ او صوفي تير شوی د خپل عارفانه کلام په وجه په عالم اسلام او خاص کر په برصغير هندو پاک کښې د هغه د شهرت چرچې وې فارسي چونکه تر ډيرې زمانې د بر صغير سرکاري ژبه پاتې شوې په دې وجه زمونږ سرکاري کاغذات او ريکارډ کښې ئې لا تر اوسه هغه نښې شته لکه د محکمه مال ريکارډ او د عرضي نويسانو طرز اوس هم هغسې دی په اسلامي مدرسو اوکورونوکښې د مولانا جلال الدين رومي مثنوي او د شيخ سعدي شيرازي بوستان او ګلستان دکتابونو درس عام ؤو د حافظ د ديوان شعرونه د فارسي ژبې د طالب العلمانو پسنديده مشغله وه داسې وخت راغی چې انګريزي ژبې هر څه لاندې کړل.

عبدالرحمان بابا د پښتو ژبې شاعر بزرګ او قلندر د حافظ شيرازي نه تقريباً درې سوه کاله وروستو پيدا شوی دی د پښتو ژبې واحد شاعر دی چې کلام ئې د هر پښتون نر دی که ښځه، لوې دی که وړوکی، عالم دی که صوفي دی، واعظ دی که مجلسيان دي په ژبه پروت دی زمانې تيرې شوې خو د دۀ کلام زوړ نۀ شو هم هغسې نوی او تازه دی.

دا عجيبه اتفاق دی چې د دواړو د ژوند په حالاتو د هغه زمانې په

حالاتو د دوې په شاعرې ، احساساتو او جذباتوکښې انتهائې مماثلت او مطابقت دی زمونږ موضوع هغه مماثلت او مطابقت ثرگند کول دي دا مطلب مو هيڅ کله نهٔ دی چې د دواړو سره مقابله وکړو او يا د چا افضليت ثابت کړو او نهٔ د دې اهل يو البته دا به اووايم چې مونږ خو صرف د يو پټې خزانې سر بيرته کړو په دې خزانه کښې پټ نور څه پراته دي زما په خيال د ډير پی-ايچ-ډي او ايم - فِل د ريسرچ مواد پکښې موجود دي پي-ايچ-ډي او ايم فِل خو يو آله ده مقصد عوام د دې دولت نه فيضياب کول دي.

د ډيرو محقق حضراتو تقابلي جائزې موجود دي چې د رحمان بابا د کلام ئې د نورو سره کړی دی په دې لړکښې جميل يوسفزي په مارچ 2002ء کښې "رحمان بابا" "خواجه حافظ کا پيروکار" په نوم باندې يو کتاب شائع کړی دی ډاکټر نصرالله د رحمن بابا او د سيد مير تقی "ميرکے کلام کا تقابلی مطالعه" په نوم باندې خپله پي-ايچ-ډي مقاله ليکلې ده.

ډاکټر صيب حبيب نواز مروت په نمل يونيورسټي اسلام اباد کښې د خپل پي - ايچ - ډي ريسرچ د حسين ابن منصور حلاج او رحمان بابا د صوفيانه شاعري تقابلي جائزه باندې کړی دی.

شبانه خټک خپله مقاله د رحمان بابا او د "خواجه مير درد کے تقابلی مطالعے" باندې ليکلې ده زاهده نواز د وړ خپل ايم فل مقاله کښې د "رحمان بابا اور ميامحمد بخش کے مشترکه" افکار موضوع اختيار کړې ده او مشتاق د رحمان بابا اور اقبال کے کلام کا

تقابلی مطالعه باندې د خپل ايم فل ډگری د A10u اسلام اباد نه آغيستې ده.

پيدائش او خاندان:

د حافظ شيرازي نوم محمد لقب ئې شمس الدين او تخلص ئې حافظ ؤو د پلار لقب ئې بهاؤ الدين يا اکمال الدين ؤو د ژوند حالات ئې د اخفا په پرده کښې دي د بعض تحريرونو يا د دوې د شعرونو نه د پيدائش او وفات تخمينې آغيستی شوې دی د هغې په لحاظ ئې د پيدائش کال 726هجری يا 727 هجری او د وفات کال ئې 792هجري دی د حافظ والد صاحب د اصفهان نه شيراز ته کډه وکړه حافظ په درې رونړو کښې د ټولو نه کشر وو د پلار د مرگ نه پس ئې رونړه هم بيل شو او حافظ د مور سره وړوکی پاتې شو د غربت دلاسه ئې د خميرگيري کار شروع کړو د ځوانۍ او واده حالات ئې معلوم نهٔ دي د دوه ځامنو ذکر ئې شته چې د يو مزار په هندوستان کښې دی خپل ټول عمر ئې په شيراز کښې تيرکړو.

د عبدالرحمان د پلار نوم عبدالستار ؤو په قام مومند ؤو چې د پيښور خواه کښې په خليل مومند ياديږي د دوې د ژوند حالات هم په اخفا کښې دی پيدائش وفات ئې تخمينې دی اغلب گمان دی چې د پيدائش کال ئې 62-1060 هجري ؤو وفات ئې معلوم نهٔ دی هغوې خپل اشعاروکښې خپل عمر د پنځه پنځوس کالو ذکرکړی دی رحمان بابا د بهادرکلي د يو متمول خاندان فرد ؤو د نور خاندان معلومات ئې نشته سوا د دې نه چې عزيز خان د دهٔ رشته دار او

خان ؤو د رشتې يقيني پته نشته چې رور يا تربور ؤو د رحمان بابا د واده او د اولاد سيوا د دې نه نور معلومات نشته چې راوړتې د بابا د لور د اولاد ذکر کړی دی.

ګير چاپير ماحول:

شيراز د حافظ نه مخکښې لوئې مشهور ښار ؤو د تجارت او سياست نه علاوه شيراز عظيم علمي او ادبي مرکز ؤو د لوې جيد علماؤ خدا رسيده عرفا او د جديد الفکر شعرا مسکن ؤو، خو د عامې معاشرې اخلاقي حالت خراب ؤو نيکان پکښې خوار ؤو او اشرار برسرکار ؤو فاضلان په خوارۍ کښې او جاهلان په مزو کښې ؤو سلطانان، وزرا او امرا ئې عيش پرست او شرابيان ؤو الا ماشاالله حافظ پرې سخت تنقيد کړی دی.

ے ده که شیخ و حافظ و مفتی و محتسب
چون نیک بنگری همه تزویر می کند

شراب راکه دا شيخ حافظ مفتی او محتسب نيک ښکاري خو دا مکاري کوي.

در میخانه به بستند خدا یا مه پسند
که در خانه تزویر و ریا بکشائند

خدايا د ميخانې د دروازې بنديده مهٔ خوښوې چې د مکارۍ او ريا در خلاص کړي.

واعظان کاین جلوه در محراب و منبر می کنند
چون به خلوت می روی آں کار دیگر می کنند

واعظان چې په محراب او منبر جلوه کوي چې يوازې شي بيا بل کار کوي.

رحمان بابا د پيښور په خوا کښې د پښتنو په يو عام وړوکی کلی بهادر کلي کښې پيدا شوی او لوئې شوی دعلم او ادب د زده کړې او د جيد علماء صلحا يا شاعرانو سره د ميلاويدو څه سامان نهٔ ؤو په کلي کښې د پښتنو د رسم و رواج او د پښتو د قدرونو راج ؤو په عام معاشره کښې د ظلم زياتي زور ؤو بد ګوئي بد ديانتي دهوکه بازي عامه وه هر سړی د حب مال او حب جاه په جال کښې ګير ؤو رحمان بابا د خپل وخت د ظلم چې ګل خان او جمال خان سره شوي وو په دې ډول بيانوي:

چې د آل و له اولاد سره وسول
خدائې دې نهٔ کا څوک دا هسې مظلومان

د نمرود چارې مې وليدې په سترګو
چې ئې اچول و اورو ته نبيان

د عالمګير اورنګزيب د خاندان سره د ظلم داستان داسې بيانوي:

ګوره څه چارې ئې وکړې
په عيال د خپل پدر

وار په وار تر تيغ ئې تيرکړ
د خورم تمام تبر

او بيا وائي:

په شپه وينې د مظلوم خوري
سحرکيني په منبر

چې هنر به عيب کوي او عيب هنر که
د رحمان په دور دا هنر پيداش

د حافظ د پيدائش نه واخلې تر بلوغ پورې په فارس کښې مستقل مستحکم حکومت نۀ ؤو واړ لاړ دړز ؤو چې چاپيره جنګيدل او افراتفرې وه حافظ په شيراز باندې د تيمور حمله او قتل عام هم ليدلی دی په مستقل حکمرانانو کښې د ابو اسحاق، مبارز الدين، شاه شجاع، شاه يحيٰی نصرت الدين او شاه منصور نومونه د ذکر قابل دي د شاه منصور په وخت کښې حافظ صرف دوه کاله ژوندی ؤو په دوې کښې د بعضې د حافظ سره ښه تعلقات ؤو او بعض ئې مخالف ؤو خو د شاهان فارس هغه وزرا او حاکمان چې د علم و ادب قدردان ؤو د حافظ سره دوستانه روابط ؤو او د حافظ قدر و منزلت به ئې کاؤو د شاهانو او حاکمانو د شر نه ځان بچ ساتلو دپاره د حافظ مجبورې هم وه او ځکه يې په خپلو شعرونو کښې د هغوې هغسې ذکر کړی دی لکه د ابو اسحق په صفت کښې وائي:

جمال چهره اسلام شیخ ابو اسحاق
که ملک در قدمش زیب بوستان گردد

ابو اسحاق د اسلام ښائسته مخ دی د هغه په دورکښې ملک د بوستان په شان شو.

او د مبارز الدين چې تند خو او سخت ؤو او خلقو به ورته محتسب وی په باره کښې وائي:

مگر چه باده فرخ بخش و باد گل ریز است
ببانگ چنگ مه خورے که محتسب تیز است

اګر چې شراب فرح بخش او فضا مزيداره ده سره دستار شراب مۀ څښه چې محتسب تيز دی.

اغلب خيال دا دی چې رحمان بابا د شاه جهان په وخت کښې پيدا شوی ؤو د اورنګزيب د حکومت د حاصلولو د تګ ودونه واخلې د هغه حکومت او د مرګ ټوله زمانه ئې ليدلې ده د اورنګزيب نه پس د هغه دَ زوې شاه عالم د بادشاهۍ ذکر هم کوي په دا ټوله زمانه کښې د مغلو او پښتنو کشمکش يوه مستقله مسئله وه د رحمان بابا د وخت د شاهانو حاکمانو او وزراء سره د تعلق يا روابط هيڅ ثبوت نشته.

رحمان هميشه د هغوې نه په فرياد دی او د هغوې بر خلاف ئې د خپل احساساتو اظهار بې باکه او بر ملا کړی دی.

په سبب د ظالمانو حاکمانو
کور او اور او پیښور درې واړه یو دي

خدایا څه دې دکوټوال په لاس کښې ورکړم
چې شپه او ورځ مې غږ وي لکه توری

اورنګزیب که د ډهلي په تخت نازیږي
خپله خونه هرګدائي لره دهلي دی

بلکه اورنګزیب او شاه جهان د منصور غوندې فقیر برابر هم نهٔ ګڼړي.

اورنګزیب او شاه جهان غوندې اشراف
صدقه شه تر منصور غوندې ننداف

نوکري د معشوقوکوم په عشق کښې
مهیني نه د بهلول نه د اورنګ خورم

خپل کلي وطن ورته ګران دی
خپله خونه هرګدائی لره دهلي دی

حافظان خو په دنیا کښې بې شماره دي خو د شیراز سره د محبت په وجه دهٔ خپل پهچان حافظ شیرازي کړی دی اوس حافظ او شیراز دواړه یو ځاې یادیږي شراز ئې دومره خوښ دی چې په تمام عمر کښې ئې صرف درې سفرونه کړي دي یو یزد ته بل اصفهان ته او دریم جزیره هرمز ته د هندوستان تلو په عرض ګر چې سلطان احمد حاکم بغدادي دی په سرکاري خرچ بغداد ته بللی ؤو د هغسې محمد شاه

والي دکن هند ورته د راتلو دعوت ورکړی ؤو خو سره د خواهش دی یو خوا هم لاړ نهٔ شو وجه ئې د شیراز محبت ؤو.

خوشا شیراز و وضع بے مثالش
خداوندا نگهدار از زوال ش

شیراز ښائسته او ماحول بې مثال دی خدای له زوال ئې په امان ساتې.

او بیا وائي چې د شیراز چمنستان مصلی او آب رکنا با دمې بل خوا سیر و سفر ته نهٔ پریږدي دا دوه ښائسته ځایونه دي:

نمی دهند اجازت را به سیر و سفر
چمنستان مصلی و آب رکناباد

د مصلی چمنستان او د رکناباد اوبه مې بل خواته تلو ته نهٔ پریږدي یو ځل چې حافظ د زمانې د جبر دلاسه تنګ شو او په شیراز کښې ئې وخت نهٔ تیریدو نو وې وئیل:

سخندانی و خوشخوانی نمی ورزند در شیراز
بیا حافظ که خود به ملک دیگر انداز یم

سخنداني او خوشخوئي په شیراز کښې نهٔ چلیږي حافظ چرته بل ملک ته لاړ شه.

ره نبردیم بمقصود خود اندر شیراز
خرم ان روز که حافظ ره بغداد کند

په شیراز کښې خپل مقصود نهٔ مومم خوشحاله به یم چې د بغداد لار ونیسم.

خو د شیراز نه د تلو موقع را نۀ غله.
د رحمان بابا کلی د خاورو ختو آبادي او للمه زمکه ده نۀ نهر شته نۀ سیند سیوا د باړې نه چې د ابو واحده ذریعه ده ساکنان خړ پړ زمیندار په زمینداری کښې شپه او ورځ اخته خو ګوره چې هغه ته ځومره ګران دی.

اے زمـا دکـور وکلـي ودانـی
خـدائی دې وژغـوره لـه هـر پریشـانی

رحمان بابا د حافظ شیرازي په شان د رکنا باد د اوبو په ځای د باړې ذکرکوي کله پټ کله ښکاره:

ځـه بـه نـۀ وي د فلـک مـاڼی سـیاه
چـې بلیـږي پـه کښـې اور زمـا د آه

پـه ژړا ئـې دمـه کړمـه ګنـړې چـوي
دے ودان دا پیښـور پـه دا تیـراه

آخري مصرع کښې د باړې ذکر پټ دی زړه ته د پیښور تشبیه ورکوي او تیراه ته د باران او د باړې د اوبو منبع د تیراه بارانونه دي چې د باړې په وجه پیښور ته را اورسي او باړه د پیښور او خوا او شاه د علاقې د اوبو ذریعه ده د اسلامیه کالج پیښور په خوا کښې د عجب کاکا په کړی باندې مو دکبابو نه پس د باړې اوبه ډیر موده ځښلې دي ځکه چې په هغه وخت کښې بله ځه ذریعه نۀ وه ځکه خو بابا د دې اوبو په اهمیت کښې وائي:

بـاړه او تـړه هلـه کښـت زراعـت کـړه
تقـوی دار شـه هلـه طمـع د جنـت کـړه

د رحمان بابا بل ښار ته د سفر مستند معلومات په لاس نۀ دي راغلي او هغه هم د هر قسم سفر نفي کړې ده.

نـۀ مـې ښکته ملـک لیـدلی دی نـۀ پورتـه
خبـر نـۀ یم پـه یمـین و پـه لیسـار
آب و خـور لکـه ګیـاه پـه ځـاې را رسـي
پـه خپـل کـور کښـې مـې سکون دی هم رفتار

د رحمن په زړه کښې کله هم چرته د وطن پرېښودو تقاضا یا اراده نۀ ده راغلې.

تحصیل علم

عالمان دي په مثال د مسیحا:

حافظ په وړوکوالي کښې د خمیرګیري کارکولو او چې د هغې نه به فارغ شو نو په یو قریبي مدرسه کښې به ئې سبق وئیلو په هغه وخت کښې د قرآن کریم حفظ وکړو او د فقې، عرفان، ادب او اخلاق درس ئې واغستو او بیا ئې په مختلف مدارسو کښې د متداول علومو کتابونه وویل او په ځوکتابونو ئې حاشیې هم ولیکلې او ترجمې ئې هم وکړې په دغه وخت کښې شیراز د علم و ادب مرکز ؤو او د جید علماء او مدرسین کمی نۀ ؤو د دې نه

علاوه د فلسفے، حکمت، هیئت او هندسے په علومو پوهه ؤو د خپل همدرس محمد گل اندام د وینا مطابق حافظ شیرازي د مروجه موسیقي او زارو، آدابو، اصطلاحاتونه واقف او باخبره ؤو د حافظ شیرازي دیوان د هغه همدرس محمد گل اندام د هغه د مرگ نه پس مرتب کړې هغه ورته مولانا الاعظم وائي.

رحمان بابا د فقهې او تصوف د ابتدائي علومو درس د مولوي محمد یوسف یوسفزئی نه واغیست او بیا د تکمیل علم دپاره کوهاټ ته لاړ او د هلته نه باقاعده فارغ تحصیل شو د رحمان بابا د کلام سرچشمه قرآن و حدیث دی په فارسي او عربي ورته پوره عبور حاصل دی او په نورو ژبو هم پوهېږي دعلم نه یې د شاعري شهرت زیات دی رحمان د علماؤ قدردان او د علم د اهمیت قائل دی.

عالمان دي روښنائي د دې دنیا
عالمان دي د تمام جهان پیشوا

کیمیا گر که دکیمیا په طلب گرزي
همدمي د عالمانو ده کیمیا

په مجلس د عالمانو به سره زر شي
که څوک کانړی وي یا لوټه د صحرا

زۀ رحمان حلقه بگوش د هر عالم یم
که ادنی دی که اوسط دی که اعلی

زۀ رحمان له هغه علم پناه غواړم
چې له دین له مذهب وي سیوا

چې د خدائی د معرفت خبر نۀ دی
هغه واړه که بیدار دي هم اوده دي

سلوک او تصوف

د حافظ شیرازي د سلوک او تصوف حالات معدوم دي دا پته نشته چې پیر او شیخ ئې څوک ؤو او په کومه سلسله کښې بیعت وو نۀ خو هغه په خپل کلام کښې د خپل شیخ یا سلسلے ذکر کړی او نۀ محمد گل اندام د حافظ همدرس څه وئیلي چا چې د حافظ دیوان مرتب کړی خو دکوم خبرو معلومات چې مونږ ته نۀ دی نو دا وئیل ډیر گران دي چې دا څیز هډو شته نه.

د حافظ کلام د پیر مغان، پیر میخانه، ساقي او مرشد د ذکر نه ډک دی او میخانه ئې د شپې ورځې کور دی د دې مطلب پیر یا شیخ او خانقاه ده.

بہ مے سجادہ رنگین کن گرت پیر مغاں گوید
کہ سالک بی خبر نہ بود ز راہ و رسم منزل ھا

سجاده په شرابو رنگینه کا که د میخانے مشر وائي ځکه چې سالک د لارې د منزلونو نه بې خبر نۀ دی.

منم کہ گوشہ میخانہ خانقاہ من است
دعائے پیر مغاں ورد صبحگاہ من است

د میخانې کُټ زما خانقاه ده او د پیر دعا مې د سحر وظیفه ده.

که ستاسو یقین نۀ راځي چې د پیر مغان او پیر میخانه نه مطلب د سلوک د پیر او شیخ دی او د میخانے نه مطلب خانقاه ده نو راځئ چې د خواجه غزیز الحسن مجذوب هغه کلام واورو چې کوم کښې ئې د خپل شیخ حضرت اشرف علي تهانوي د خانقاه نقشه راخکلے ده.

تیری محفل میں کیا انوار ہیں اے مہ جبین ساقی
اُتر آیا زمین پر آج کیا عرش برین ساقی

نہ میخانہ رہے کیوں رشک فردوس بریں ساقی
منے گل رنگسے سیراب ہے یہ سرزمین ساقی

عجب ہے تیرے میخانہ کا اے پیر مغاں عالم
کہیں ساغر کہیں میکش کہیں مینا کہیں ساقی

گدائے میکدہ ہوں مست ہوں اپنی گدائی میں
یہ ہے سنگ در میخانہ مجھ کو شہ نشین ساقی

سلامت تیرا میخانہ سلامت تیرے مستانے
رہے گا رنگ عالم میں یہی تا یوم دیں ساقی

د حافظ د کلام نه پته لګي چې هغه د سلوک او تصوف د قدم قدم نه خبر دی د دې لارې سالک دی بلکه د مقاماتو اوکمال ته د رسیدو خبرې کوي:

گدائے میکدہ ام لیک وقت مستی بین
کہ ناز بر فلک و حکم بر ستارہ کنم

د میخانې ګدا یم خو د مستۍ په وخت کښې ناز په آسمان کوم او حکم په ستورو.

د خپل واصل کیدو او فیض رسیدو ذکر داسې کوي:

دوش وقت سحر از غصه نجاتم دادند
وندر آں ظلمت شب آب حیاتم دادند

بیګاه سحر ئې د غم خلاص کړم د شپې په تیاره کښې ئې آب حیات راکړ

سالہا سال طلب جام جم از ما می کرد
و آن چہ خود داشت ز بیگانہ تمنا می کرد

په کلونو رانه زړه جام جم غوستو پخپله ورسره وو د بل نه ئې غوستو.

په دې حالت کښې مونږ خنګه وئیلی شو؟ چې حافظ شیرازي بې پیر یا بې سلسلے ؤو اوس سوال دا پاتې شو چې که سلسله یې وه نو هغه کومه یوه وه.

د حافظ شیرازي په شان د رحمان بابا د سلوک او تصوف حالات هم معلوم نه دی د شیخ او د سلسلې د بیعت معلومات ئې مونږ ته نشته نۀ کتابونو راغیستی.

خو د کلام نه ئې پته لګي چې رحمان بابا د تصوف د لارې هغه

سالک دی چې د قدم قدم نه خبر دی په هغې عمل پیرا دی او نورو ته هم د دې لارې ښوونکی او نصیحت کوونکی دی د پیر او شیخ د اهمیت نه ښه خبر دی ځکه خو وائي:

که چا لار د عاشقۍ ده ورکه کړې
زۀ رحمان دګمراهانو رهنما یم

بې رهبر یون د عشق په لارې ګران دی
دلته بویه چې پیدا کاندي رهبر څوک

چې صبا ارمانوي پند د پیرانو
ولې نن د پیر طلب نۀ کړې یې پیره

په خله هر یو سړی اسم د پیر اخلي
باري څه پکار چې نغوته د پیر نۀ کا

بې مرشد خبر څوک د مرید اخلي
غوښ په غم د فرزندانو پدر بویه

د کلام نه ئې پته لګي چې د سلوک کمال ته رسیدلی ؤو او د مقاماتو خاوند ؤو.

که یو ځله تر کمال ورسیږې
بیا به غوښې د خپل ځان لکه قمر خورې

و دلبرو وته خاک تر تلی لاندې
د دې نور عالم په سر لکه آسمان یم

بې خود یې د دنیا له غم خلاص کړم
لار مې بیا موند بیرون له شش جهت

ایا د رحمان بابا د خپلې خولې دا ثبوتونه کافي نۀ دي چې هغه د سلوک د لارې داسې سالک ؤو چې منزل مقصود ته رسیدلی ؤو او د لارې نه پوره پوره با خبر ؤو.

د سلوک لار او مسلک:

د سلوک په لار د تګ دوه طریقې دي یو یې ته انابت وائي دا د عام سنت الهی لار ده چې شیخ هدایات ورکوي او مرید په هغې عمل کوي او قدم په قدم د سلوک لار پریکوي په اختیاري امورو باندې عمل د سلوک قدمونه دي او زر یا پس سړی منزل مقصود ته ورسي بله طریقه د اجتباء ده دا د الله تعالی د خصوصي رحمت او عنایت لار ده چې بنده د اخلاص تام سره کوشش کوي نو الله تعالی ئې په خپله ځان ته راکاږي مثال ئې دا دی چې کله ماشوم پلار طرف ته د تلو کوشش کوي او تلی نۀ شي را غورزیږي نو پلار ئې په خپله رامنډه کړي او په غیږ کښې ئې واخلي وصول اختیاري نۀ دي او انسان د غیر اختیاري امورو مکلف نۀ دی انسان د خپل انتهائي کوشش، سعې او طلب مکلف دی د حضرت علامه سید سلیمان ندوی قول دی چې وصول خو د هر یو په جذب سره دی دا بیله خبره ده چې څوک راه سلوک اول طے کوي او څوک ئې وروستو ورکړه خو د خدائې ده چې چاته هم میلاو یږي.

داسې ښکاري چې په حافظ شیرازي باندې جذب غالب دی او د سلوک د لارې مزل ئې د جذب او اجتباء په پښو غوځ کړی دی خو مجذوب دیوانه نۀ دی بلکه مجذوب فرزانه دی لکه څنګه چې حضرت عزیز الحسن مجذوب وئیلي دي:

میں ہوں مجذوب مستانہ
نہ ہوں مجذوب دیوانہ

د حافظ شیرازي په شان رحمان بابا هم د جذب او اجتباء د لارې سالک ښکاري او چې کله ئې جذب د استغراق حد ته ورسید د دنیا نه ئې ګوشه نشیني اختیار کړه د معاشرې د روزګار نه ئې لاس ونیول تر دې حد پورې چې د جماعت د جمع مونځونه ترې پاتې کیدل شروع شو نو د هغه وخت عالمانو پرې مخالف فتوای ولګولې او ملامت وئیل پرې شروع شو لکه خپله وائي:

لکه زۀ چې مستغرق یم ستا په غم کښې
بل به نۀ وي په جمله بنی ادم کښې

زۀ رحمان کناره خوښ یم له عالم
باري ستا سترګو رسوا کړم په عالم کښې

لور په لور ئې د تهمت په غونډو ویشتم
ملامت را باندې وائي درست جهان

چې دا حال ور باندې نۀ وي ورغلی
په وئیل به څه ګرهیږي د رحمان

په مزه مزه رحمان د مجذوب دیوانه نه مجذوب فرزانه طرف ته مخه وکړه او د حضرت سید سلیمان ندوي د قول مطابق وصول ئې په جذب سره وشو او د سلوک لار ئې وروستو اووهله لکه چې خپله وائي:

مالا بوی هم د وصال مونډلی نۀ دی
تش په توره مې خدای نوم کړ د واصل

د صوفیانو ډلې ډلې:

په تمامو صوفیانو کښې دا قدر مشترک دی چې مقصد او منشاء ئې د شریعت په ظاهري او باطني اعمالو باندې د حضور علیه السلام په طریقه باندې عمل کول وي چې د الله تعالی مرضي حاصله شي خو هر انسان ځان له یو بیله دنیا ده ځکه انسان ته عالم صغیر وائي او د هر یو خپل بیل بیل فطرتي خویونه او عادتونه دي دا تاسو ته په یو مثال واضح کول غواړم یو مرید د خپل شیخ نه تپوس وکړو چې ټول بزرګان یو شان دي او که په خویونو کښې فرق دی؟

شیخ ورته وویل دې جماعت ته ورشه درې کسان ناست دي یو یو سوک ورله په شا ورکړه مرید لاړ او یو تن له ئې سوک راخلاص کړو هغه تن پاسید او مرید له ئې هم یو سوک راخلاص کړو مرید بل تن له سوک ورکړو هغه هډو حرکت و نۀ کړو او نۀ ئې بدله واغیسته دریم تن له ئې سوک را خلاص کړو هغه پاڅید او د مرید

لاسونه ئې ښکل کړ او ورته ئې وويل چې لاس خو دې خوړ نۀ شو دا د مريد د سوال عملي جواب ؤو چې د هر فرد بيل بيل حال او خپل شان وي.

په دې لحاظ سره د فن ماهرانو صوفيان په دوه ډلو کښې تقسيم کړي يوې ډلې ته اصحاب سکر وائي دوې د الله تعالی نه سيوا نور ټمام تعلقات قطع کړي وي دَ تنهائی گوشه نشيني او خود فراموشي ژوند تيروي د الله تعالی د مينې د جذب او د مستی په عالم کښې غرق وي د دې ښه نمونه يو بزرگ حضرت عبدالحق رودولوي وو چې ټمام عمر ئې په خپل کلي کښې تير کړو خو د جمات لار ئې او نۀ پيژنده يو تن به د دۀ نه مخکښې روان ؤو او د حق حق آواز به ئې کولو او دې به په هغه آواز پسې روان ؤو.

بله ډله د اصحاب صحوده چې د سلوک مقامات ئې طے کړي او د کمال خاوندان وي خو د اجتماعي معاشرې سره ئې ربط قائم وي د مخلوق خدا سره محبت کوي او د مخلوق په رشد و هدايت کښې مصروف وي حافظ شيرازي نۀ گوشه نشين دی او نۀ ئې رهبانيت اختيار کړی بلکه د عام معاشرې يو وگړی دی د شاهانو، وزراء، امراؤ نه واخله تر د عوامو پورې ټولو سره روابط ساتي د هغوې په غم درد کښې شريک دي د خپل گير چاپيره ماحول او د زماني د حوادثاتو احساس لري او د خپلو جذباتو اظهار کوي نو بيا ضرور د اصحاب صحو نه دی د اصحاب سکر نه نۀ دی.

رحمان بابا هم د گوشه نشينی نه راوتی دی د معاشرې يو وگړی دی

د خپل زمانې د حوادثو نه پوره پوره خبر دی دگل خان او جمال خان په مرگ د خپلو احساساتو اظهار بر ملا کوي د مغولو شهزادگانو د جنگونو خون ريزو او مظالمو بيان په تفصيل سره کوي او د خپل گير چاپيره ماحول گلے شکوے هم کوي د گلو شکوؤنه دا ثابته ده چې دې په حالت سکر کښې نۀ دی ورنه څوک چې په استغراق کښې وي هغه ته د گلو شکوو کله پته وي او کله فرصت وي دلته مسئله د رحمان د گوشه نيشيني نه ده بلکه الټه رحمان گيله کوي چې خلق راسره روزگار نۀ کوي او نۀ راته سم گوري.

د دنيا خبرې واړه په دنيا شي
ما به څه که څوک چې نۀ لرم دنيا

دنيا واړه سره زيست و روزگار کاندي
خو يو زۀ په دغه بار کښې کوړ لړگی شوم

ټمامي جهان لمن را څخه نغاړي
سپين زړوکی مې اغوستی تورکودی شوم

په توده زمکه استوگنه ده مشکله
څه به زيست شي د رحمان سره د چا

زۀ يو خوار او زار يم رحمان په عاشقی کښې
خپل دی که پردی دی راته نۀ گوری له عار

د صوفيانو يوه بله ډله ده چې ملامتي او قلندر ورته وائي دوې د

شریعت د ظاهري احکامو پابندي کوي خو زیات زور ئې د باطني اعمالو په اصلاح باندې وي د الله تعالی په عشق کښې د خپل مال و سر نه تیر وي د نام و نمود و نمائش او ریا نه سخت متنفر وي قصداً بعضې داسې مباح کارونه کوي چې د معاشرې شرفاء و صلحا ئې نۀ خوښوي لکه د شرفا صلحا غونډې جامې عمامه، چغه او شکل نۀ خوښوي دا ورته ریا ښکاري دین د دنیا د پاره استعمالول ورته ډیر بد ښکاري د تکبر رعونت غرور نه لرې تښتي حق بر ملا وائي د حق په وینا کښې بې باک بې پرواه د هیچا پرواه نۀ ساتي.

خدائې پاک ته ځان ملامته ګڼړي چې ستا د خدائې حق مو ادا نۀ کړو په متکبر اُمراؤ جعلي صوفیانو او ریاکار زاهدانو تنقید کوي او ملامت پرې وائي ځان په رند، قلندر، فقیر، ګدا او د رویش باندې بولي ځان ته عاشق شاهدباز، نظر باز او مے خوار وئیلو کښې فخر محسوسه وي.

د حافظ دکلام نه پته لګي چې هم د دې فرقې یو فرد دی:

عاشق و رند و نظر بازم و می گویم فاش
تا بدانی که بچندین هنر آراسته ام

عاشق، رند او نظر باز یم بر ملا وینا کوم چې تاته پته وي چې دا هنرونه لرم.

وفا کنیم و ملامت کشم و خوش باشم
که در طریقت ما کافری است رنجیدن

وفا کوم ملامت وړم خوشحاله اوسم زما په مذهب کښې خفګان کافري ده.

شیوه رندی نه لائق بود طبعم را ولی
چون در افتادم چرا اندیشه دیگر کنم

رندي زما د طبیعت لائق نۀ وه ولې چې پکښې کیوتم نو د بل غم ولې اوکم.

که حافظ شیرازي په دبی الفاظوکښې د خپلې ملامتیا، رندی او قلندری ذکرکړی او مونږ ئې د هغې فرقې یو فرد حساب ؤو، نو رحمان خو د هغه هر څه بر ملا په ډاګه وئیلي دي دے به څنګه د هغې فرد فرید نۀ وي:

ملامت په عاشق ښائي دا دستور دی
چې روغ خلق په رنځور پورې خندا کړي

که رحمان په عاشقی ملامت کېږي
ما په سترګو قبول کړی دا پیغور دی

لکه شوک چې په خر سور وي مخ ئې تور وي
زۀ هم هسې تر ښتن پورې بې آب یم

****

د ریا خرقه یې خدائی مۀ کړه په غاړه
رحمان کوږ دستار تړلی قلندر دی

بادشاهي دګدایانو په دعا شي
زۀ رحمان ځکه بادشاه یم چې ګدا شوم

که څوک لاس له سود وکاږي زیان نشته
په ملنګ باندې قلنګ و تاوان نشته

****

لکه کاندي په کوترو نظر باز
هسې زۀ یم د دلبرو نظر باز
زۀ نور چاو ته د راز خبرې نۀ کړم
بې هغو چې موی مژګان لري دراز

خلاصه دا چې د حافظ شیرازي او عبدالرحمان بابا د سلوک او تصوف حالات د اخفی په پرده کښې دي د پیر او د تصوف د سلسله معلومات ئې لاس ته نۀ دي راغلي خو د دې نه دا دلیل نۀ شي اغیستی چې د هغوې پیر نۀ ؤو تصوف نه بې خبر ؤو او صوفیان نۀ ؤو د هغوې د کلام نه د روز روشن په شان ثابته ده چې دواړه د سلوک او تصوف د قدم قدم نه باخبر دي او د پیر د اهمیت قائل دی بلکه هم په دې لارکمال ته رسیدلی دی د تصوف لار ئې د جذب او اجتباه په طریقه غوخه کړې دواړه مجذوبان فرزانه دي مجذوبان دیوانه نۀ دي چې په اصحاب سکرکښې ئې شمارکړې بلکه د اصحاب صحو ملګری دی خو جذب، سرشاري او سرمستي پرې غالبه ده د تصوف د ملامتې ډلې اثرات پرې درانه پراته دي ځکه ځان ته ملامت، قلندر، رند، شاهدباز او نظر باز وائي د نام و نمود، نمائش، ریا او تکبر نه سخت متنفر دي په جعلي صوفیانو، ریاکار خشک زاهدانو، بې عمل عالمانو او متکبر امراؤ

باندې برملا تنقید کوي د درویشانو، ګدایانو فقیرانو او قلندرانو معتقد او قدردان دی.

حافظ او عشق

د حافظ په زړه کښې د عشق اور بلېږي سینه ئې د عشق و محبت ډکه خزانه ده د عشق د لاس سرمست سرشار او سرګردان دی.

درد مند یم و خبر می دهد از سوز درون
دهن خشک و لب تشنه و چشم ترما

درد من یم وچه خله وچې شونډې لمدې سترګې د اندرون د سوزش خبر ورکوي.

فقر ظاهر مه بین که حافظ را
سینه گنجینه محبت اوست

ظاهر فقر ته مۀ ګوره د حافظ سینه د محبت خزانه ده.

زجام عشق می نوشید حافظ
مدامش مستی و رندی ازین است

حافظ د عشق د جام نه څښلي دي ځکه هر وخت مست او رندی کښې وي.

حافظ وائي چې که عشق خرابي وي نو دې خرابي ته زۀ د عشق مرشد د روز ازل نه حواله کړی یم نو تۀ مۀ خفه کېږه دې خرابۍ کښې مې آبادي ده د عشق هغه مقام ته رسیدلی یم چې تپوس مۀ کړه د عشق راز مانه واخله بې د دې نه بل کار نۀ شم کولے.

ملامتم به خرابي مکن که مرشد عشق
حوالتم به خرابات کرد روز نخست

په خرابي باندې ما مهٔ ملامته کوه ځکه چې د عشق مرشد زهٔ دی خرابي ته د روز ازل نه حواله کړی یم.

اگر مستي عشقم خراب کرد ولے
اساس هستي من زين خراب آبادست

اګر چې د عشق مستي خراب کړی یم زما د هستۍ بنیاد د دې خرابي نه آبادي ده.

همچو حافظ غريب در ره عشق
بمقام رسيده ام که مه پرس

حافظ غریب د عشق په لارکښې داسې مقام ته رسیدلی چې تپوس مکوه.

رموز عشق و سر مستي زمن بشنو نه از واعظ
که با جام و قدح هر شب قرين ماه و پروينم

د عشق او سر مستۍ راز زمانه واوره ناصح نه نهٔ ځکه چې زهٔ هره شپه د جام او پيالې سره د سپوږمۍ او پروين ملګری یم.

بغير از عاشقي و مے پرستي
ز دستم بر نيايد هيچ کارے

د شرابو او عاشقۍ نه سيوا بل کار رانه نهٔ کيږي.

او بيا د عشق مرتبه او شان ښائي چې عشق څه شی دی.

عجب راه ست راه عشق کانجا
کسے سر بر کند کش سر نه باشد

د عشق لار عجيبه ده دلته هغه سر بلند دی چې سر يې نهٔ وي.

مشکل عشق نه در حوصله دانش ماست
حل اين نکته بدين فکر خطا نتوان کرد

د عشق مشکل او زما عقل، دا نکته په دې غلط خيال نهٔ ټهيک کيږي.

زه عاشق يم سروکار مې دی له عشق :

رحمان بابا د خدائی په عشق کښې سرمست سرشار او سرګردان دی:

بل به هسې سرګردان په جهان نهٔ وي
يا عاشق دی يا آسمان دی يا آسيا

وائي چې زهٔ پخپله په خدائی نهٔ يم مين شوی بلکه دخدائی د طرف نه د الست بربکم ندا په ما شوې ده او عاشقي مې د نن ورځې نهٔ ده د ازل نه ده.

زهٔ په خپله په تا نهٔ يم مين شوی
ستا له لورې په ما شوې ده ندا

زهٔ په تا باندې مئين يم له ازل
نهٔ چې کړې مې نن ورځ ده ابتدا

عشق د الله تعالی د طرفه يو امانت او داد دی چې صرف بنيادمانو

ته ورکړی شوی دی ملائک هم ترې خبر نهٔ دي.

عشق یو داد دی په عاشق باندې له خدایه
هسې نهٔ چې و هر چا وته عیان دی

ملائک د عشق له غم څه خبر دي
خو هم ما له ره دا سخت سفر پیدا شو

مرتبه که ستا د عشق شي ورځرګند
ملائک به واړه وائي که بشر وی

رحمان وائي زهٔ عاشق یم نور هیڅ نهٔ یم او نهٔ د عشق نه بغیر بل کار کولی شم.

زهٔ عاشق یم سر وکار مې دی له عشق
نهٔ خلیل نهٔ داود زی نهٔ یم مومند

زهٔ بې عشق بل یو کار کولی نهٔ شم
ډیر له عشق تښتیده وائي واعظ

یو و یښته مې د صورت بې عشق نهٔ دي
څوکیدار په هر نفس د خپل کاروان یم

وائي د یار په وصال او دیدن د سرو مال تیر یم که زما د سر په بها میلاویږي دا وړیا ده.

معشوقه که د خپل سر په بها مومې
و رحمان وته وړیا ده بهانه ده

که یار سر په دیدن غواړې مهٔ جار وزه
دغه حکم رحمن کړی دی دلال

چې د یار په دیدن سرو مال شیندم
خلقو واورئ زهٔ هغه عبدالرحمن یم

د عشق نه بله او چته مرتبه نشته دا دنیا له عشق پیدا ده د انسان درجه کمال د عشق د وجې نه دی.

که اعلی مرتبه غواړې عاشقي ده
نور همه واړه ادنی دي ادنی مهٔ شه

دغه واړه کرامت د عاشقۍ دي
چې څوک قطب کا څوک غوث کا څوک آوتاد

دَ حافظ شیرازي او رحمان بابا په عشق کښې یکسانیت دی خلاصه ئې دا ده چې عشق اول د خدائی د طرفه دی د روز ازل نه دی د انسان طره امتیاز دی او د خدائی امانت دی دانسان د ټولو نه زیاته قیمتي سرمایه ده.

او د انساني شخصیت بهترین جوهر دی په ژوند کښې کیف و سرور او نور د عشق نه پیدا کیږي دواړه د الله پاک په عشق کښې سرمست سرشار او سرګردان دي سینې ئې د الله پاک د محبت ډکې خزانې دي په عاشقۍ کښې ترې خپل ځان نام و نسب او روزګار هیر دی بس عاشقي ئې ملاسته ولاړه دی خپله عاشقي په دنیا و ما فیها نه بدلوي د معشوق په حصول او دیدار د سرو مال

نه تیر دی د ملامت او تهمت ئې هیڅ پرواه نشته د الله پاک په عشق کښې د جنون تر حد رسیدلی دی او پکښې د وړاندې تلو په سعې کښې دی.

د حافظ شیرازی شاعری او کلام:

د حافظ شیرازي شاعري د عاشقانه او عارفانه جذباتو او احساساتو بهترینه نمونه ده هغه د انساني نفسیاتو ماهر دی دَ انساني احساساتو ترجماني کوي ځکه هر لوستونکی وائي چې دا ما یادوي په غم درد ککړ پکښې خپل درمان ویني، شرابیان مستان ترې خپله مزه اخلي صوفیان عارفان ترې خپل وجد کښې ډوب وي کلام ئې همه ګیر او افاقي دی مشرب ئې صلح کل د هر چا یار دی جنګ کینه نۀ خوښوي.

خو دې کښې شک نشته چې بعض کلام ئې خالص مجازي دی چې بل تعبیر یا تاویل ئې نۀ شي کیدی په کلام کښې ئې د مستۍ مے و طرب او چنګ و رباب دا حال دی چې که یو تن چې د حافظ د شخصیت نه نا خبر او نا واقف وي او کلام ئې وګوري نو وائي به چې دچا مست شرابي نظر باز کلام دی چې دَ مے و طرب او چنګ و دف دلداده او شوقین دی حافظ د خپلو شعرونو صفت داسې کوي:

سرود مجلست اکنون فلک به رقص آرد
که شعر حافظ شیرین سخن ترانه تست

ستا د مجلس سندره به اوس آسمان په وجد کښې راولي ځکه چې

د شیرین سخن حافظ شعر ستا ترانه ده.

شعر حافظ همه بیت الغزل معرفت است
آفرین بر نفس دلکش و لطف سخن ش

د حافظ شعرونه دَ معرفت بیت الغزل دی، د دې په پاک روح او پاکیز کلام دې آفرین وي.

قیمت در گرانمایه چه دانند عوام
حافظ گوهر یکدانه مه ده جز بخواص

عوام د قیمتي لعل په قدر څه پوهېږي حافظ دا یکدانه ګوهر د خواص نه بغیر بل چاته مۀ ورکوه.

ندیدم بهتر از شعر تو حافظ
بقرآنی که اندر سینه داری

حافظ ستا د شعر نه بل ښه نۀ وینم دا د قران برکت دی چې ستا په سینه کښې دی.

د حافظ د شاعري شهرت:

د حافظ شاعري د هغه په ژوند کښې د شهرت عروج ته رسیدلې وه د پارس د شاهانو او وزیرانو په دربار کښې د حافظ د کلام چرچې وې د دې نه علاوه د بغداد حاکم او د دکن هند والي با قاعده بلنه ورکړې وه خو د تګ نوبت را نۀ غی بنګال ته د کلام رسیدو تصدیق حافظ پخپله کوي د کشمیري تور چشمانو جونو او د سمر قند د ښکلو د حافظ په شعرونو د رقص اطلاع حافظ

خپله ورکوي.

په بر صغیر هندو پاک کښې د حافظ او د نورو پارسي شاعرانو کلام ځان له دکورونو زینت نۀ ؤو بلکه په ډیرو اسلامي مدرسو کښې د نصاب حصه وه بغداد، دکن او بنګال ته د حافظ د شاعرۍ غلغلې رسیدلې وې.

عراق و پارس گرفتی به شعر خود حافظ
بیا که نوبت بغداد و وقت تبریز است

حافظ عراق او پارس دې قبضه کړل راځه اوس د بغداد او تبریز وار دی.

شکر شکن شوند همه طوطیان هند
زین قند پارسی که به بنگاله می رود

د هند ټول طوطیان به شکر خواره شي چې د پارس دا قند بنګال ته روان شي.

ز شعر حافظ شیراز می گویند و می رقصند
سیه چشمان کشمیری و ترکان سمرقندی

د کشمیر تور سترګې او د سمرقند معشوقې د حافظ شیرازي شعرونه وائي او ګډیږي.

حافظ او قصیده ګوئي:

د حافظ شیرازي د بادشاهانو، وزراء او امراؤ سره رابطه وه د دربار حاضرۍ د شعر و سخن په مجلسونو کښې ناسته د هغه معمول ؤو کوم شاهان چې د علم و ادب قدردان او د شعرو سخن شوقین

ؤو او په حافظ باندې د داد و دهش له کبله مهربان ؤو حافظ ئې خپلو اشعارو کښې صفت کړې دی او کوم چې د حافظ خلاف او د علم و ادب نه بې بهره ؤو د هغوې هجو ئې په ډیر محتاط انداز کې کړې ده د دې بر خلاف رحمان بابا نه خو چرته د چا بادشاه دربار ته تلی او نۀ ئې چرې د هغه قصیده وئیلې بلکه د هغه د بد خصلتونو خلاف ئې د خپل احساساتو او جذباتو اظهار بر ملا کړې دی.

باین شعر تر و شیرین ز شاهنشه عجب دارم
که سر تا پائے حافظ را چرا در زر نمیگرد

د دې تر او شیرین شعر با وجود حیران یم چې بادشاه حافظ سر تر پایه په زرو کښې ولې نۀ نغاړي.

دیدم که شعر دلکش حافظ به مدح شاه
هر بیت از آن سفینه به از صد رساله است

ما ولیدل چې د پادشاه په صفت کښې د حافظ هر دلکش شعر د سلو رسالو نه ښه دی.

مگر چه باده فرح بخش و باد گل ریز است
ببانگ چنگ مخور مے که محتسب تیز است

اگر چې شراب فرح بخش او فضا مزیداره ده خو شراب په زوره مۀ څښه محتسب ډیر تیز دی.

شاعري کښې د مجاز رنګ:

مجاز د شاعرۍ لازمي جز دی بغیر مجاز شاعري څه ناممکنه غونډې ښکاري د مجاز خپله ښکلا ده ځکه خو حقیقتونه هم په مجاز کښې بیانېږي لکه حضرت سید سلیمان ندوي وائي:

جھانکتیں ہیں حقیقتیں پردہ مجاز میں

ځکه خو وائي چې حجر اسود د الله تعالی ښي لاس دی او مجاز خو دی مجاز لکه چې وائي.

سحر ز ہاتف غیبم رسید مژدہ بگوش
کہ دور شاہ شجاع است مے دلیر بنوش

سحر مې غوږونو د هاتف غیبي دا خوشخبري واوریده چې د شاه شجاع دور دی شراب زړور څښه.

مے دو سالہ و معشوق چار دہ سالہ
مرا بس است ہمیں صحبت صغیر و کبیر

دوه کلیز شراب او یو پوخ عمر معشوقه دا وړوکی غټ راله بس دی.

دو یار زیرک و از بادہ کہنی دومنی
فراغتی و کتابی وگوشہ چمنی

دوه هوښیار دوستان دوه منه زاړه شراب فرصت، کتاب اوچې دَ چمن غاړه وی.

حافظ مست دی:

مستیانې ډیرې دي خو د الله پاک د معرفت مستي په ټولو سیوا ده دکوم یو تن چې د الله تعالی سره نسبت قایم شي او د دنیا و ما فیها نه تعلق او طمع قطع کړي او دا ئې یقین محکم شي چې الله تعالی ما سره دی د هغه مستي خو دې حد ته ورسي چې "ځه لاس دې را خلاص" که څه کولی شې د حافظ مستي د هغه دکلام د یو یو لفظ نه دوړیږي.

مستی بچشم شاهد دلبند ما خوش است
زان زو سپردہ اند بہ مستی زمام ما

زما د یار مستي خوښه ده ځکه ئې زما واګے د مستۍ په لاس کښې ورکړې.

چہ مستی ست ندانم کہ رو بما آورد
کہ بود ساقی و این بادہ از کجا آورد

نۀ پوهیږم چې په ما کښې دا مستي له کومه راغله ساقي څوک وو او شراب له کومه راغلل.

گر چہ مستم سہ چار جام دگر
تا بکلی شوم خراب بیار

اګر چې مست یم خو درې څلور جامونه نور راکه رواړه شراب چې سم خراب شم.

مى و مطرب و ميخانه د حافظ د زړه مرهم:

مے هغه شراب دي چې سالکان ئې د سترګو د کاسو نه څښني د سترګو غشي رسا په زړه لګي او ميخانه هغه خانقاه او جمات دی کوم ځاې چې د مريد تربيت کېږي، وګوره دې باره کښې يو سالک څه وايي.

صحن مسجد میں کھلاہے میکدہ
اب تو جو زاھد ہے مے آشام ہے

چھائی ہے یہاں مستی ہر ایک نمازی پر
حیرت ہے یہ گھرائے دل مسجد ہے کہ میخانہ

چشم ساقی میں بھری کیا بادہ پر جوش ہے
جس طرف انکھ اٹھ گئی وہ مست ہے مدہوش ہے

یاد آیا چشم ساقی کا کرم
پھر چھلکتے جام کی امید ہے

نو د مے او ميخانې په مطلب پوهه شوې او د پير او ساقي نه مطلب شيخ او پير دی اميد دی چې د شعرونو تشريح به واضح وي.

ساقی بنور باده بر افروز جام ما
مطرب بگو که کار جهان شد بکار ما

ساقي د شرابو د نور نه مې جام ډک کا – سندر غاړيه سندره وايه نن مې کار جوړ دی.

باده نوشی که درو هیچ ریائے نبود
بهتر از زهد فروشی که درو رو ریاست

د ريا د زهد فروشي نه بې ريا شراب څکل ښه دي.

یک دو رطل گراں به حافظ ده
گر گناه است گر ثواب بیار

يو دوه ډکې پيالې حافظ له ورکه راوړه که ګناه ده که ثواب دی.

میکشیدم مے و سجاده ئی تقوی بر دوش
آه آگر خلق شوند آگاه ازیں تزویرم

شراب مې څکل او د تقوى مصلى مې په اوګه وه آه که خلق د دې مکارۍ نه خبر شي.

مستی به آب یک دو قدح وضع بنده نیست
من سال خورده پیر خرابات پرور یم

په يو دوه پيالو مستي کول زما نشته زۀ په شراب خانه کښې بوډا شوی يم.

حافظ په ساقي نامه کښې پنځه کم سل شعرونه وئيلي چې د موسيقي د فن، د آوزارو، د آوزارو د غږولو مختلف تارونو، د مستۍ او رقص د وجدانونو ذکر دی لکه د ماهر فنکار او ګلوکار مغنّی ته هدايات ورکوي چې دا ووايه داسې ووايه زاړه ياران يادکړه زمکه آسمان په وجد کښې راوله ټنګ ټکور مې خوښ دی خو رانه پکښې خرقه ګانړه کوي.

چه نسبت است به رندی صلاح و تقوی را
سماع و عظ کجا نغمه رباب کجا

د رندۍ د نیکي او تقوی سره څه تعلق دی چرته وعظ او ریدل او چرته د رباب نغمه.

مغنّی نوائے طرب ساز کن
بقول غزل قصه آغاز کن

سندر غاړیه د مستۍ نغمه اووایه - غزل ووایه قصه شروع که.

مُغنّی دف و چنگ را ساز ده
بیاراں خوش نغمه آواز ده

ګلوکار دف او چنګ غږوه او خوش آواز سندر غاړو ته آواز که.

مُغنّی بیا عود را ساز کن
نو آئین نوائے نو آغاز کن

ګلوکار سارنګی وغږوه نوې نغمه او نوې ګوته او غږوه.

ما به څه لره کوله دا انشاء:

د رحمان بابا شاعري ته مونږ د یو شاعر ناقد او د ماهر فن په نظر نۀ ګورو او نۀ ئې جائزه اغیستل غواړو او نۀ د شاعرۍ په باریکاتو لکه غزل، قصیده، رباعي، قافیه، او ردیف وغیره په میدان کښې ورګډیږو بلکه مونږ د هغه شاعري د هغه په خپلو الفاظو کښې کتل غواړو چې د هغوې جذبات احساسات څه ؤو خپله شاعري او خپل کلام ورته ښکاري او شهرت ئې څه ؤو.

شاعري د الله پاک عطا ده چې هر چاته عطا نۀ ده زړه د حوادثو ګزار

وخوري نو د سترګو نه اوښکې روانې شي د شاعر حساس زړه چې د حوادثو ګزار وخوري نو ژبه ئې ګویانه شي.

رحمان بابا خپله د دې ذکر کوي:

که مې ځاې د دې غمونو وی په زړه کښې
ما به څه لره کوله دا انشاء

دا دستور دی چې له درد زویرګی خیژي
ور نه څه ؤو د رحمان د شاعرۍ

شاعري د خپل ځان او د خپل ګیر چاپیر د ماحول باره کښې د جذباتو او احساساتو اظهار دی رحمان بابا چې د ګل خان او جمال خان سره د آل اولاد په اور کښې د سوزیدو کوم غم او ژړا کړې او خپل ځان ئې کوم ملامت کړی هغه د دې کافي ثبوت دی.

هم دې زمکې هم آسمان ته تعجب کړم
چې نۀ زمکه په نارو شوه نۀ آسمان

هم دې لویو لویو غرونو ته حیران یم
چې ونه لوښته له ویخ سر غلطان

د دې خپل سپیۀ نفس مې زړه بد شي
چې او به څکي یا خواړه خوري په جهان

چې کله پوره درد مندي او همدردي سره خلقو ته د جنت د لارې ښودنه کوې او د دوزخ نه ئې بچ کول غواړې او هغوې د دۀ وینا شاته وغورځوي او لکه د پتنګانو په اور ورغورزیږي نو دې ورته

له ډیر درد او دلګیرۍ نه وائي:

ورځ دې تیره په شومۍ کړه شپه له خوابه
خدائې به کله یادوې خانه خرابه

که زۀ نۀ وایم ته خود سترګې رنړې کړه
کور دې خورشه ته چار پائی که آدم

د رحمان د شاعرۍ سرچشمه قرآن و حدیث او علم لدنی دی په تمامه شاعرۍ باندې ئې د دین او مذهب رنګ غالب دی کلام ئې پر مغز، نصیحت آموز، او تهه در تهه دی کلام ئی اعجاز دی نادانان ئې تل ته د رسیدو نه بې بس دي.

دا چې زۀ و تاته وایم که خدائی که
په قرآن و په حدیث کښې به څرګند وي

درګوهر په تله نه دی چا تللی
د رحمن شعرګوهر دی څه ئې تلی

چې منکر پرې اعتراض کولی نۀ شي
دا دی شعر دی رحمن که اعجاز

دا څه شعر دی رحمان
چې هم ګنج دی هم هنر

دانایان به د رحمان په شعر پوهیږي
دلته کار د هر نا اهل نادان نشته

په کلام کښې ئې د مجاز مستۍ او د مے مطرب رنګ او خوند هم

شته.

زۀ رحمان په زړه نری کړم هغه جونو
چې ئې ملا ده د ویښته په دود نرۍ

سور پیزوان دې په سرو شونډو هسې زیب کا
لکه جیم په قلم ښکلے کاتبانو

****

هسې مست یم ستا د شونډو په شراب
چې به نۀ وي بل دا هسې مست خراب

راشه یو ځل مې هسې مست خراب کړه
چې خبر نۀ شم د حال د هیڅ شي

****

چې دارو د درد و غم دی هغه مے
ساقي ما را یو دوه جام پیاپئ

چې له سنګ مې دلبر په لاس کښې جام دی
نن اورنګ د زمانې زما غلام دی

****

چې سامع ئې په نغمه په ترانه شم
دیوانه شم ګریوان څیرې مست خراب

چې پرې غم غلطوم د شپې پاڅم
کله مے په شونډو کېږدم کله نے

ګاه کتاب کله رباب په لاس راواخلم
باري درد مې په هيڅ رنګ نه کا کمي

د رحمان د شعر کوکي په عالم دي:

کلام ئې ځکه شهرت لري چې خوږ دی او شيرين دی:
ستا د حسن د تعريف له برکته
د رحمان د شعر کوکې په عالم دی

هم نغمې کاندي هم رقص کا هم خاندي
د رحمان په شعر ترکې د باګرام

د رحمن کلام په دا سبب شيرين دی
چې ئې هر کلام کلام دی د اخلاص

يا به شهد يا به قند يا به نبات وي
هر کلام چې له رحمان شنيده شي

چې تمام د خپل جګر په وينو رنګ شه
د رحمان خبرې ځکه رنګينه دي

رحمان خپل ځان د نورو شاعرانو سره مقابله کوي او وائي:
چې دا نور شاعران کاندي هغه نهٔ کا
رحمان کړي نوي نوي اجتهاد دی

لکه زهٔ چې سخندان و هنر مند يم
بل به نهٔ وي سخندان او هنر مند

هم په مدحه ښه پوهېږم هم په هجو
ولې نهٔ يم په دا چاره ډېر خورسند

چې کشور د افغانانو معطر که
د هر بيت مصرع مې زلفې د خوبان کړې

الهي د خپل حبيب له برکته
دا ساده انشاء رنګينه د رحمن کړه

د رحمن د شاعری سرچشمه قرآن وحديث او علم لدنی دی دينی او مذهبي رنګ پرې خور دی شعر ئې خوږ شيرين پر مغز او آسان دی عالمان صوفيان جاهلان او فاضلان مجلسيان نر ښځې ټول ئې دلداده دي شعر ئې اعجاز دی شاعر سخندان قادر الکلام دی هم په مدحه هم په هجو ښه پوهېږي که کلام ئې درې حصې کړو نو يو حصه عشق الهی عاشقي او مينه محبت دی يو حصه دنيا د دنيا حقيقت اهميت او دجاليت دی او باقي يو حصه نور ټول موضوعات دي.

حافظ شيرازي او رحمان بابا دواړه د انسان د نفسياتو ماهران ؤو شاعري ئې د انساني جذباتو او احساساتو ترجماني کوي ځکه د هر چا خوښه ده د کلام سرچشمه ئې قرآن و حديث او علم لدنی دی عاشقانه او عارفانه امتزاج لري د دين او مذهب رنګ په ټول شاعري باندې خور دی وينا ئې ساده او اسانه ده خو ډوبې معنی او خزانې لري چې د هرکس و ناکس رسيدل ورته ګران دي.

د شاعري شهرت ئې د دوې په ژوند کښې خور شوی د رحمان بابا شهرت خو د پختونخوا تر سیمې پورې ؤو ولې د حافظ د شاعرۍ شهرت ملکونو ته رسیدلی ؤو دې کښې د فارسي ژبې خپل وسعت هم کار فرماؤ چې د عربي ژبې نه پس فارسي دویمه ژبه ده چې د دین اسلام تعلیمات پکښې وافر موندی شو د بعضې شاهانو او وزراء سر پرستي ئې هم بله وجه ده د حافظ په کلام کښې د شاهانو قصیده ګوی واحد عنصر دی چې د رحمان په کلام کښې نشته په ځاې د دې رحمان د شاهانو او شهزادګانو د ظلم زیاتي ذکر برملا کړی دی د دواړو په کلام کښې د مجاز، مستي، مے ومیخانې، رباب ونے او د چنګ و دف خوند رنګ موجود دی د حافظ د مستۍ دا حال دی چې د کلام کوم لفظ ئې اوچتوې نو مستي ترې دوړیږي او د موسیقۍ د شوق ئې دا حال دی چې حافظ پخپله د موسیقۍ پوره اکیډیمي ده د موسیقۍ د رموزو باریکاتو آلاتو، سازونو تانونو اوګتو نه با خبر دی مغنی ته مختلف هدایات ئې دیو ماهر فنکار اوګلوکار نشاندهي کوي که د رحمان بابا مقابله د صوفیانو او نورو شاعرانو سره وکړې نو رحمان به درته مست قلندرښکاره شي خوکه د رحمان مقابله د حافظ شیرازي سره وکړې نو رحمان به درته خالص مُلا ولیدی شي.

خپل قسمت د هر سړي جدا جدا دی:

تقدیر د الله تعالی دجمله صفاتو مجموعه ده انسان دالله تعالی د

جمله صفاتو نهٔ احاطه کولی شي او نهٔ پرې پوهیدی شي په دې وجه تقدیر په هر چا باندې نهٔ خلاصیږي او نهٔ به دنیا کې پوره خلاص شي په دنیا کښې تقدیر صرف په عارفانو باندې د هغوې د معرفت په اندازه کهلاؤیږي او هغوې پوهه شوي چې کوم څه هم د الله تعالی د طرف نه راځي هغه درست دي په ما او تا باندې تقدیر هله کهلاؤ شي چې هغه کار اوشي او واقعه واقع شي ځکه وائي چې تقدیر په ماضي کښې دی په حال او په استقبال کښې نهٔ دی انسان د اختیاري امورو مکلف دی د تقدیر په انتظار به نهٔ کینې د حضور علیه السلام د حدیث مفهوم دی:

چې د تقدیر منکر د دې امت مجوسي دی.

حافظ شیرازي د جبري عقائدو پیروکار دی او د تقدیر په مطلب پوهه دی چې د انسان برخې د ازل نه مقرر دي د دهٔ پکښې هیڅ لاس نهٔ رسي.

جام می و خون دل هر یک بکسی دادند
در دائره قسمت اوضاع چنین باشد

چاته د شرابو جام چاته د زړه وینې د قسمت په دائیره کښې ورکیدی شي.

درکار گلاب و گل حکم ازلی آن بود
کان شاهد با زاری وین پرده نشین باشد

د عرق ګلاب اوګلاب باره کښې حکم دا وو چې دا به بازاری او

هغه به پرده نشين وي.

پکار ده چې انسان د رضا بالقضاء په مقام باندې فائز او د تسليم و تفويض بنده وي.

حافظ از مشرب قسمت گله بی انصافی است
طمع چون آب غزل های روان مارا بس

حافظ د قسمت د تقسيم ګيله بې انصافي ده سوړ طبيعت او روان غزلونه ماله بس دي.

چونکه د تقسيم ازلي قائل دی په دې وجه د خپلو اعمالو ټوله ذمه داري په سر نۀ اخلي.

در کوی نیکنامی ما را گزر نه دادند
گر تو نمی پسندی تغیر ده قضا را

مونږ ئې د نيکۍ په کوڅه کښې پرې نۀ ښودو که ستا خوښه نۀ وي تقدير بدل کا.

حافظ بخود نه پوشید این خرقه می آلود
اے شیخ پاکدامن معذور دار مارا

په شرابو لمده خرقه ما پخپله نۀ ده اغوستې شيخ پاکدامنه زۀ معذور يم.

رضا بداده بده و زجبین گره بکشا
که برمن و تو در اختیار نکشاده است

چې څه ميلاؤ دي خوشحاله اوسه تندی مۀ غوټه کوه په ما او تا د

اختيار دروازه نۀ ده کهلاؤ.

دې کښې شک نشته چې انسان نۀ کلي طور مختار دی نۀ کلي طور مجبور دی انسان دپاره بهترينه لار د حضرت اشرف علی تهانوي په دې ملفوظ باندې عمل کول دي.

"*اختياری امور میں کمی نہ ہو غیر اختیاری کی غمی نہ ہو*"د غير اختياري امورو په غم کښې سر مۀ خوره او په اختياري امورو کښې سستي او کمي مۀ کوه مثلاً د بيماری په علاج کښې سستي او کمي مۀ کوه خو جوړيده د خدائی په لاس کښې دي د هغې په غم کښې سر مۀ خوره انسان د اختياري امورو مکلف دی د غير اختياري مکلف نۀ دی.

مکن ز غصه شکایت که در طریق طلب
راحتی نرسید آنکه زحمتی نکشید

د طلب په لار کښې د غصې نه شکايت مۀ کوه چې زحمت ئې تير نۀ کړو راحت نۀ ميلاوېږي.

رسولﷺ په تقدير کښې د بحث نه منع راوړې ده نو حافظ وائي:

حدیث از مطرب دمے گو وراز دهر کمتر جو
که کس نه کشود و نه کشاید به حکمت این معمارا

د سندر غاړي او شرابو خبره کوه د زمانې رازونه مۀ لټوه دا مسئله چا په حکمت حل کړې نۀ ده نۀ به حل کړي.

له قسمته خلاصیده د هیچا نشته:

رحمان بابا د تقدیر او قسمت قائل دی دا یقین لري چې الله تعالی احکم الحاکمین او قادر مطلق دی د هغه هرکار او هره فیصله د حکمتونو ډکه عادلانه او برحق ده د خدائی په قضاء راضي اوسه نو مزې کوه که هر څومره کوشش او تګ و دو وکړې د قسمت لیک به بدل نۀ کړې بې ځاې ځان مۀ خواروه هر چاته خپله حصه خپله برخه بیله بیله میلاؤ ده.

د ازل په ورځ د بخرو جواري وه
اے رحمان چا بائیلو دی چا ګټلی

و هر چا ئې بخری ورکړی ګوښې ګوښې
خپل قسمت د هر سړي جدا جدا دی

****

په قسمت کې د هیچا لاس نۀ رسي او نۀ د چا په رضا دی.

چې نیکي ورکولی و نیکانو
دې بدانو څه بدي نۀ وي غوښتلي

وران به نۀ کاندي یو حرف د خپل بخری
که په اوښکو د چا درست جهان چقړ شي

په تدبیر به د تقدیرکښلی نور نۀ کړي
د قسمت علاج په عقل کله کړی شي

****

هر چاته به خپل قسمت ضرور رسېږي خلاصیده ترې نشته.

خواه مخواه به د قسمت شوی ور پیښ شي
که څوک هیڅرې نظر په تقدیر نۀ کا

له قسمته خلاصیده د هیچا نشته
که داخل شې د مکې په حرمونه

چې قسمت درسره ملګری وي نصیب دې ویښ وي او په طالع زورور ئې نو بیا نۀ هنر ته حاجت شته او نۀ نسب ته پښتانه وائي په منډه نۀ ده په ټنډه ده.

هیڅ حاجت د هنر نشته و نصیب ته
که په اصل څوک عرب وي که عجم وي

هیڅ حاجت د هنر نشته و نصیب ته
غزا اوشوه که مومند یا داودزئی شوم

هنر مۀ غواړه طالع له خدایا غواړه
بې سلیمان په کار نۀ دی که خاتم وي

حافظ شیرازي او رحمان بابا دا یقین لري چې د نصیب برخې د ازل په ورځ تقسیم شوی دی هر چاته خپل برخه میلاوېږي په تقسیم کښې د انسان خپل هیڅ لاس نۀ رسیده او نۀ اوس په منډه او کوشش خپل قسمت بدلولی شي نۀ پکښې څه تبدیلي راوستی شي نصیب د هنر دپاسه دی هنرمند د نصیب دارو غلامان وي خو نصیب په چا کهلاؤ نۀ دی هر انسان په خپل سعې اوکوشش پر

دی تقدیر په ماضي کښې دی.

خزان نه لري بهار د درویشانو:

هر بهار لره خزان په جهان شته دی
خزان نهٔ لري بهار د درویشانو

درویشان ګدایان فقیران او ملنګان د خدائی نازبین دي حافظ شیرازي او رحمان بابا دا کلک یقین لري چې دا خلق په ظاهره خړ پړ او خوار زار وي خو خدائی ته رسیدلي او محبوب وي د حقارت په نظر ورته مهٔ ګوره دا د خدائی د معرفت په مستئ داسې مست وي چې پادشاهان ئې ګرد ته نهٔ رسي.

نهٔ تاج لري نهٔ تخت نهٔ هاتیان لري نهٔ اوښان خو بادشاهي ئې ځان له په زمکه نهٔ بلکه په آسمانونو هم چلېږي د دنیا پادشاهان ئې په در پراته وي او خواستونه کوي په دوې کښې داسې خلق شته چې تاجونه ور په سرکوي او په تختونو کېنول کوي او هم د تاج و تخت نه کوزول کوي دعاګانې ئې قبولي وي صرف د لاس پورته کولو وخت وي پکښې د ښیرو غشی ئې رسا په نښه لګي کله خطا کېږي نه ځان ترې اوساته حافظ شیرازي او رحمان بابا هم د دې ډلې کسان دي او خپله د دې اظهار هم کوي درویشان رسیدلي خلق دي.

روضهٔ خلد برین خلوت درویشان است
مایه محتشمی خدمت درویشان است

د درویشانو خلوت ګاه د جنت باغچه ده او خدمت ئې د عزت سرمایه ده.

گنج عزلت که طلسمات عجائب دارد
فتح آن در نظر همت درویشان است

کوټکی ئې د عجائب و خزانه ده چې د دوې په نظر سره کهلاوېږي.

چې په یوه قدم تر عرش پورې رسي
مالیدلی دی رفتار د درویشانو

په ظاهر صورت چې ستا د درګدائی دی
په معنی کښې دجمله ؤکد خدائ دی

درویشان همیشه مست او خوشحاله وي.

اے گدایان خرابات خدا یار شماست
چشم انعام ندارید ز انعامے چند

دَ میخانے فقیرانو خدائی ستاسو دوست دی د ښارؤو نه د انعام طمع مهٔ لرئ.

من که دارم در گدائی گنج سلطانی بدست
کے طمع در گردش گردوں دوں پرور کنم

په فقیرئ کښې مې شاهي خزانه په لاس کښې ده د آسمان د ګردش څه طمع کوم.

هر بهار لره خزان په جهان شته دی
خزان نهٔ لري بهار د درویشانو

خرقـه پوشـو پـه خرقـه کښې دی مونـدلی
هغـه حظ چې پـه دنيـا کښې دنيـا دارکـه

ظاهر فقيران ښکاري خوار خو له جهان بې نياز و مستغنی دي.

اے گدايان ترا عارز شاہنشاهی
همه کس را تو دهی منصب صاحب جاهی

ستا د ګدايانو د بادشاهي نه عار دی خو ټول صاحب جاه خو ته جوړوې.

گدائے کوئے تو از هشت خلد مستغنی ست
اسير بند تو از هر دو عالم آزاد ست

ستا د در فقيران د اتو جنتونو نه بې نياز دی ستا قيدي د دواړو جهانونو نه آزاد دي.

قناعـت مې د خرقې لانـدې اطلـس دی
پـټ د درسـت جهـان بادشـاه ظـاهرګـدا يم

شين لوګی مې پـه سر چتر دونهـه تخت دی
ګردغبار د خپـل دولت لکـه ملنـګ خورم

زرداران کـه اوبـه څښـي پـه جـام د زرو
مـا غريـب لـره د خـاوروکنډول بـس دی

دا چې بې تاج او بې تخت بادشاهان دي حکم ئې په آسمانونو چلېږي.

مه بين حقير گدايان عشق را که اين قوم
شهان بی کمر و خسروان بی کله اند

د عشق فقيرانو ته سپک مه ګوره دا بې تاج او بې کمر بند بادشاهان دي.

گدائے ميکده ام ليک وقت مستی بين
که ناز بر فلک و حکم بر ستاره کنم

د ميخانې فقير يم خو د مستۍ په وخت کښې په آسمان باندې ناز او په ستورو باندې حکم کوم.

بـې هاتيـانو بـې او ښـانو بادشـاهي کـا
د زاړه پـوزې ټکـرکـې يـې قـالين دی

پـه هجـران کښې کـه ګدا ووم کند پـه غـاړه
پـه وصـال کښـې ئې بادشـاه د امـرا شـوم

د دنيا بادشاهان دګدايانو نه سوال کوي:

خسرواں قبلۂ حاجات جهانند ولے
سببش بندگی حضرت درويشان است

بادشاهان د جهان قبله حاجات دي خو سبب ئې د درويشانو د دربار غلامي ده.

روئے مقصود که شاهان جهاں می طلبند
مظهرش آئينه طلعت درويشان است

د کوم مقصود چې بادشاهان طلبګار دي د هغې ملاويده د درويشانو د مخ آئينه وي.

د دنيـا بادشـاهان خواسـت کـا لـه فقيـره
تۀ بادشاه د هسې ملک شه خواستګر مۀ شه

بادشاهي دګدایانو په دعا شي
زۀ رحمن ځکه بادشاه یم چې ګدا شوم

چاته تاج پسرکوي په تخت ئې کینوي څوک له تخت کوزوي.

بر در میکده رندان قلندر باشد
که ستانندو دهند افسر شهنشاهی

د میخانې په دروازه داسې رندان قلندران دي چې تاج و تخت ورکوي او اخلي.

اگرت سلطنت فقر به بخشند اے دل
کمترین ملک تو از ماه بود تا ماهی

زړګیه! که د فقر بادشاهي درکړي نو وړه بادشاهي د سپوږمۍ نه تر مهیانو ده.

ستا د در ګدایان واړه بادشاهان دي
خو چې ستا د در وخي در په در شي
ځان هاله ورته بادشاه شي
چې ئې ستا د در ګدا کا

د درویشانو دعاګانې قبولې دي:

اے دل از آب حیات ابدی مے طلبی
منبع ش خاک در خلوت درویشان است

زړګیه که د ابدي ژوند اوبه غواړې د درویشانو د در خاور ئې چشمه ده.

از کراں تا بکراں لشکر ظلمت است
از ازل تا بہ ابد فرصت درویشان است

که د یو سر تر بل سر د ظلم و جبر لښکرې دي خو د ازل تر ابد درویشان ترې خلاص دي.

چې په خواست د دعا پورته که لاسونه
د آسمان د ملائکو پر آمین دی

د ښیرو غشي ئې خطا کېږي نۀ رسا په نښه لګي ځان ترې اوساته.

گنج قارون که فرو میرود از قهر هنوز
خوانده باشی تو که از غیرت درویشان است

د قارون خزانه چې تر اوسه خښېږي تا به وئیلې چې د درویشانو د غیرت وجه ده.

حافظ اینجا با ادب باش که سلطان و ملک
همه در بندگی درویشان است

حافظ پام کوه چې بې ادبي درنه ونشي دلته شاهان او فرشتې ټول د درویشانو په غلامۍ کښې دي.

په هر چا چې د غضب لینده کړي کښه
خطا نۀ درومي ګذار د درویشانو

درته وایم له آه ئې پرهیز کړه
د هغو چې پوشاکونه پشمینه دي

د آه غشي ئې په زمکه کله لګي
کوم قامت چې کمان طور خميده شي

زه او يار که په تن دوه په معنی يو يو:

د حافظ شيرازي او رحمان بابا د ژوند او حالاتو په موازنه ورسره د هغه اشعارو ذکر هم شوی کوم چې مماثلت لري هغه د مماثلت او مطابقت د ثابتولو دپاره کافي دی او په خپل ځای باندې صحيح دی خو د هغې نه علاوه هم ډير داسې اشعار دي چې مماثلت او مطابقت لري هغه مو دلته د بيل بيل عنوان لاندې راجمع کړي دي نو دې ته قند مکرر وئيلی شي بلکه زۀ به اووايم چې دا اشعار مشت از نمونه خروار دی دا کار دومره وسيع او دروند دی چې د ډيرو پي ايچ ډی او ايم فل د ريسرچ د مقالاتو مواد پکښې دي پکار ده چې دا قسم تحقيقي کار په مخکښې وړاندې کړی شي.

عشق او عاشقي:

آفرين د عاشقانو په همت
چې په عشق کښې يک انداز وي يک جهت

دلا در عاشقی ثابت قدم باش
که دریں ره نباشد کار بے آجر

زړګيه په عاشقی کښې ثابت قدم ووسه په دې لار کښې بې آجر کار نشته.

عاشقان د سپين رخسار د تورو زلفو
څه پرواه لري دکفر د اسلام

حافظ گر عاشقی و مستی دگر ره باز گوئی
عاشق یارم مرا با کفر و با ایمان چه کار

حافظ که عاشق او مست ئې بيا اووايه د يار عاشق يم کفر ايمان څه کوم.

که څوک را کاندي دنيا و عقبی دواړه
عاشقي به دې په اين و آن ور نۀ کړم

نعیم هر دو جهان پیش عاشقان بجوئے
که این متاع قلیل ست و آبهائے فقیر

د عاشق په مخکښې د دواړو جهانونو نعمتونه د وربشې برابر دي ځکه چې دا لګ حقير سامان دی.

تۀ نظر په خپل هنر په عقل مۀ کړه
دا آسباب په عاشقي کښې اسباب نۀ دی

در دفتر طبیب خرد باب عشق نیست
اے دل بہ درد خو کن و نام دوا مہ پرس

د عقل د طبيب په کتاب کښې د عشق باب نشته درد ته کلک شه د دوا نوم وانه خلې.

صبر ستا په عشق کښې دا خبره څه او زه څوک
نشته د دې چارې توان يو موی قدر ځما

عاشقي او صبوري سره دروغ دي
زۀ دا لافې په دروغ څه رنګ وهم

حافظ عشق و صابری تا چند
ناله عاشقان خوش است بنال

حافظ عشق او صبر ترځو، ژاړه، د عاشقانو ژړا خوند کوي.

بې له عشق که مې عيب که مې هنر دی
ما غوخ کړی دی له ځان بل پيوند

حافظ چو تو پا در حرم عشق نهادی
در دامن او دست زن و از همه بگسل

حافظ چې د عشق په احاطه کښې دې خپه ايښې نو دلته کلک شه او نورو نه کټ شه.

عاشقي آسانه مۀ ګڼړه خبر شه
سر بازي ده هر نفس په دا ميدان کښې

در ره عشق از آن سوے فنا صد خطر ست
تا نه گوئی چو عمرم بسر آمد رستم

د عشق په لار کښې د فنا نه ديخوا هم سل خطرې دي دا مۀ وايه چې مړ شم خلاص به شم.

عاشقي سړی مجنون کاندي رحمانه
ګڼړې څوک په هوښياري ووزی له کور

چون شدم مجنون بر وے عشق لیلی در جهان
عاقلا پندے مه ده هیچو منی دیوانه را

چې د ليلی عاشق شوم خو بيا ما ليونې ته نصيحت مه کوې.

چې يې زر کړ زيړ رخسار زما د خاورو
عاشقي نۀ وه په باب زما کيميا شوه

کیمیائے غم عشق تو تن خاکی را
زر خالص کند ارچند بود ہمچو رصاص

د عشق د غم کيمياء به دې خاکي بدن سره زر کړي اګر که تانبه وي.

په طبيب د عاشقانو دارو نۀ شي
درومه بله خوا دارو د خپل زحمت کړه

فکر بهبود خود اے دل ز در دیگر کن
درد عاشق نشود به ز مداوای حکیم

د خپل مرض دارو دې بل ځاي وکړه د حکيمانو سره د دې دوا نشته.

عاشقان ئې د دنيا له غم خلاص کړ
عاشقي د سليمان بادشاه غمی دی

خوشا آن دم که استغنائے مستی
فراغت بخشد از شاه و وزیرم

څه ښه وخت به ئې چې د مستی بې نيازي مې د شاه او وزير نه فارغ کړي.

سل توبې مې ماتې کړې وا نۀ وښتم له عشقه
سا ويسا مې نور پاتې نۀ شوه په توبو کښې

من ترک عشق بازی و ساغر نه میکنم
صد بار توبه کردم و دیگر نمیکنم

عاشقي او جام نۀ پريدم سل ځلې مې توبه وباسله چې بيا به نۀ کوم.

عشق څه هسې علم نۀ دی چې حاصل شي له مکتب
مکتب حال د مذهب وائي عشق سيوا دی له مذهب

ز گنج مدرسه حافظ مجوی گوهر عشق
قدم برون نه اگر میل جستجو داری

د مدرسې په کوټ کښې عشق مۀ گوره بهر ته اوزه که تلاش کوې.

کښېوتم د عشق په آدم خورو گردابونو
نۀ په وړاندې تلی شم نۀ په بيرته گريزان

طریق عشق طریقے عجب خطرناک ست
نعوذ باللہ اگر رہ بمانے نبری

د عشق لار ډير خطرناکه ده د خدای پناه که بله د امن لار ميلاؤ نۀ شوه.

عاشقي به ئې د باد په مخ بنه که
که چا ځای د کوه قاف غوندې نيولی

نباشد هیچ عاشق همچو حافظ
فقیرے بے کسے بے اعتبارے

د حافظ په شان فقير بې کس بې اعتبار عاشق نشته.

سل په دا رنگ نومونو د عشق نور دی
لکه نوم چې د مجنون او د فرهاد دی

یکیست ترکی و تازی دریں معامله حافظ
حدیث عشق بیان کن به هر زبان که تو دانی

حافظ دې معامله کښې ترکی عربي يو شان دی عشق بيان که چې کومه ژبه تۀ پيژنې.

هيڅوک دې په خپله د عاشقۍ لافه ونۀ کا
کله هم پټېږي وچې شونډې گونه زرد

درد مندیم و خبر می دهد از سوز دروں
دهن خشک و لب تشنه و چشم تر ما

درد مند يم زما وچه خوله وچې شونډې او چشم تر د دننه سوز خبر ورکوي.

عاشقان و معشوقې سره پوهېږي
دغه راز و نور عالم ته عيان نۀ دی

میان عاشق و معشوق رمز است
کراماً کاتبین را هم خبر نیست

د عاشق او معشوق په مينځ کښې داسې تعلق دی چې کراماً کاتبين ته هم پته نۀ لگي.

فرشته د عشق له غم څه خبر ده
خو هم ما لره دا سخت سفر پيدا شو

فرشته عشق نداند که چیست قصه مخوان
بخواه جام شرابے به خاک آدم ریز

فرشتې ته پته نشته چې عشق څه وي قیصې مه کوه د شرابو جام راوړه د آدم په خاوره ئې واړوه.

عشـق دی دا کـه یـو فسـاد دی نـهٔ پـوهېږم
پـه جهـان کښـې چې دا شـور وشـر پیـدا شـو

در ازل پرتو حسنت ز تجلی دم زد
عشق پیدا شد و آتش به همه عالم زد

په ازل کښې ستا د حسن پر تو ظاهره شوه عشق پیدا شو او په تمام دنیا ئې اور ولګاوه.

دا نـارې سـورې پـه عشـق کښـې دې غمـازې
ګنـړې تـل بـه د بلبـل پـه څیـر پتنـګ کـړي

ترا حیا و مرا آب دید شد غماز
و گر نه عاشق و معشوق راز دار اند

ستا حیا او زما اوښکې غمازې شوې ګنړې عاشق او معشوق خو راز ساتي.

طبیبـــان وائـــې چـــې صـــبر دې دارو دی
خـدائې زمـونږ فرقـه پیـدا کـړه نـا صـبور

حافظ صبور باش که در راه عاشقی
هر کس که جان نداد به جانان نمی رسید

حافظ په دې لاړ کښې صابر اووسه څوک چې سر نهٔ ورکوي یار وته نهٔ رسي.

د بلبلـو نغمـه زاغ کـولی نـهٔ شـي
هـر سـرود آواز پـه طـور د خپـل تـارکـا

بحث بلبل بر حافظ مکن از خوش سخنی
پیش طوطی نتوان صوت هزار آو ابرد

خوش آوازي کښې حافظ ته د بلبل بحث مه چهیړا د طوطي په مخکښې د بلبل د آواز څه حیثیت دی.

هسـې رنـګ یـې دَ خپـل زړه د وینـو واغیسـت
چـې ځـان درسـت راتـه پـه شـکل د جانـان دی

هر که عاشق گشت میگویند خون دل خورد
پس نمیدانیم ما جز عاشقی کاری دگر

وائي عاشق د زړه وینې څښي د عاشقۍ نه بغیر بل کار نهٔ رازي.

راحـت نـهٔ دی بـې زحمتـه چـا مونـدلی
کوم طبیب دی چې په روغ صورت مرهم ږدي

طبیب عشق مسیحا دم ست مشفق لیک
چو درد در تو نه بیند کدا دوا بکند

د عشق طبیب چې مسیحا دم والا او مهربان دی خو چې ستا بیماري نه ویني نو دوا په څه درکړي.

چې ئې خاورې کړ صورت د ستا په درکښې
سـر تـر عـرش دی وکښلی زمـا روح

کیمیاست عجب بندگی پیر مغان
خاک او گشتم و چندین درجاتم دادند

د پیر مغان غلامي عجیبه کیمیا ده د هغه دَ در خاورې شوم او څومره درجې راکړې.

د درګــاه پــه خــاک نشــینو ســختي نــهٔ وي
د غمونــو دخــل نشــته پــه جنــت کښــې

سروش عالم غیبم بشارتے خوش داد
کہ بر در کرم ش وژم نخواید ماند

د غیب فرشته څه ښه خبر راکړو چې د کرم په دروازه به څوک غمګین نهٔ وي.

لکــه کانــدي پــه کــوترو نظــر بــاز
هســـــې زهٔ یم د دلبــــرو نظـــر بــــاز

عاشق و رند و نظر بازم و میگویم فاش
تا بدانی کہ بچندین ہنر آراستہ ام

عاشق رند او نظر باز یم په ډاګې وایم چې تا ته هم زماد هنرونو پته ولګي.

چــې تــوانګر د قناعــت پــه خزانــه شــي
بــل تــوانګر پــه جهــان نشــته تــوانګر دا دی

منکہ دارم در گدائی گنج سلطانی بدست
کے طمع در گردش گردوں دوں پرور کنیم

په ګدائي کښې سلطاني خزانه راسره ده د کینه پرور آسمان نه څه

طمع لرم.

تــهٔ چــې پنــد وائــې ناصــح و رحمــان تــه
شــکایت بــه د قضــا کــوې تــرکومــه

مکن بچشم حقارت نگاه بر من مست
کہ نیست معصیت و زهد بے مشیت او

ما مست ته سپک مهٔ ګوره د خدائی د مشیت نه بغیر نهٔ ګناه شته نهٔ نیکي.

مے مستی:

شــیخ و شــیخی وردو وظیفــه او ذکــر فکــر
زهٔ او ســاقي جــام و بــاده، چنــګ وترانــه

تو و تسبیح و مصلے و رہ زهد و ورع
من و میخانہ و ناقوس ورہ دیر کنشت

تهٔ تسبیح مصلې او د زهد پرهیزګاري لاره زهٔ او مے خانه ناقوس او د بت خانے لاره.

ســجاده بــه د ســاقي د لارې فــرش کــا
هــر صــوفي چــې د ســرو سـترګو خریـدار وي

بہ مے سجادہ رنگین کن گرت پیر مغاں گوید
کہ سالک بے خبر نہ بود ز راہ رسم و منزل ها

که ساقي وائې نو مصلي په شرابو رنګ کړه ځکه چې سالک د

سلوک د رسم و رواج او لارو نه بے خبره نۀ وي.

د ساقي له لاسه هسې پياله نوش کړه
چې دې غوځ که له زړه خيرې د ريا

نوش کن جام شراب يکمنی
تا بدان بيخ غم از دل بر کنی

د شرابو يکمنی جام اوسکه چې د زړه نه دې د غم جرړې غوڅې کړي.

هر مطرب چې غوږې تاؤکه د رباب
په دا تاؤکښې زما زړه کاندې کباب

بزن بر چنگ چُنگ اے ماه مطرب
رگش بخراش تا بخروشم از وے

خائسته مطرب په چنګ باندې ځنګل اووهه تار له حرکت ورکه چې په جوش کښې شم.

د رحمن شراب له عشقه
نۀ انګور نۀ له عنب

مستی عشق نيست در سر تو
رو که تو مست آب آنگوری

ستا په سر کښې د عشق مستي نشته ځه خپل کار کړه تۀ د انګوري شرابو مست يې.

د پيالې د صراحی له برکته
ما د دهر غم وهلی دی په لته

ساقيا برخيز در ده جام را
خاک بر سر کن غم ايام را

ساقي پاڅه جام راکه زمانه به خپل کار کوي.

راشه يو ځل مې هسې مست خراب کړه
چې خبر نۀ شم دحال د هيڅ شي

بده ساقی مے نابم که يکدم بی خبر گردم
که جانم بر لب امد از به تکلف هائے هشاری

ساقي خالص شراب راکړ چې زر بې خود شم د هوښياری د تکلفاتو نه مې زړه خولې له راغلو.

دا چې مست په ميو راغی يار د چا دی
بيا به تاخت که په کوم غولي وار د چا دی

ترک عاشق کش من مست بروی رفت امروز
تا که خون دل امروز رواں خواهد بود

زما مست معشوق نن بهر ووت ګوره چې د چا د زړه خون کوي.

هيڅ وفائې له هيچا سره ونۀ کړه
که جمشيد ووکه بهمن که کيقباد

بشنوز جام باده که اين ز ال نو عروس
بسيار کشتہ شوہر چوں کيقباد وجم

جام د شرابو وائې چې دی بوډهی نوې ناوې (دنيا) د کيقباد او جمشيد غوندې ډير خاوندان قتل کړل.

د تصویر له گلو طمع د بوي مهٔ کړه
له منقوشو مرغو نهٔ خیژي آواز

به مستوراں مگو اسرار مستی
حدیث جان مپرس از نقش دیوار

صوفیانو ته د مستی راز مهٔ ښایه په دیوال د نقش نهٔ د ژوند څه تپوس کئی.

چې دارو د درد و غم دی هغه مې
ساقي ماره یو دوه جام پیاپئ

یک دو رطل گراں بہ حافظ دہ
گر گناہ است و گر ثواب بیار

حافظ ته یو دوه ډکې پیالې ورکړه که گناه ده او که ثواب.

ښه دی مالره دا فیض د شرابو
چې پرې ووینځم دا دلق ارزق فام

بیار بادہ کہ رنگین کنیم جامہ دلق
کہ مست جام غروریم و نام ہشیار ست

شراب راوړه چې دا کند پرې رنگ کړم مونږ د غرور د جام مست یو نوم مو هوښیار دی.

که غمخوار غوارې په غم و په اندوه کښې
ښیښه ډکه د شرابو اختیار که

بہ پیر میکدہ گفتم کہ چیست راہ نجات
بخوست جام می و گفت بادہ نوشیدن

د میکدې پیر نه مې د راه نجات تپوس اوکه - شراب ئې راوړل وې دا اوڅښه.

زه رحمان په خپل اشعار شکر گذاریم:

دانایان به د رحمان په قال پوهېږي
دلته کار دهر نا اهل نادان نشته

قیمت در گرانمایہ چہ دانند عوام
حافظا گوہر یکدانہ مدہ جز بہ خواص

عوام د قیمتي لعل قیمت څه پیژني حافظ دا یک دانه گوهر (شعر) خواصو نه بغیر بل چاته مه ورکوه.

کاتبان به ورکه در د خپلو غوږو
که ئې تیر تر غوږو شعر د رحمان شي

ز شعر دلکش حافظ کسے شود آگاہ
کہ لطف طبع سخن گفتن دری داند

د حافظ په دلکش شعر هغه پوهېږي چې طبیعت ئې پاکیزه او فارسي پیژني.

در ولعل شو وئیل د رحمان څکه
چې دې ستا د لعلو شونډو شو گویان

شعر حافظ را کہ یکسر مدح احسان شما ست
ہر کجا بشنیدہ انداز لطف تحسین کردہ اند

د حافظ شعرونه چې سراسر ستا د احسان تعریف دی چرته چې

اوریدی شوی د لطافت صفت ئې کړی.

د رحمان تر قلم مشک و عنبر ووري
چې آغاز ئې کړو اشعار د تورو زلفو

حافظ سخن بگوی در صفحه جهان
این نقش ماند از قلمت یادگار عمر

حافظ شعر وایه چې دنیا کښې به ستا د قلم نقش پاتې وي.

د مرزا د ارزائی دعوی به پرې کا
قدردان د شاعرانو رحمان راغی

چه جائے گفته خاجو و شعر سلیمان ست
که شعر حافظ شیراز به ز شعر ظهیر

د خاجو او سلیمان د کلام څه ځاې دی د حافظ شعر د ظهیر نهٔ ښه دی.

چې کشور د افغانانو معطرکه
د هر بیت مصرعه مې زلفې د خوبان کړې

فگند زمزمه عشق در حجاز و عراق
نوائے بانگ غزلهائے حافظ شیراز

د حافظ شیرازي د غزلونو په حجاز او عراق کښې چرچې او غلغلې دی.

هیڅ کم نهٔ دی تر سپین مخ د دلبرانو
بلکه ښه دی زما شعر نمکین

ز نظم دلکش حافظ چکید آب حیات
چنانکه خوئ شده جانان چکان از آں عارض

د حافظ د دلکش نظم نه آب حیات داسې څاڅي لکه د خوله شوي یار د مخ نه خوله څاڅي.

د رحمان شعر به ولې نادر نهٔ وی
چې ثنا کاندي د تاغوندې نادرې

بیا بخوان غزل خوب و طرفه و پرسوز
که شعر تست فرح بخش و جانفزا حافظ

راشه پر در د عجیب او ښه غزل وایه حافظا ستا شعرونه فرح بخش او جان فزا دي.

دا څه شعر دی رحمان
چې هم ګنج دی هم هنر

معجز است این شعر یا سحر حلال
هاتف آورد این سخن یا جبرائیل

دا شعر معجزه ده یا حلال جادو دا کلام الهام دی که جبرئیل راوړو

چې منکر پرې اعتراض کولی نهٔ شي
دا دی شعر دې رحمان که اعجاز

کس نداند گفت شعرے زین نمط
کس نیارد سفت درے زیں قبیل

داسې شعر څوک نشي وئیلی نهٔ داسې موتی پیرلی شي.

هــر چــې وایم تــر همــه واړو بهتــر دی
زهٔ رحمـــان چـــې لـــه جانـــان وایم څـــه

پند حافظ بشنو خواجه برو نیکی کن
ز انکه این پند به از درّ و گهر می بینم

اے خواجه د حافظ نصیحت واوره او نیکي کوه دا نصیحت د لعلونو پیرلو نه ښه وینم.

زهٔ رحمـــان پـــه خپـــل اشـــعار شـــکرګـــزار یم
چـــې دا هســـې شـــان دیـــوان مـــې دی مونـــدلی

گر به کاشانه رندان قدمے خواهد زد
نقل شعر شکریں و مے بیغش دارم

که د فقیرانوکورته رالے نو خواږه شعرونه او خالص شراب شته.

چې رحمان غوندې خورسند نهٔ شي په نول کښې
خلاص بـه نـهٔ شي پـه هیڅ رنګ د زړه لـه نـول

حافظا چون غم و شادی جهان در گزرست
بهتر انست که من خاطر خود خوش دارم

حافظ د دنیا غم ښادي به تیر شي ښه نهٔ ده چې ځان خوشحاله اوساتم.

یـــوکتـــاب پـــه ســـړبن کښـــې چـــا اونـــهٔ کـــړو
بـــې رحمـــان چـــې یـــې اوکـــړو داکتـــاب

من و سفینه حافظ که جز درین دریا
بضاعت سخن در فشاں نمی بینم

زهٔ او د حافظ دیوان دی د دې دریاب نه بغیر د موتیانوکلام والا سرمایه نهٔ وینم.

پـــه طبیـــب د عاشـــقانو دارو نـــهٔ شـــي
درومـــه بلـــه خـــوا دارو د خپـــل زحمـــت کـــړه

حافظ از آب زندگی شعر تو داد شربتم
ترک طبیب کن بیا نسخه شعر من بخواں

حافظ ستا شعر د ژوند آب حیات راکه راځه طبیب پریده زماد شعرونو نسخه استعمال که.

هغه قند چې خدائی زما په خله کښې کیښود
حلوایـــانو ســـره نشـــته هســـې قنـــد

سخن اندر دهان دوست گوهر
و لیکن گفته حافظ ازین به

د دوست خوله کښې خبره موتی دی خو د حافظ تر ښه دی.

کـه ئـې شـعر د رحمـان مومنـد تـر غـوږ شـي
غـــوږ بـــه نـــهٔ باســـي پـــه شـــعر د خوشـــحال

چو سلک در خوشابست شعر نظم تو حافظ
که گاه لطف سبق می برد ز نظم نظامی

حافظ ستا د نظم شعرونه د موتیانو هار دی چې د لطف په وخت کښې د نظامي نه وړاندې شي.

یا به شهد یا به قند یا به نبات وي
هر کلام چې له رحمان شنیده شي

نه گفتے کس به شرینی چو حافظ شعر در عالم
اگر طوطی طبعش راز لعل او شکر بودے

د حافظ په شان خواږه شعرونه په عالم کښې څوک نۀ شي وئیلی که طبیعت ته ئې د سرو شونډو خواږه حاصل وي.

هم نغمې کاندې هم رقص کا هم خاندي
د رحمن په شعر ترک د باګرام

ز شعر حافظ شیراز میگویند و می رقصند
سیه چشمان کشمیری و ترکان سمرقندی

د کشمیر تور سترګي او د سمرقند ښکلي د حافظ شعرونه وائي او ګډیږي.

ستا د حسن د تعریف له برکته
د رحمن د شعر کوکي په عالم دي

حافظ حدیث سحر فریب خوشت رسید
تا حد چین و شام و باقصائے روم ورے

حافظ ستا سحرګری ښه خبرې رسیدلې تر چین شام، روم او رے پورې.

لکه ګرم دی بازار د درویشانو:

هسې ګرم بازار بل په جهان نشته
لکه ګرم دی بازار د درویشانو

په ظاهر صورت که ستا د درګدا دی
په معنی کښې د جمله ؤکد خدائی دی

دلق گدائے عشق را گنج بود در آستین
زود به سلطنت رسد هر که بود گدائے تو

د عشق د فقیرانو دخرقې په لستوڼي کښې خزانه ده ستا ګدا به زر سلطنت ته ورسي.

ستا د درګدایان واړه بادشاهان دي
خو چې ستا د در اووزي در په در شي

گدائے کوئے تو از هشت خلد مستغنی ست
اسیر بند تو از هر دو عالم آزاد ست

ستا د کوڅې ګدا د آته واړه جنتونو نه بې نیاز وي ستا په بند قیدي د دواړو عالمونو نه آزاد دی.

بادشاهي د ګدایانو په دعا شي
زۀ رحمان ځکه بادشاه یم چې ګدا شوم

بر در میکده رندان قلندر باشد
که ستانند و دهند افسر شاهنشاهی

د میخانے په دروازه باندې داسې ملنګان دي چې پادشاهي اخلي او ورکوي.

بې هاتیانو بې اوښانو بادشاهي کا
د زاړه پوزې ټوکرکې ئې قالین دی

مبین حقیر گدایان عشق را کاین قوم
شهان بی کمرو خسروان بی کلا اند

د عشق فقیراتو ته سپک مه ګوره دا بې تاج او بې کمر بند بادشاهان دي.

ذخیره د دنیا مهٔ کوه رحمانه
دا همه واړه د خاورو ذخیرې دي

بنده ئ پیر خراباتم که درویشان او
گنج را از بی نیازی خاک بر سر میکنند

د میخانې د پیر غلام یم چې د هغې فقیر د خزانې په سر خاورې اچوي.

لکه زهٔ چې ستا د در په خاورو خوښ یم
خوښ به نهٔ وي سلطان په سلطنت کښې

مرا گدائے تو بودن ز سلطنت خوشتر
که ذل جورو جفائے تو عزو جاه من ست

د سلطنت نه ستا په ګدائی خوښ یم چې د جورو جفا دا ذلت زما عزت او شان دی.

دعا د مسلمان وسله ده:

چې را کښلی مې پرې غشې د دعا ؤو
هغه نښه مې ونهٔ ویشته خطا شوه

همیشه تیر سحرگاه من خطا نشدے
کنوں چه شد که یکے کار گر نمی آید

د سحر غشي مې چرته خطا شوی نهٔ دی څه چل دی چې اوس په نښه یو نهٔ لګي.

له اول ټټر اووهم بیا آه کړم
په نارو نارو خروس د صبحګاه یم

من آں مرغ ام که هر شام و سحر گاه
رسد تا سدره آواز صفیرم

زهٔ هغه مرغی یم چې هر سحر ماښام مې د شپیلی آواز سدرة المنتهی ته رسي.

زما اوښکې چې دا هسې شت وشوکا
دا محنت واړه زما د مخ آبروکا

سوز دل اشک رواں آه سحر ناله شب
این همه از اثر لطف شما می بینم

د زړه سوز روان اوښکې د سحر آهونه او د شپې چغې دا ټول ستا مهرباني ده.

رنګ په رنګ ګلوته:

چې هر دم زندګاني بخښي و ماته
هر نسيم د يار له لورې مسيحا دی

ہوائے منزل یار آب زندگانی ماست
صبا بیار نسیم ز خاک شیرازم

د محبوبه دکور هوا زما آب حيات دی باد صبا د شيراز د خاورې هوا راوړه.

که يو ځل مې ستا زلفې په لاس کيوزي
يو ويښته به دې په درست جهان ور نۀ کړم

اگر آن ترک شیرازی بدست آرد دل مارا
بہ خال ہندوش بخشم سمرقند و بخارا را

که هغه شيرازي معشوق زما زړه اونيسي نو د هغه خائسته خال په عوض به سمرقند او بخارا ورته ورکړم.

درد بيرته جارو توشه راته پورې
په نصيب مې بله نۀ وه دا وه دا شوه

نیست امکان خلاص از غم او اے حافظ
چونکہ تقدیر چنین بود چہ تدبیر کنم

حافظ د هغه د غم نه د خلاصيدو امکان نشته - چې دا تقدير ؤو نو تدبير څه اوکم.

که دی غم د درست جهان له زړه چاپير شي
دلګير مۀ شه هسې وايه چې به تير شي

یوسف گم گشته باز آید بہ کنعان غم مخور
کلبہ احزاں شود روزے گلستان غم مخور

ورک شوی يوسف به يو ځل کنعان ته راشي غم مۀ کوه او د غمونو کوټه به يو ورځ ګلستان شي غم مۀ کوه.

که د غم د درست جهان تر زړه چاپير شي
دلګير مۀ شه هسې وايه چې به تير شي

صبر کن حافظ بہ سختی روز و شب
عاقبت روزے بیابی کام را

حافظ د شپې ورځ په سختئ صبر کوه آخر به يو ورځ کامياب شې.

په آزار د چا راضي مۀ شه رحمانه
که خلاصی په قيامت غوارې له عذابه

مباش در پئے آزار و ہر چہ خواہی کن
کہ در شریعت ما غیر ازین گناہے نیست

د چا آزار مۀ اخله نور چې څه کوې زما په شريعت کښې د دې نه بغير بله ګناه نشته.

هم هغه به آزار يږي په جهان کښې
هر چې بل آزاروي په دا جهان کښې

بادہ می نوش و میازار تو کس را حافظ
زانکہ آزردن مردم ہمگی عین خطا ست

حافظ شراب څښنه خو د چا آزار مهٔ اخله ځکه چې د بنیادمو آزار اصلي غلطي ده.

په هر غم کښې خاموش اوسه اوکه نهٔ وې
د بدخواه خاطر به ښاد دوست به آزار کړ

هنگام تنگ دستی در عیش کوش و مستی
که این کیمیائے هستی قارون کند گدا را

د تنگدستۍ په وخت کښې عیش او مستي کښې اوسه دا کیمیا د گدا نه قارون جوړوي.

هر منعم چې دل جوی د قلندر کا
هغه نهٔ دی قلندر قلندر دا دی

هزار نکته باریک تر زمو اینجا ست
نه هر که سر بتراشد قلندری داند

دلته هزار نکتې دي چې د ویښته نه نرۍ دي دا نهٔ چې سر ئې اوخریلو نو قلندر شو.

په شپه وینې د مظلوم خوري
صبا کینې په منبر

واعظاں کیں جلوه بر محراب و منبر میکنند
چون به خلوت می روند آه کار دیگر میکنند

واعظان چې په محراب او منبر ناست وي چې کله دننه شي بیا نور څه کوي.

په پیرئې کښې د ځوانۍ چارې نهٔ شي
تهٔ په ورځ د عاشورې به څه آختر کړې

دلا چو پیر شدی حسن و ناز کی مفروش
که این معامله با عالم شباب رود

زړگیه په بوډها والي کښې دحسن و ناز خبرې څه کی دا هر څه د ځوانۍ سره تیر شو.

په ورځ پند وائې و بل ته
په شپه ناست ئې د فغان په خرابات

حافظم در محفلے دردی کشم در مجلسے
بنگر این شوخی که چوں با خلق صحبت میکنم

محفل کښې حافظ یم مجلس کښې دُرد کش (شرابي) یم دې شوخي ته گوره خلقو سره څنگه گزران کوم.

دین ئې دام وي د دنیا په لار کښې ایښې
پرې را اړوي وحشیان د مخلوقاتو

حافظا می خور و رندی کن و خوش باش ولے
دام تزویر مکن چوں دگراں قرآن را

حافظ شراب څښنه رندي کوه خوشحاله اوسه خو د نورو په شان قرآن دمکارۍ دام مهٔ جوړه.

هر چې ځان د یار په سپیو کښې داخل که
ترو هله به ورته وایم چې سړی دی

شنیده ام که سگان را قلاد می بندی
چرا به گردن حافظ نمی کنی رسنے

اوریدلي مې چې د سپو غاړه کښې پټې اچوې د حافظ غاړه کښې رسۍ ولې نۀ اچوې.

د دعا په عوض غواړم دخپل یار د خولې دشنام
ترکنځلو به ئې ځارکړم دغه خپل دعا سلام

بدم گفتی و خرسندم عفاک الله نکو گفتی
جواب تلخ می زیبد لب لعل و شکر خارا

تا ماته بد اووے زۀ خوشحاله شوم ښه دې وکړو د داسې خوږو شونډو سره هم تریخ جواب ښائي.

خَتم شد

❖❖❖

مأخذونه

اصلاحي خطبات جلد ۱، ۲، ۳ حضرت مولانا محمد اشرف سلېماني، مرتبه پروفېسر ډاکټر محمد نعمان، اداره نشرو اشاعت علوم اسلامیه، محله جنګي پشاور.

اصلاحي اور تبلیغي بیانات جلد ۱، ۲، ۳ حضرت مولانا محمد اشرف سلېماني، مرتبه پروفېسر ډاکټر محمد سراج سواتي، الاحمدپرنټرز پشاور.

ارمغان سلېماني، حضرت سید سلېمان ندوي، مرتبه غلام محمد، کراچی.

انفاس عیسٰی جلد اول، دوم، حضرت اشرف علي تهانوي مرتبه پروفېسر مولانا سید محمد عیسٰی آله آبادي، سعید ایچ ایم کمپنی ادب منزل پاکستان چوك کراچي.

الابقاء رساله مواعظ حضرت مولانا اشرف علي تهانوي، ناشر محمد عبدالمنان مکتبه تهانوی، دفتر الابقاء مسافرخانه ایم اے – روډ کراچی.

حیاة الصحابه جلد اول، دوم، سوم حضرت جي مولانا محمد یوسف کاندهلوی، ناشر محمد عبدالرحیم تاجرکتب، اردو بازار لاهور.

دیوان عبدالرحمٰن، ۱۹۷۶- زېب آرټ پبلشرز محله جنګي، قصه خواني بازار پېښور.

دیوان حافظ شیرازی، مترجم: قاضي سجاد حسین مرکز

تحقیقات فارسی ایران و پاکستان موسسئه انتشارات اسلامی لاهور.

رحمان بابا نمبر امېل، جولائی، دسمبر ۲۰۱۴ء چیف ایډیټر شهاب عزیز ارمان، پښتو ادبي ټولنه، ریګي سیمه پېښور- قلم پښتو ادبي جرګه مُلازی پېښور.

رحمان بابا تاریخي، علمي، ادبي جائیزه، ۲۰۱۲ء، مصنف دوست محمد خان کامل مومند- مترجم یوسف مجذوب جذاب. دی پرنټ مین پرنټرز پشاور- ناشر ډاریکټریټ آف کلچر حکومت خېبر پښتونخوا.

سیرت النبی جلد اول تا هفتم، تالیف، حضرت سید سلېمان ندوی مطبع معارف دارالمصنفین اعظم ګړ انډیا.

سلوك سلېماني یا شاهراه معرفت، مرتب حضرت مولانا محمد اشرف سلېماني، سلېمان اکیډیمي، اشرف منزل نزد اسلامیه کالج پشاور.

شرح کلام جامی- حضرت مولانا عبدالرحمٰن جامي، ترجمه و تشریح، راجه طارق محمود نعماني و پروفېسر سید امیر کهوکهر بك کارنر جهلم پاکستان.

ګفتیه مجذوب، حضرت خواجه عزیزالحسن غوري مجذوب.

ترتیب و انتخاب، سوز شاه جهان پوري، ناشر خواجه فضل الحسن غوري، ایجوکېشنل پریس کراچی- ۱۳۰ بریټو روډ، کراچی.

ملفوظات وکمالات اشرفیه، مولانا اشرف علي تهانوی، ناشر محمد عبدالمنان مکتبه تهانوی، دفتر الابقاء، متصل مسافرخانه ایم اے جناح روډ، کراچی.

مثنوی مولوی معنوی جلد اول تا ششم، حضرت مولانا جلال الدین رومی، مترجم قاضی سجاد حسین الفیصل تاجران کتب غزنی سټریټ، اردو بازار، لاهور.

❖❖❖

مصنفین کی دیگر کتابیں

احسن القصص ---- منظوم (پشتو)	پروفیسر ڈاکٹر محمد سراج سواتی
پینځه بناء د اسلام۔ منظوم (پشتو)	پروفیسر ڈاکٹر محمد سراج سواتی
لطیفې (پشتو)	پروفیسر ڈاکٹر میر حاتم، پروفیسر ڈاکٹر محمد سراج سواتی
خوندناکې لطیفې او عبرتناکې قیصې (پشتو)	پروفیسر ڈاکٹر میر حاتم، پروفیسر ڈاکٹر محمد سراج سواتی
سوانح مولانا محمد اشرف سلیمانیؒ (اُردو)	پروفیسر ڈاکٹر میر حاتم، شیر حسن، پروفیسر ڈاکٹر محمد سراج سواتی
کلیات (پشتو)	پروفیسر ڈاکٹر محمد سراج سواتی
اصلاحی اور تبلیغی بیانات (اُردو)	پروفیسر ڈاکٹر محمد سراج سواتی
مکتوباتِ اشرف (اُردو)	پروفیسر ڈاکٹر محمد سراج سواتی، شیر حسن، پروفیسر ڈاکٹر میر حاتم
رونا (اُردو)	پروفیسر ڈاکٹر میر حاتم
کلمات وملفوظات (اُردو)	پروفیسر ڈاکٹر میر حاتم
رحمان بابا دخپل کلام په رڼا کښې	پروفیسر ڈاکٹر میر حاتم
زه عبدالرحمٰن یم	پروفیسر ڈاکٹر میر حاتم
ملفوظات رحمٰن بابا	پروفیسر ڈاکٹر میر حاتم
مشاہیر علماء وفضلاء کی تقاریر	پروفیسر ڈاکٹر محمد سراج سواتی

Al-ahmad
Enterprises
0345-9292470